# کچکول

دوهم ټوک

انتخاب، ټولونه او ترجمه

**تاند اندیش**

# کچکول

**لیکوال: ډاکټر وایل کریم**

مترجم: تاند اندیش

---

- ډیزاین: مترجم
- مخونه: ۲۰۹
- چاپ: لومړی
- د چاپ کال: ۲۰۲۶
- چاپ لړ: ۲

---

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د ژباړن سریزه

د تور تم په تیارو کې د سباوون را خپږوونکي خدای شکر ادا کوم، هغه ته د دغه توفیق را په برخه کولو له امله د منني سجده کوم، درود او سلام د انسانیت د سوله پیز کاروان پر رهبر چې د عربي بدوي متعصب دیني جهالت په متراکمو تیارو کې یې د بشریت شموله دیني ارزښتونو ډېوه بله کړه، د یهودیت او عیسویت د دینکاره دیني او مذهبي ټګمارانو اصلي څېره یې خلکو ته روښانه کړه او د قرآن په بڼه د الهي کلام د ساتنې له مخې یې په هره زمانه کې د دې دینکارانو د جعل څرګندولو یوه داسې نسخه بشریت ته په میراث پرېښوده چې هغې ته په مخ کولو هر وخت د مذهبي ټګمارانو اصلي مخ خلکو ته روښانه کېدلی شي.

زموږ په پښتنو کې مذهبي طبقې د خپلې سوداګرۍ او ګټې وټې لپاره دیني تفسیر انحصار کړی دی. خلک یې یرغمل کړي دي، پر افکارو یې بندیز لګولی، هر نوی فکر د غربي او پردۍ پدیدې په نوم رټل کېږي او هر زوړ فکر ته د تقدس تر جامه لاندې د خوندیتوب سندونه مهر کېږي او په دې توګه د خدای، دین او مذهب تر نامه لاندې ټولنه تیارو، وروسته پاتې والي، بې علمۍ او افراطیت ته ټېله کېږي.

ما دا لیکنې د دوکتور وائل کریم پر فیسبوک پاڼه موندلې. هغه په دې اړه یو کتاب لیکلی چې په (۲۰۲۴) کې چاپ شوی دی او په انلاین ډول هم خرڅېږي. ما دا کتاب نه دی لوستی، خو هغه د مقالو په اخیر کې کله ناکله خپل کتاب ته حواله ورکوي.

دا لیکنې د قراني تفسیر په اړه یوه نوې دریڅه پرانیزي، زموږ ټولنې ته یو نوی لېدلوری ورکوي، د دویزو ملایانو تفسیر نه دی، بلکې د علم او معرفت د نړۍ قوي شواهد یې له تفسیر سره ملګري دي، د

عربي ژبې ملاتړي دلایل ورته لري او د عقل و منطق په مټ داسې تفسیر کوي چې د نن عصر عقلي قالب ورته جوړ دی.

د دې لیکنو ترجمه کول په دې مانا نه دي، چې زه ورسره سل فیصده موافق یم، خو د بحث او څېړنو یو نوی باب دی، ما هم له دې امله ترجمه کړې دي، چې راځئ د زړو افکارو تقدس مات کړو، د پیروي پر ځای خپله یو څه وپنځوو او د فکر د تړلو پر ځای یې وزر ور خلاص کړو، خپله فکر وکړو. لکه دغه کسان چې همداسې کار کوي.

قراني متن د یوه روان سیند په شان دی، درول یې بشري ټولنې ته زیان لري، د هر وخت مفکرین به د هغه له متن څخه نوې ملغلرې راکاږي، که یوه ټولنه دغه کار نشي کولی، نو دا مطلب نلري چې ملغلرې یې په سیند کې نشته، بلکې هغه ټولنه داسې بصیرت نلري چې دغه ملغلرې د هغه په سیند کې ولیدلی شي. نو دا ترجمه د همدې فکر په رڼا کې شوې ده، ښایي زموږ په ټولنه کې ځینې کسان همدې کار ته وهڅوي، که یو کس هم د دې لپاره چمتو شي چې نوی فکر وکړي، نو زما د دې زحمت صله تر لاسه شوه.

یوه توصیه به لا درته وکړم. که هر څوک دا کتاب وایي، نو په دې نیت د کتاب لوست ته گونډه مه ماتوئ چې ستاسو د پخواني درسره فکر له مخې باید د هغه هره نوې خبره رد کړئ، بلکې د منطق او علم په میزان کې یې وتلئ، که سمه وخته، نو دا د مومن ورکه ده، خوشي کول یې نه دي پکار، باید درخپله یې کړئ، که د علم او منطق په تول پوره نه وه، بیا ور څخه تېرېږئ او ځای یې په هغه فکري تولید ډک کړئ چې سرچینه یې ستاسو خپل فکر او فهم وي.

الله دې وکړي چې خبرې مې اوږدې او خسته کوونکې نه وي. اوس نو راځئ دا کتاب را سره ولولئ، د یوه نوي تفسیر او نوي لیدلوري لوست ته مو هرکلی کوم!

اندیش

۷/۵/۲۰۲۶

## لړلیک


د ژباړن سریزه ........................................................................ ۳

سورة الإخلاص: د توحید له تکراره د توحید تر شعوره ........................ ۹

عبس او ښوونیز میتود ............................................................ ۱۱

په قرآن کریم کې "ذوي القربی" ................................................. ۱۴

د فرعون آل ........................................................................ ۱۷

سورة النصر ........................................................................ ۲۱

شیطان او د بېلارۍ (انحراف) انجنیري .......................................... ۲۳

سورة قریش ........................................................................ ۲۵

قرآن د بیړنیو قضاوتونو د کلتور په وړاندې ...................................... ۲۸

سورة الفلق ........................................................................ ۳۱

د دیني ترهګرۍ په وړاندې د قانون جوړونې (تشریع) تحصین ................... ۳۴

اسلام یو دیني قومیت نه، بلکې د ژوند یو منهج دی ............................. ۳۶

د (الجوار کالأعلام) تفسیر ......................................................... ۳۸

تقوی په قرآن کې .................................................................. ۴۱

په قرآن کریم کې "نارینه" (الذکر) او "ښځینه" (الأنثی)؛ د بیولوژیکي ډلبندۍ او ارزښتي دندې ترمنځ ۴٤

سورة الکوثر: د نیمګړتیا له غوټې (عقدې) څخه د پرېمانۍ تر شعوره ................ ۴۷

سورة التکویر: د ډیجیټلي تمدن د نړېدو په اړه قرآني وړاندوینه ................. ۵۱

شکر د یو وجودي قانون په توګه ................................................. ۵۵

العقبه (ستر خنډ): د ځانپالنې دېوال او تقوی ته د تېرېدو دروازه ........ ٥٩
قرآن کې د قدر شپه: د دریو سورتونو له لارې یو کوني جوړښت ........ ٦٢
په قرآن کریم کې عبادت: پر سمه لاره (صراط مستقیم) تګ ........ ٦٥
"د آدم د دوو زامنو خبر": یو تکراري ټکر، نه یوه پای ته رسېدلې کیسه ........ ٦٩
سورة الضحی ........ ٧٢
روژه په قرآن کې ........ ٧٥
په قرآن کریم کې د "صدر" (سینه) مفهوم ........ ٧٨
الله د اسمانونو او ځمکې نور دی ........ ٨١
کلکه کړۍ (العروة الوثقی): له طاغوته په انکار پیل کېږي ........ ٨٤
په قرآن کې فطرت: تر فقهې وړاندې د حق تله ........ ٨٧
روژه د انساني شهادت او کایناتي نظم ترمنځ ........ ٩١
روژه: د شعور انجنیري د قانون او ازادۍ ترمنځ ........ ٩٥
حج: له زمان څخه تر اشهار (ښکاره کولو) پورې ........ ٩٨
واقعي حج په قرآن کې ........ ١٠١
د سترګو له تهذیبه د ژبې تر تزکیې ........ ١٠٤
قرآن نه تفسیر کېږي... بلکې دی پوهه او تفسیر ور کوي ........ ١٠٧
هغه ذبح چې الله نه وه غوښتې ........ ١٠٩
په قرآن کې د خلقت کیسه ........ ١١٢
د مذاهبو عبادت نور بس دی! ........ ١١٥

له سجدې تر مبارزې ........................................................................................ ۱۱۸
په قرآن کې لمونځ د خلکو ترمنځ د اړیکو د تنظیموونکي قانون په توګه ........................ ۱۲۲
رسالت د یوې انساني دندې په توګه ......................................................................۱۲۶
د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» مانا ........................................................................ ۱۲۹
سپېڅلی جبر: د طاغوت تر ټولو خطرناکه بڼه .......................................................... ۱۳۲
ایا الله له انسان سره خبرې کړې دي؟ ................................................................... ۱۳۵
د قرآن عربیت د ژبې او مانا ترمنځ ....................................................................... ۱۳۸
په قرآن کریم کې د «کَتَبَ» فعل دلالت او د «کتاب» مفهوم .....................................۱۴۱
د مسیح د مفهوم په اړه یو تأمل ...........................................................................۱۴۵
په قرآن کریم کې د طلاق میکانیزم..........................................................................۱۴۸
زنا د قرآن له مخې ............................................................................................ ۱۵۳
د الله ذکر په الفاظو نه دی .................................................................................. ۱۵۵
په ټرونونو کې شاهدي ........................................................................................ ۱۵۸
لمونځ یو کائناتي فطرت ........................................................................................۱۶۱
په قرآن کې ربا (سود) ..........................................................................................۱۶۳
د الهي ارشاداتو په رڼا کې د رواني تکامل قوانین .......................................................۱۶۷
زوی‌ولي د قرآني نص او علمي پرمختګ ترمنځ ........................................................ ۱۷۰
د اوښتون (تحول) قانون ...................................................................................... ۱۷۵
خمر او قمار: د شعور لوېدل او د هڅې ځپل ............................................................ ۱۷۸

انسان – ټولنه – دولت ............................................................ ۱۸۱

په قرآن کې د نفس سطحې: له انفعال څخه تر شعوره ............................ ۱۸٤

له "الذین آمنوا" څخه تر "المؤمنین" پورې ...................................... ۱۸۸

د لمانځه دویم ډول؛ چې هغه "الصلوة الوسطی" دی ................................ ۱۹۲

تحریف شوی حدیث ................................................................. ۱۹٤

مشیت او اراده ...................................................................... ۱۹۸

د قرآن کریم له مخې د الله او الحاد ماهیت ......................................... ۲۰۲

یوازې د الله ذکر .................................................................... ۲۰٦

## سورة الإخلاص: د توحيد له تکراره د توحيد تر شعوره

سورت د الله تعالی په دې قول پیل کیږي:

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ○ اللَّهُ الصَّمَدُ ○ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ○ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾

دلته د "قل" (ووایه) کلمه یوازې د لفظونو د تکرار امر نه دی، بلکې دا یو امر دی چې انسان باید په خپل شعور، چلند او نړۍ لید کې د دې مانا شاهد وګرځي. یانې: په خپل شتون، خپل فهم، بې له ډاره او په دې باور سره ووایه چې د کایناتو سرچینه یوه ده، نه تعدد قبلوي او نه متناقضه ده.

نو "الله" داسې نوم نه دی چې بهرني تعریف ته اړتیا ولري. موږ شیان د "ال" په زیاتولو سره پېژنو، خو تعریف د "الله" د ستر روښانه لفظ د لفظي او معنوي حقیقت کې برخه ده؛ هغه په خپل ذات پېژندل شوی دی، په بل څه نه پېژندل کیږي او له بهر څخه پرې احاطه نه شي کېدای.

بیا د "أحد" کلمه راځي، نه "واحد". ځکه چې له "واحد" سره د دوه او درې تصور کېدای شي، مګر "أحد" هغه دی چې اصلاً د عدد په لړۍ کې نه داخلیږي، نه پرتله، نه وېش او نه مثل قبلوي. هغه یو مطلق وجود دی چې هیڅ شی د ده په څېر نشته.

خو د الله تعالی دا قول: "الله الصمد"؛ نو دلته "الصمد" د یو داسې مطلق او کلک بنسټ په توګه درک کېدای شي چې نه څیرل کیږي او نه یې ماهیت درک کېدای شي. نو الله د خپل ذات له اړخه د انساني شعور له پولو بهر دی، نه د دې له امله چې عقل له کاره لوېدلی، بلکې د دې له کبله چې عقل یو محدود مخلوق دی او نه شي کولای د مطلق خالق حقیقت ته ننوځي.

خو په مقابل کې، یوازې د الله "صمد" کېدل پدې مانا دي چې له هغه پرته بل هر څه پدې مطلق مفهوم سره "صمد" نه دي؛ یانې کاینات، سنن (قوانین)، پدیدې، ژوند، نفس او ټولنه، دا ټول د څېړنې، فهم او تدبر لپاره خلاصه ساحه ده. نو توحید عقل نه تړي، بلکې د هغه پر مخ ټول کاینات پرانیزي او یوازې د الله په ذات باندې د احاطې له ادعاء څخه یې منع کوي.

د الله په "صمدیت" کې بله لویه مانا هم شته: ډاډ (اطمینان). ځکه الله نه کومه مزاجي قوه ده او نه عبثه اراده، بلکې هغه د ثابتې لارې او نه بدلېدونکو قوانینو سرچینه ده. له همدې امله انسان کولای

شي په کايناتو ډاډه شي، پکې څېړنه وکړي، کار وکړي او باور ولري چې کاينات ګډوډي نه ده، بلکې په يو ټينګ الهي نظام ولاړ دي.

بيا دا ايت راځي: "لم يلد ولم يولد" (نه يې څوک زيږولي او نه له چا زيږېدلی)، ترڅو هر هغه انساني تصور غوڅ کړي چې پر الله بانډې د نسب، پيل او تداوم اړيکې تپي. نو الله نه له کوم مخکيني څخه رامنځته شوی او نه له ځان څخه وروسته د ځان په څېر څه توليدوي. دا ډاډ نور هم ژوروي: ځکه د قوانينو سرچينه يوه ده، نه يې مخکې کوم اصل شته چې ورسره شخړه وکړي او نه يې وروسته کوم تداوم شته چې ورسره سيالي وکړي.

او په پای کې: "ولم يکن له کفواً أحد". "کفء" په قدرت او مقام کې برابر سيال ته ويل کيږي. ياني هيڅ داسې ځواک، عقل، نظام او وجود نشته چې له الله سره برابر وي، يا ترې پورته شي، يا يې مطلق قوانين معطل کړي.

صمديت يوازې د الله لپاره دی او له هغه پرته نور هر څه نسبي دي، دا هغه څه دي چې عصري ساينس ورته رسېدلی چې هر هغه څه چې موږ په کايناتو کې د وخت او ځای له اړخه ثابت ګڼل، په حقيقت کې داسې نه دي بلکې نسبي دي او د نسبيت قانون ته تابع دي؛ هغه ځای (مکان) چې له کوچنيو ذراتو جوړ دی، په حقيقت کې د اټوم د هستې په شاوخوا کې د الکترونونو دوامداره حرکت دی او همدا مقناطيسي ساحه ده چې ماده جوړوي.

خو وخت (زمان) هم په خپل وار نسبي دی چې د حرکت د سرعت له مخې غځېدلی او لنډېدلی شي.

په دې توګه سورة الاخلاص يوازې د الله د يووالي اعلان نه دی، بلکې د يو بشپړ شعور بنسټ ايښودل دي:

دا چې الله په خپل ذات کې نه شي څېړل کيدای (نه درک کيدونکی دی)،

او دا چې کاينات د پوهېدو لپاره خلاص دي،

او دا چې قوانين عبث نه دي،

او دا چې انسان هغه وخت ډاډه کيږي کله چې پوه شي د شتون سرچينه يوه، ثابته ده، شريک نه لري او سيال نه لري.

دا د وهم څخه د عقل د ازادولو او له ويرې څخه د زړه د خلاصون سورت دی.

## عبس او ښوونيز ميتود

### کله چې تعليم د پوښتنې په وړاندې تندی تريو کړي

کله چې موږ د الله تعالی دا قول لولو:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ • أَن جَاءَهُ الْأَعْمَىٰ﴾

ښايي داسې وانګېرو چې دا خطاب يوې فردي يا يوې تېرې شوې پېښې پورې ځانګړی دی.

خو حقيقت دا دی چې دا ايتونه يو معکوس ښوونيز ميتود انځوروي چې موږ يې بايد په اړه محتاط واوسو:

هغه ميتود چې څوک پوهه نه لري، د ځان لوړ ګڼلو (استعلاء)، پر پوښتنه کونکي د ملنډو وهلو او د لارښوونې له مسؤليت څخه د شا اړولو (انسحاب) پر اساس ولاړ وي.

او دا ـ له بده مرغه ـ هغه څه دي چې زموږ د ټولنو ډېری تعليمي سيستمونه يې... بې له دې چې پوه شي، ترسره کوي.

### دوديز تعليم: د پوښتنې په وړاندې تندی تريو کول

موږ ـ او د وروسته پاتې ملتونو ډېر ماشومان ـ په داسې تعليم روزل شوي يو چې د فهم پر ځای د نقل، د نقد پر ځای د حفظ، د پلټنې پر ځای د تکرار او د نوښت پر ځای د پيروۍ (اتباع) سپېڅلتيا پالي.

په دې بېلګه کې:

* چوپتيا ته جايزه ورکول کيږي او پوښتنې ته سزا.

* د مطيع (منونکي) ستاينه کيږي او متفکر (فکر کونکی) شړل کيږي.

* زړو معلوماتو ته درناوی کيږي که څه هم ارزښت يې له لاسه ورکړی وي او پر نوي منطق ملنډې وهل کيږي، که څه هم رښتينی وي.

په دې توګه، تعليم په يو ډله ييز تريو تنديوالي بدليږي...

د هر هغه چا په وړاندې تندی تريو کول چې هڅه او هاند کوي.

**ړوند څوک دی؟**

﴿أَن جَاءَهُ الْأَعْمَىٰ﴾

دلته ړوند يوازې هغه څوك نه دی چې په سترګو نه ويني، بلکې دا د هر هغه چا نښه ده چې لا يې بصيرت نه وي خلاص شوی، خو راغلی دی چې هڅه وکړي، پوښتنه وکړي او د مانا په لټه کې وي.

په ښوونځي کې، دا ړوند هغه زده کوونکی چې پوښتنه کوي "ولې؟" نو رټل کيږي، يا هغه چې د کوښښ پر وخت تېروتنه کوي، نو سزا ورکول کيږي، يا هغه چې ژر نه پوهيږي نو څنډې ته کيږي.

او دا دقيقا هغه څه دي چې سورة عبس يې منع کوي.

او ته څه پوهېږې ښايي هغه پاکي غواړي!

د ښوونې او روزنې د پروسې په منځ کې، هيڅوك د زړونو او عقلونو په پايلو نه پوهيږي.

هغه څوك چې ته يې په پوهه کې "کمزوری" وينې، کېدای شي هغه تـر ټولـو زيـات پـاکوالي (تزکيې) ته نژدې وي که ته يې غېږ کې ونيسې.

او هغه څوك چې ته يې "کم عقل" ګڼې، کېدای شي د نبوغ داسې تخـم ولـري چـې لا نـه وي اوبه شوی.

خو هغه تعليم چې پوښتنه کونکی شړي، توپير لرونکی ګوښه کوي، هغـه يـو متکـبر تعلـيم دی چې هيڅوك نه پاکوي.

**حنيفيت: بديل ميتود**

حنيفيت ـ لکه څنګه چې د ابراهيم عليه السلام په کيسه کې ښکاري ـ داسې ميتود دی چې نه پر مراسمو ولاړ دی او نه پر تکرار، بلکې ولاړ دی پر:

* خپلواکه پلټنه
* زړوره پوښتنه
* بې له وېرې د لارې سمول
* د ميراثي مفکورو ردول که حق نه وي

او پدې سره دا له هغه تعليم سره چې پر حفظ او تلقين ولاړ وي، بشـپړ تـوپير لـري؛ ځکـه دا د داسې عقلانيت بنسټ ږدي چې پوښتنه کوي، بدلون راولي او وده کوي، نه دا چـې د ترلاسـه شـويو معلوماتو عبادت وکړي.

**د تريو تندي تعليم** = هغه ملتونه چې په خپله ماضي وياړي او له خپل اوسني حالته ډاريږي کله چې تعليم په "عبس وتولّی" (تندی يې تريو کړ او شا يې کړه) بدل شي، پايله يې دا کيږي:

۱. داسې ټولنې چې نوې پوهه نه توليدوي.

۲. هغه کلتورونه چې تېرو خلکو ته سپېڅلتيا ورکوي او له نقد څخه کرکه کوي.

۳. هغه نسلونه چې په ماضي سندرې وايي او ښه راتلونکی نه جوړوي.

۴. داسې بنسټونه چې د خلاقيت سرچينې وچوي او له بدلون څخه ډاريږي.

قرآني تربيه لکه څنگه چې "عبس" يې انځوروي:

* پوښتنه کونکي غېږ کې نيول، نه پر هغه ځان لوړ گڼل.

* هڅه کونکي ته نژدې کېدل، نه ترې مخ اړول.

* داسې روزنه چې د بصيرت پر خلاصولو ولاړه وي، نه د عقل پر وېرولو.

**پايله:**

عبس يوازې د يوې فردي بلنې په اړه سورت نه دی، بلکې دا يو ښوونيز منشور (مانيفست) دی.

* هر هغه ښوونځی چې سوال کوونکی شاگرد غېږ کې نه نيسي، تندی يې تريو کړی دی.

* هر هغه تعليمي بنسټ چې لټون ته تشويق نه کوي، شا يې گرځولې ده.

* هر هغه ښوونکی چې د پاتې راغلي زده کوونکي سپکاوی کوي، له پاکوالي (تزکيې) څخه يې مخ اړولی دی.

او نن ورځ "حنيفيت" يوازې د عقيدې ميتود نه دی، بلکې د تربيوي ميتود دی:

دوامداره سمون، همېشنی پوښتنه او د حق لور ته رښتينې هڅه.

## په قرآن کريم کې "ذوي القربی"

### له کورنۍ او نسبي قرابت څخه تر اضطراري نژدېوالي پورې

**سريزه**

په دوديزو تفسيرونو کې د "ذوي القربی" اصطلاح د نسبي او کورني قرابت په تنګې مانا کې بنده پاتې شوې ده. نو مفهوم يې يوازې تر "خپلوانو" پورې محدود شوی، که هغه د رحم له لوري وي او که د نسب.

خو، کله چې د هغو مبارکو ايتونو بيا تلاوت او تدبر وکړو چې د "ذي القربی" يا "ذوي القربی" کلمه پکې راغلې، د يو تشخيصي او وظيفوي ميتود له مخې مو ر ته څرګنديږي چې د دې کلمې مفهوم خامخا د هغې ډلې په مانا نه دی چې له کورنۍ يا نسب سره تړاو لري.

* "فَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ذَلِكَ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللهِ" (الروم – ٣٨)

* "وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيراً" (الإسراء - ٢٦)

مو ږ د دې دوو مبارکو ايتونو له سياق څخه وينو – او پوهيږو – چې "ذي القربی" هغه څوک دی چې په داسې پړاو کې دي چې نازک او کمزوری حالت لري. له هغو سره احسان کول نېک اعمل ګڼل کيږي. نو څوک په غوښه او انحصاري توګه دا ويلی شي چې په قرآن کريم کې د "ذي القربی" کلمه يوازې د کورنۍ نژدې غړي دي، چې بيا ستا هغه ډالۍ چې خپل بلهايه ورور يا د بلهايه خور زوی ته يې ورکوي، يو داسې صالح عمل وګرځي چې د الله رضا پکې لټول کيږي! ځکه ايتونو يوازې "فقير ذي القربی" نه دی مشخص کړی.

د "ذا القربی" کلمه – د "الأقارب" يا "الأقربين" د کلمو خلاف – هر هغه څوک شاملوي چې د خپلې عجزۍ يا د بشپړې خپلواکۍ د نشتوالي له امله نورو ته نژدېوالی ورباندې فرض شوی وي. په دې ـ سياق کې ـ د ځانګړو اړتياوو لرونکو (معلولينو) او د هغو کسانو په مانا ده چې په جبري توګه پر نورو تکيه وي.

## د "ذو القربی" کلمې ژبنی تحلیل

په ژبه کې "ذو" د اشارې توری دی او دا یو له پنځه ګونو اسماؤ (الأسماء الخمسة) څخه هم دی چې د "خاوند/صاحب" مانا ورکوي. دا (له "القربی" سره) یو موصول اسم هم دی. "القربی" له "قَرُبَ" او "اقترب" څخه اخیستل شوی چې مصدر یې "الاقتراب" (نژدې کېدل) دی. په عربي ژبه کې "الاقتراب" یوازې په کورني، زماني یا مکاني نژدېوالي پورې محدود نه دی، بلکې کېدای شي "اضطراري نژدېوالی" هم پکې شامل وي، چې د اړتیا یا پر بل چا د تکیه کولو له امله رامنځته کیږي.

په عربي استعمال کې، "قرب" (نژدېوالی) کېدای شي اختیاري وي، لکه د خپلوۍ او مینې اړیکه؛ یا کېدای شي اضطراري وي، د عجز یا د خپلواکۍ د ورتیا د له لاسه ورکولو له امله.

په همدې وجه، "ذوي القربی" له ژبني پلوه داسې تفسیر کېدای شي چې دوی د اړتیا له مخې نژدې کسان دي (یانې د ځانګړو اړتیاوو لرونکي)، نه یوازې د نسب او کورنۍ له مخې.

## د "ذوي القربی" کلمې قرآني سیاق

کله چې موږ په قرآن کریم کې د "ذوي القربی" کلمې د راتلو ځایونه تعقیبوو، وینو چې دا تل له نازکو او محتاجو ډلو سره یوځای ذکر شوې، لکه یتیمان، مسکینان او د لارې مسافر (ابن السبیل)؛ همدارنګه په مالي او تشریعي سیاقونو کې لکه د فيء، صدقاتو او انفاق په ایتونو کې. دا ېلګه موږ ته دا الهام راکوي چې "ذوي القربی" هغه ډله ده چې د پالنې او ملاتړ مستحقه ده، کټ مټ د هغو ډلو په څېر چې اقتصادي خپلواکي نه لري.

## تشریعي دلالت

د سورة الحشر په دې مبارك ایت: "**ما أفاء الله على رسوله من أهل القرى فلله وللرّسول ولذي القربى واليتامى والمساكين**" (الحشر: ۷) کې موږ ګورو چې "ذوي القربی" ته د یتیمانو او مسکینانو په څېر ثابته مالي برخه ورکړل شوې ده. دا له دې فکر سره سمون نه خوري چې مقصد ترې یوازې نسبي خپلوان وي، ځکه هر خپل محتاج نه وي. په داسې حال کې چې وظیفوي مانا له تشریع سره سمون خوري او هغه عادلانه کوي.

## ټولنیز او اقتصادي اړخ

د دې پوهاوي له مخې، کوم چې ما په قرآن کریم کې د هغو کمزورو ډلو په سیاق کې چې زموږ د احسان او د دولت و ټولنې له لوري د ثابت عاید مستحق دي، د "ذوي القربی" د مفهوم لپاره د یو منطقي اضافي په توګه وړاندې کړی، "ذوي القربی" دا دي:

* جسمي يا عقلي معلوليت لرونكي.
* هغه مزمن ناروغان چې د خپل ژوند د چارو سمبالولو وړتيا نه لري.
* هغه سپين ږيري او زاړه کسان چې په خپل معيشت کې خپلواک نه دي.
* هر هغه څوک چې د عجز شرايط يې اړ باسي چې د نورو د پالنې په دايره کې پاتې شي.

"ذوي القربی" په ډېرو مبارکو ايتونو کې د هغې اړمنې ډلې په مانا راغلي چې پر نورو تکيه کولو ته مجبوره وي، دايمي مالي او تشريعي برخه لري. پدې سره قرآني نصوص د ټولنيزې خونديتوب او بيارغونې يو روښانه سيستم گرځي او د ټولنې له سرچينو څخه د دې ډلو لپاره يوه ځانگړې برخه تضمينوي.

**پايله**

د "ذوي القربی" بيا ځلي فهم او تفسير د هغو کسانو په توگه چې په جبري توگه پر نورو تکيه وي يا ځانگړو اړتياوو ته محتاج وي، قرآني نص ډېر هراړخيز او عادلانه کوي، د کمزورو د پالنې او د هغو د حقونو د تضمين په اړه له رباني ميتود سره په مالي او ټولنيز نظام کې سمون خوري.

همدارنگه دا تفسير د هغې عقلي او تشريعي ستونزې مخنيوی کوي چې په دوديز فهم کې رامنځته کيږي، څکه دوی د "ذوي القربی" او نسبي "الأقربون" ترمنځ مساوات راولي؛ په داسې حال کې چې که داسې وای، نو د فیء ايت به واکمنو ته نژدې کسانو يا د رسول (ص) خپلوانو ته (يانې هغو ته چې د منابعو د وېش مسؤليت لري لکه څنگه چې مې په بله مقاله کې تفصيل ورکړی)، له عامه مال څخه يو ثابت مالي امتياز ورکولای او دا د قرآن له عادلانه اصل او د ايت له پای "كَيۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ مِنكُمۡۚ" سره په ټکر کې دی.

له همدې امله څرگنديږي چې "ذوي القربی" په وظيفوي او ټولنيزه مانا، د پالنې او اقتصادي خونديتوب مستحقه ډله ده، نه يوازې د خپلوۍ او نسب دايره. دلته قرآني نص د عدل او مساوات اصل پياوړی کوي او په عامه مال کې د انحصار و طبقاتي تبعيض مخه نيسي.

## د فرعون آل

### نوی کېدونکی طغیان او د نړۍ او اخرت ترمنځ غځېدلی عذاب

د الله تعالی د دې قول تدبري لوستنه:

﴿فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُوا۟ ۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ * ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗا ۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾

(غافر: ۴۵-۴۶)

**سریزه: د موروثي لوستنې او وجودي تدبر ترمنځ**

د سورة غافر دې دوو ایتونو د تفسیري بحثونو یو اصلي محور جوړ کړی دی، چېرته چې په دودیز ډول پرې د "قبر عذاب" د پېژندل شوي مفهوم لپاره ورنه استدلال شوی. خو د نص ژبنۍ جوړښت ته بیا کتنه او د هغه د داخلي سیاق (Context) حاضرول، د دې دوو ایتونو د پوهېدو لپاره یو پراخ افق پرانیزي؛ په دې توګه چې دا دواړه ایتونه د یو غځېدلي وجودي قانون د ځرګندولو په توګه وګڼل شي، چې یوازې په یوې ځانګړې مرحلې پورې محدود نه دي، بلکې د وخت په اوږدو کې د طغیان او عذاب د ملتیا ځرګندونه کوي.

قرآن دلته یوازې یوه جلا شوې غیبي صحنه نه وړاندې کوي، بلکې یو رواني کوني سنت (قانون) راسپړي، هغه دا چې ظلم یوازې خپلې جزا ته نه منتظر کیږي، بلکې اغېز یې د نفس له دننه څخه پیلیږي، پورته ځي، ترڅو د قیامت په ورځ خپل کمال (بشپړتیا) ته ورسیږي.

**لومړی: د "حاق" دلالت او د چاپېر شوي عذاب جوړښت**

د الله تعالی قول دی:

﴿وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ﴾

په عربي ژبه کې "حاق" فعل د احاطې او لازموالي (ملتیا) مانا ورکوي؛ یانې دا چې عذاب کوم ناڅاپي یا ځنډول شوی امر نه و، بلکې یو ملګری حالت وګرځېد چې د فرعون آل یې راچاپېر کړ.

دا تعبیر د عذاب د پوهېدو لپاره داسې لاره پرانیزي چې عـذاب یـوازې یـوه بهرنـۍ سـزا نـه ده، بلکې یو هراړخیز وجودي حالت دی چې انسان له دننه او بهر څخه راګیروي.

**دویم: "النار یُعرضون علیها" — د وړاندې کېدلو او ننواتي ترمنځ**

نص په دقیق ډول د دوو مرحلو ترمنځ توپیر کوي:

* پر اور وړاندې کېدل:

﴿ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا﴾

* اور ته ننوتل:

﴿أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾

دا توپیر یوازې ژبنی نه دی، بلکې وجودي دی:

* وړاندې کېدل (العرض): درک کول، مخامخ کېدل، ښکاره کېدل.

* ننوتل (الدخول): د عذاب بشپړ تحقق.

پدې سره "وړاندې کېدل" یوه مخکېنۍ یا موازي مرحله ګرځي، چې پکې انسان خپل برخلیک ویني بې له دې چې لا پکې ورک (فنا) شي.

**دریم: "غدوًّا وعشیًّا" او د عذاب وقوع**

﴿غُدُوّٗا وَعَشِيّٗا﴾

دا جمله یو منظم تکرار ته اشاره کوي چې دوه دلالتونه لري:

۱. یو تکراري زماني وقوع (سهار/ماښام).

۲. یا یو دوراني ادراکي ایقاع (د عذاب په اړه د شعور نوي کېدل).

او دا لازمه نه ده چې یوازې په یوې ځانګړې زماني پورې محدود شي، بلکې د قیامت د ساعت تر رارسېدو وړاندې د عذاب د استمرار د نښې په توګه درک کېدای شي.

**څلورم: د فرعون آل د طغیان د یوې نوي کېدونکې بېلګې په توګه**

د "آل فرعون" مفهوم یوازې په یوې تاریخي ډلې پورې محدود نـه دی، بلکـې لـه هغې اوړي ترڅو په انساني شعور کې د یو تکراري جوړښت څرګندونه وکړي.

قرآن فرعون د طغیان د یوې بېلګې په توګه وړاندې کوي:

﴿فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ﴾ (النازعات: ۲۴)

﴿مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي﴾ (القصص: ۳۸)

دا صفتونه په يوې زمانې پورې اړه نه لري، بلکې په هر هغه چا کې تکرارېږي چې:

* حقيقت انحصاروي.
* خپل ځان ته الهي بڼه ورکوي (خپل ذات پالي).
* نفي کول (ايستل) او برتري غوښتنه (استعلاء) کوي.

بنا پر دې، "آل فرعون" هغه دي:

هر هغه څوک چې د ارزښتونو دغې بېلګې ته خپل نسبت کوي، نه يوازې هغه تاريخي نسب ته نسبت.

**پنځم: عذاب د يو رواني وجودي حالت په توګه**

د دې دوو ايتونو له ترکيب څخه، د عذاب يوه ژوره کچه استنباط کېدای شي:

* عذاب يوازې راتلونکی اور نه دی.
* بلکې د يوې "داخلي سوځېدنې" په توګه پيلېږي.

نو طاغی (ظالم) پدې حالتونو کې ژوند کوي:

* تلپاتې اندېښنه (قلق).
* د افشا کېدلو وېره.
* د خپل ښکاره ځواک او باطني کمزورۍ ترمنځ کړکېچ.

او همدا "پر اور وړاندې کېدل" دي.

يانې دا چې انسان:

* خپل برخليک ويني.
* احساس يې کوي.
* خو انکار ترې کوي او مقابله ورسره کوي.

نو د دې دواړو ترمنځ په يو دوامداره جنګ کې ژوند کوي:

* د حقيقت درک کول.
* او له هغه څخه تېښته.

**شپږم: د قانون بشپړتيا د قيامت په ورځ**

ايت په وضاحت سره پای ته رسيږي:

﴿وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾

دلته هر څه بدلیږي:

* ادراک ← په واقعیت بدلیږي.
* وړاندې کېدل ← په ننواتي بدلیږي.
* وسوسه او وېره ← په حقیقت بدلیږي.

پدې سره قانون بشپړیږي:

هغه څه چې لیدل کېدل او ترې وېره وه، په هغه څه بدلیږي چې پکې ژوند کیږي او تېرول کیږي (کړاو ګالل کیږي).

**پایله:**

طغیان خپل عذاب په خپل ځان کې دننه لیږدوي.

دا ایتونه پخپل وجود کې له یوه ژور سنت څخه پرده پورته کوي، هغه دا چې عذاب یوازې یوه ځنډول شوې پېښه نه ده، بلکې دا یو مسیر دی چې له کږېدو (انحراف) سره یوځای پیلیږي.

کله چې انسان له ارزښتونو څخه جلا کیږي:

* اور ته نه منتظر کیږي.
* بلکې په خپل دننه کې یې احساسول پیلوي.

د فرعون آل یوازې په اخرت کې اور ته نه وړاندې کیږي، بلکې هره ورځ په خپل شعور کې، په یوې نه مړه کېدونکې اندېښنې او نه ارامېدونکې وېرې کې، ورته وړاندې کیږي، څو چې قیامت شي، نو هغه څه چې دوی لیدل... داسې به شي چې دوی به پکې ژوند کوي.

دا د قرآني نص یوه تدبري لوستنه ده، چې د سموالي او خطا احتمال لري، او الله ښه پوهیږي.

## سورة النصر

### تر بریا وروسته اخلاق او د بریا له غرور سره مبارزه

تر فتحې وروسته د بیا کتنې او ارزونې په منهج کې یو تدبري قراءت.

سورة النصر په خپلو الفاظو کې یو له لنډو، خو په میتودولوژیک جوړښت کې یو له ژورو سورتونو څخه دی؛ تر دې چې په لومړي نظر کې داسې ښکاري چې دا یوازې د یوې تاریخي لاسته راوړنې د لمانځلو سورت دی. خو د دې سورت په نظم کې دقیق تدبر دا روښانه کوي چې دا یوازې د یوې تېرېدونکې بریا اعلان نه دی، بلکې یو اخلاقي سند دی چې د "بریا د اوج" په شېبه کې د چلند لاره ټاکي؛ هغه حساسه شېبه چې پکې ډېری کسان، ډلې او دولتونه ښوېدلي دي.

الله تعالی فرمایي:

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ○ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ○ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾

په دې سورت کې د حیرانتیا خبره دا ده چې بریا د لارې پای نه بولي، بلکې تر بریا وروسته شېبه د حقیقي ازموینې وخت ګڼي. کله چې فتحه بشپړه شي، ظاهري موخه ترلاسه شي او خلک د یوې پروژې په شاوخوا کې راټول شي، نو دلته د ویاړ کولو، د لوړتیا ښودلو او د ځان ستاینې امر نه راځي، بلکې مستقیم د تسبیح، حمد او استغفار امر کیږي.

دلته د سورت فلسفه راڅرګندیږي: بریا د "ځان‌پړسولو" (Ego) لپاره پلمه نه ده، بلکې د بیا کتنې او محاسبې د دوه برابره کولو لامل دی.

په دې متن کې "تسبیح" یوازې یو عبادتي ذکر نه دی، بلکې د شعور پاکول دي ترڅو لاسته راوړنه یوازې خپل ځان ته منسوبه نه کړي؛ دا له هغو ارزښتونو او الهي سنتونو سره د فتحې بیرته تړاو دی چې د دغې بریا لامل شوي. "حمد" دا اعتراف دی چې بریا د یو فرد کار نه و، بلکې د یو لړ اسبابو، هڅو او توفیق پایله وه. خو "استغفار" بیا د یوې څرګندې تېروتنې له توبې څخه هم ژور مفهوم لري؛ دا د هغو پټو نیمګړتیاوو بیاکتنه ده چې خپله د بریا په لومړیو کې رامنځته کیږي.

انسان د ماتې په وخت کې ځان پوهونې او محاسبې ته نژدې وي، خو د بریا په شېبه کې بیا د شعور په افتونو لکه: غرور، برتري غوښتنه، د معصومیت احساس، د نقد نه منل او د یوې بریالۍ تجربې په یو "مقدس ماډل" بدلولو باندې اخته کیږي چې بیا یې څوک د ارزونې حق نه لري. له همدې ځایه د سورة النصر لوړوالی څرګندیږي، ځکه چې تر فتحې وروسته لومړنی فرض د بریا له زهرو څخه د نفس پاکول بولي.

د انسان تاریخ، که زوړ دی که نوی، د دغه قرآني قانون بې شمیره مثالونه وړاندې کوي. څومره دولتونه چې د ماتې په وخت کې نه، بلکې تر بریا وروسته هغه مهال ونړېدل چې قدرت یې په غرور بدل شو. څومره فکري یا اقتصادي پروژې چې د بریا اوج ته ورسېدې او بیا راوغورځېدې، ځکه دوی خپله لاسته راوړنه د خپل حقانیت ابدي سند وباله. حتی ډېر مشران او اشخاص د ننګونو (چیلنجونو) لخوا مات نه شول، بلکې له ننګونو تر تیریدو وروسته د ځان ستاینې او "ځان‌مننې" لخوا مات شول.

له همدې امله، دا سورت تر بریا وروسته د مدیریت د یو "قانون" په توګه باید وفهموو، که هغه په سیاست کې وي، که په اقتصاد، فکر او یا هم انساني اړیکو کې. دا سورت یو زرین اصل وړاندې کوي: "څومره چې ستا په شاوخوا کې چکچکې او ستاینې زیاتیږي، هومره باید ستا پر خپل ځان نیوکه هم زیاته شي."

له همدې امله سورت د الله تعالی په مبارك نوم "تواب" (توبه قبلوونکی) پای ته رسیدلی، چې دا یو اشاره ده چې حقیقي بریا یوازې د بهرنۍ نړۍ په فتحه کولو کې نه ده، بلکې په دې کې ده چې ستا داخل (زړه او شعور) تل بیا کتنې، توبې او د مسیر سمون ته خلاص وي.

د سورة النصر معاصره لوستنه دا څرګندوي چې دا سورت د انسان شعور د بریا له تر ټولو خطرناکې ناروغۍ څخه ساتي چې هغه "د بشپړتیا وهم" (Illusion of Completeness) دی. هغه انسان چې فکر کوي وروستۍ بریا یې د هغه د کمال دلیل دی، په حقیقت کې له هماغه ځایه یې د زوال پیل کیږي چیرته چې یې د اوج فکر کاوه.

بنا پر دې، تر ټولو ستر درس چې دا سورت یې موږ ته راکوي دا دی: هغه بریا چې "عجز" او "بیا کتنه" تولید نه کړي، په ځان کې دننه د خپل پاشل کېدو تخمونه کري.

دا د دغه نص په اړه زما عاجزانه تدبر دی، څو تر فتحې وروسته د شعور د مدیریت د یو دایمي میتود په توګه وپېژندل شي. والله أعلم.

**د الله تعالی په دې قول کې یو تدبري لوست: ﴿ولأضلنهم ولأمنينهم...﴾**

**﴿وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَن يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِّن دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا﴾** (النساء: ۱۱۹)

دا مبارك ایت یوه دقیقه قرآني نقشه وړاندې کوي چې د شیطان د کار طریقه افشا کوي؛ شیطان د یوې داسې تدریجي پروژې په توګه کار کوي چې هدف یې انسان او د هغه شعور ته نوې بڼه ورکول دي. شیطان خپله کار له جرم څخه نه پیلوي، بلکې لومړی د لیدلوري له ګډوډولو، د ارادې له فلجولو او د شعور د وسیلو له خاموشه کولو پیل کوي، ترڅو انسان دې مرحلې ته ورسوي چې په خپل فطرت لوبې وکړي.

**لومړی: بېلاري (اضلال) او د قبلې ورکول**

دا لړۍ د الله تعالی په دې وینا پیل کیږي: ﴿ولأضلنهم﴾. الضلال دلته یوازې یوه جزوي تېروتنه نه ده، بلکې د ژوند د وجودي قبلې له لاسه ورکول دي؛ یانې د هغه هدف ورکیدل چې د انسان ژوند ته نظم ورکوي. کله چې انسان بېلاري شي، د خیر او شر معیارونه ورته ګډوډیږي او له خپل فطرت څخه جلا کیږي. د شیطان لومړی ګام دا دی چې انسان ډېر مزل وکړي خو هیڅ هدف ته ونه رسیږي.

**دویم: د هڅې پر ځای هیلې**

د لارې ورکولو وروسته، بله مرحله راځي: ﴿ولأمنينهم﴾. دلته "تمنی" یو مشروع امید نه دی، بلکې د عمل په ځای د "وهم" ایښودل دي. انسان په خیالي هوسا هیلو کې ژوند پیلوي: پرته له چمتووالي بریا، پرته له قربانۍ بدلون، او پرته له زحمته پایله. دا د انسان اراده بې‌حسه کوي، خو د ډاډ وهم ورته ژوندی ساتي.

**دريم: انحرافي منهج ته مريبتوب**

بيا الله تعالى فرمايي: ﴿ولآمرنهم﴾. دلته انحراف په يو کلتور، ميراث، قدرت او رونډ اطاعت بدليږي. کله چې ظلم توجيه شي، يا عقل لغوه شي او د دود په نوم د حق مخه ونيول شي، نو دا په حقيقت کې په مقدس لباس کې د انحراف غلامي ده.

**څلورم: ﴿فليبتكن آذان الأنعام﴾... د شعور د غوږونو بندول**

دا د ايت تر ټولو له ژورو مرحلو څخه ده. دا د هغو غوږونو بندول دي چې د "کشف او تحقيق" لپاره پيدا شوي. د دې مانا دا ده چې شيطان د شعور او تدبر لارې بندوي. يانې د پوښتنې غږ، د نقد اواز او د فطرت صدا خاموشه کوي. دلته انسان له يو هڅاند موجود څخه په يو داسې "شخوند وهونکي" موجود بدليږي چې يوازې زاړه افکار بيا بيا ژويي او د پلټنې وړتيا له لاسه ورکوي.

**پنځم: د الله په خلقت کې تغيير او له فطرت سره لوبې**

دا لړۍ په دې قول خپل اوج ته رسيږي: ﴿فليغيرن خلق الله﴾. دا بدلون يوازې په ظاهري بڼه کې نه دی، بلکې د انسان فطري او ارزښتي جوړښت پکې شامل دی. د دې بڼې دا دي: ظلم منل، د عقل وظيفه فلجول، د پوښتنې روح وژل او له فطري هويت سره لوبې کول.

**پايله**

دا ايت روښانه کوي چې شيطان د بېلارۍ لپاره په يوه دقيقه انجنيري کار کوي: د قبلې ورکول، د هڅې په ځای وهم، منحرف منهج ته غاړه ايښودل، د شعور خاموشه کول او په پای کې د فطرت بدلول. دا يوه پروژه ده ترڅو انسان له يو ازاد موجود څخه په يو داسې موجود بدل کړي چې يوازې په وهم کې ژوند کوي. خو الهي منهج انسان بيرته فطرت، پوښتنې او د ظلم په وړاندې مقاومت ته راګرځوي.

دا يو معاصر تدبري لوست و، او الله د خپل مراد په اړه ښه پوهيږي.

## سورة قريش

### د بدلونونو په زمانه کې د بقا د منهج په توګه د "تحالف" (ایتلاف) جوړول

"لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ○ إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ○ فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ○ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ○".

په څلورو لنډو ایتونو کې، سورة قریش موږ ته د تمدني بقا د جوړښت لپاره یوه فکري نقشه رسموي. دا سورت د اقتصادي تحالفونو او وجودي امنیت ترمنځ د اړیکې، او د اخلاقي مرجع په توګه د عبادت د رول په اړه یو قرآني موډل وړاندې کوي. دا سورت یوازې د یوې ځانګړې قبیلې یادونه نه ده، بلکې په یو بدلیدونکي نړۍ کې د ګټو د تنظیم او تحالفاتو د منطق په اړه یو معاصر بیان دی.

**قریش: له قبیلې څخه تر اقتصادي بلاکه**

لکه څنګه چې ژبپوهنه روښانه کوي، د "قریش"کلمه له "قَرَشَ" څخه اخیستل شوې ده. په معجم الوسیط کې راغلي: **قَرَشَ الشَّيءَ قَرْشًا**؛ یانې یو شی یې ټول کړ او برخې یې یو له بل سره یوځای کړې). قریش په دې مبارک ایت کې یوازې د یوې قبیلې په مانا نه ده، بلکې یو اقتصادي او تحالفي واحد دی چې د کعبې په شاوخوا کې د بېلابېلو خېلونو له یوځای کېدو څخه رامنځته شوی و. دا یوځای کېدل یوازې د نسل په اساس نه، بلکې د ګډو سوداګریزو ګټو او د بیت الله د خدمت په اساس وو. په نني عصر کې "قریش" له یو اقتصادي اتحاد (لکه اروپایي ټولنه) یا یو ستر سوداګریز مرکز (لکه دوبۍ او سنګاپور) سره تشبیه کیدی شي، چې بنسټ یې پر عقل او ګټو دی، نه پر قبیلوي تعصب.

**ایلاف: یوازې عادت نه، بلکې فعال تحالف دی**

په ایت کې د "ایلاف"کلمه د امنیت او خوړو ترمنځ د تړون په مانا ده:

* "...**أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ**...": د خوراکي توکو د پیر او پلور سوداګریزو تړونونو ته اشاره ده.

* "...ءَامَنَهُم مِّن خَوفٍ": هغو امنيتي تحالفونو ته اشاره ده چې د ثبات او سولې ساتنه کوي.

ايلاف دلته يوازې يو بې مانا عادت نه دی، بلکې يو اغېزناک تحالف دی چې قريش يې د سيمه ييزو ګډوډيو له خطر څخه وژغورل. دا سورت د نړۍوال سياست پر داسې معادله ګوته ږدي چې وايي: پرته له اقتصادي او سياسي امنيت څخه ثبات نشته، امنيت پرته له ګټورې اړيکې او شبکې څخه نه رامنځته کېږي.

### د ژمي او اوړي سفر: تمدني ننګونې

قرآن کريم د "رحلتي" (دوه سفرونه) په ځای د "رِحلة" (يو سفر) کلمه کارولې ده. دا په ډاګه کوي چې دا د يو داسې مسير خبره کوي چې له دوو متضادو حالتونو تيرېږي:

* "ژمی": د رکود، کمښت او ګډوډۍ حالت.

* "اوړی": د پراخۍ، غنامندۍ او شديدې سيالۍ دوره.

دا سورت موږ ته د يو ستراتيژيک توازن جوړول راښيي چې څنګه يو تمدن د دغو دوو حالتو په وړاندې پرته له نړېدو مقاومت وکړي. دا د تمدني شتون هغه سفر دی چيرته چې جغرافيه له تاريخ او اقتصاد له تحالف سره يوځای کېږي.

### عبادت: يو تمدني پروژه، نه يوازې تکراري مراسم

دا چې سورت په "لإِيلاف قريش" پيل شوی خو د فاعل نوم يې نه دی ياد کړی، دا ښيي چې دا ايلاف يوازې د قريشو خپله هڅه نه وه، بلکې يو رباني توفيق و. ځواب په دريم ايت کې راځي: "فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ". ياني که ايلاف يوه الهي ډالۍ ده، نو عبادت يې طبيعي ځواب دی. عبادت دلته د اقتصادي بريا په اخلاقي شعور بدلول دي. تحالفونه که هر څومره لوی وي، که د توحيد او عدالت په ارزښتونو کنټرول نه شي، ډېر ژر د نورو د ځپلو او ظلم په وسيله بدلېږي. "بيت" دلته د هغه اخلاقي مشروعيت سمبول دی چې بايد ټولې ګټې ورته تسليم وي.

### الهي مشروعيت تر ځمکنيو تړونونو پورته دی

الله سبحانه وتعالی په وروستي ايت کې رزق او امنيت د "بيت له رب" سره تړي، نه يوازې له وچو تړونونو سره. دا د مطلب اساسي ټکی دی: سوداګريز يا امنيتي تحالفونه تر هغه وخته حقيقي امنيت نشي تضمينولی چې پر اخلاقي او روحاني ضوابطو ولاړ نه وي. الله قريشو او هر بل سياسي او اقتصادي ځواک ته ور په يادوي چې امنيت د تړونونو په شمير کې نه، بلکې د هغو په لوري (Direction) کې دی؛ ايا دا تړونونه د خدای د حکم لپاره دي که د ځان نمانځنې لپاره؟

**پایله**

سورة قریش یو قبیلوي خطاب نه، بلکې په څلورو ایتونو کې یو تمدني بیان دی. دا موږ ته راښیي چې امنیت یو "صناعت" (جوړښت) دی، نه کومه تصادفي پیښه. مشروعیت پر وسلو او پیسو نه، بلکې پر ژورو عبادتي ارزښتونو ولاړ دی. دا سورت موږ ته خبرداری راکوي چې د سوکالۍ سفر حتماً له "ژمي او اوړي" تیریږي، او زموږ ژغورنه په هغه تحالف پورې تړلې ده چې موږ یې د خدای او خلکو ترمنځ، او د ارزښتونو او ګټو ترمنځ جوړوو. موږ نن سبا په خپل معاصر نړۍ کې د دې سورت تطبیق ته تر هر څه زیات اړتیا لرو، که نه نو د تمدن په لکۍ کې به پاتې شو.

## قرآن د بیړنیو قضاوتونو د کلتور په وړاندې

﴿بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ﴾ (یونس: ۳۹)

**سریزه: له قرآني نص څخه د معاصر شعور تر کړکېچ پورې**

دا مبارک ایت یو خورا ژور معرفتي قانون افشا کوي: دا چې انسان کله ناکله حقیقت د دې لپاره نه ردوي چې هغه باطل دی، بلکې له دې امله یې ردوي چې لا تر اوسه پرې پوه شوی نه دی (بشپړه احاطه یې پرې نه ده کړې). قرآن دلته یوازې پر یوې عقیدتي لیدلوري بحث نه کوي، بلکې یو داسې رواني-معرفتي جوړښت تشخیصوي چې په هر عصر کې تکراریږي: په قضاوت کې بیړه، د عادتونو پلوي، او له هر ډول پلټنې وړاندې د مخالف نظر ردول. د ډیجیټل پلټفارمونو په نننی عصر-کې، دا چلند په یوه ورځنۍ پدیده بدل شوی؛ ډیری خلک د یوه نیمګړي سرلیک، یوه جلا شوي اقتباس یا لومړني تاثر له مخې د یوې مقالې، فکر یا اجتهاد په اړه پریکنده دریځ نیسي، چې دا هیڅکله هغه "احاطه" نه ده چې قرآن یې شرط بولي.

**لومړی: تر فهم وړاندې تکذیب د یوه ذهني میکانیزم په توګه**

د حق تعالی وینا: ﴿**بل کذبوا**﴾ (بلکې دوی دروغ وبلل) د احاطې له نشتوالي څخه "تکذیب" ته لومړیتوب ورکوي. دا ښیي چې ستونزه یوازې د معلوماتو کمښت نه دی، بلکې د عقلي منهج په ترتیب کې نیمګړتیا ده. یو روغ مېتود دا ایجابوي چې:

۱. واورېدل شي. ۲. پوهه حاصله شي. ۳. پر سیاق (Context) احاطه وشي. ۴. فکر وازمویل شي. ۵. او بیا په پای کې حکم او قضاوت وشي.

خو متعصب عقل دا ترتیب سرچپه کوي: لومړی حکم صادروي، بیا د خپل حکم لپاره د تایید نښې لټوي، او هر هغه څه له پامه غورځوي چې د ده حکم ماتوي. دلته عقل له پلټونکې وسیلې څخه د میراث، هویت او ډلې د دفاع په وسیله بدلیږي.

**دويم: په قرآني جوړښت کې د "احاطې" مانا**

نص داسې نه دي ويلي چې: "بما لم يعلموا" (په هغه څه چې نه پوهېدل)، بلکې ويلي يې دي: ﴿**بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِهِ عِلْمًا**﴾ (په هغه څه چې علمي احاطه يې پرې نه ده کړې). د "احاطې"کلمه خورا دقيقه ده او مانا يې ده:

* د ريښې او مانا درک کول.
* پر مخکيني او وروستني سياق پوهيدل.
* متن له خپل ارزښتي سيستم سره تړل.
* د هغه په واقعي پايلو پوهيدل.
* د جزئياتو او کلياتو ترمنځ توپير کول.

دا هماغه مېتود دی چې نن سبا موږ د متونو، افکارو او سياسي-ټولنيزو دريځونو په لوستلو کې ورته اړتيا لرو. ځومره اصلاحي فکرونه د دې لپاره رد شول چې لـه خپـل سـياق څخـه جـلا ولوسـتل شول، او ځومره نوي اجتهادونه د دې لپاره تر بريد لاندې راغلل چې له حاکمو عادتونو سره يې ټکـر کړی و.

**دريم: ټولنيزې رسنۍ (Social Media) د بيړني تکذيب د چاپيريال په توګه**

په فيسبوک او نورو رسنيو کې دا ايت په حيرانوونکي ډول ځرګنديږي. مـوږ ګـورو چـې ډيـرې تبصرې له معرفتي احاطې نه، بلکې له رواني يقين څخه سرچينه اخلي:

* يوازې له سرليک څخه پر يو فکر بريد کول.
* د مقالې له لوستلو پرته ليکوال ته د خيانت نسبت کول.
* د برهان او دليل پر ځای د مقابل لوري پر نيت شک کول.
* پر هر مخالف نظر مذهبي يا حزبي ملنډې وهل.
* پېچلې قضيې په تېزو او وچو شعارونو کې رانغاړل.

دا نمونې د ﴿بل کذبوا بما لم يحيطوا به علماً﴾ معاصر تطبيق دی؛ يو ګړندی ډيجيټـل تکـذيب چې الګوريتمونه يې تغذيه کوي او حزبي يا مذهبي تړاو يې پياوړی کوي، تر دې چـې مخـالف يـو "دښمن"ګرځي، نه "د حقيقت په لټه کې يو شريک".

**څلورم: ولما يأتهم تأويله – د پايلو په لټه کې د بيړې ستونزه**

دا برخه يو مهم زماني اړخ زياتوي. د ځينو افکارو رښتينولي يوازې هغه وخت څرګنديږي چې په واقعيت کې يې اغيزې ښکاره شي. څومره اصلاحي پروژې وې چې په پيل کې وربانـدې ملنـډې ووهل شوې، خو وخت يې سمون ثابت کړ. څومره د متنونو نوی لوست و، چې په بېلاري تورن شو، خو وروسته څرګنده شوه چې د قرآن روح او ارزښـتونو تـه تـر ټولـو نـژدې و. دا ايـت د تجربـې تـر بشپړيدو وړاندې د بيړني قضاوت خبرداری ورکوي.

**پنځم: حنيفيت د تکذيب ضد منهج په توګه**

د حنيفيت له ليدلوري، دا ايت يو روښانه ميتودولوژيک بنسټ دی: حنيف (حق پـالونکی) يـو فکر د دې لپاره نه ردوي چې هغه نااشنا دی، او نه يې د دې لپاره مني چې هغـه ميـراثي دی؛ بلکـې پلټنه کوي، ازمويي يې او تل خپل مسير سموي. حنيفيت دلته داسې دی:

* د فکري ترلتيا په وړاندې مقاومت.
* له بيړنيو عکس العملونو څخه ازادي.
* له حکم او قضاوت څخه "پوښتنې" ته لومړيتوب ورکول.
* حقيقت له هر ډول تړاو څخه لوړ ګڼل.

په دې توګه، دا ايت د يو نوي معرفتي اخلاقو لور ته بلنه ده، ترڅو عقل خپلې اصلي دنـدې تـه وګرځي: د حق پلټنه، نه د هويت ساتنه.

**پايله**

د معاصر شعور په وړاندې تر ټولو لوی خطر يوازې جهل نه دی، بلکـې لـه احـاطې وړانـدې د "تکذيب جرات" دی. له همدې امله قرآن دا چلند له "ظلم" سره تړي، ځکه په هغه څـه حکـم کـول چې مور پرې نه يو پوه شوي، پر حقيقت، عقل او انسان ظلم دی. په داسې زمانه کې چې پلټفارمونه له احساساتي تبصرو او حزبي سنګرونو ډک دي، دا ايت مور تـه رايـادوي چـې حـق پـه احساسـاتي غبرګون نه، بلکې په صبر، احاطې او د پايلو په انتظار ترلاسه کيږي.

دا د دغه نص په اړه زما عاجزانه لوست و، والله أعلم.

# سورة الفلق

**له لفظي پناه غوښتنې څخه د شعور په مټ د تیارو تر مقاومته؛**

په ننني ورځو کې ورته څومره اړتیا لرو!

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ○ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ○ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ○ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ○ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾

په سورة الفلق کې ژور فکر کول لوستونکي ته د هغه عام فهم په پرتله خورا پراخ لیدلوری پرانیزي چې دا سورت یوازې له ناڅرګندو شرونو یا پټو ځواکونو څخه په یوې دودیزې پناه غوښتنې کې راګیروي. دا سورت که څه هم ټکي یې لږ دي، خو جوړښت یې خورا لوړ دی؛ دا د شعور داسې یوه نقشه ده چې په نړۍ کې د شر طبقې انځوروي او انسان له هغو څخه د خلاصون لپاره د الله لوري ته بیايي. دا له واقعیت څخه تېښته نه ده، بلکې د تیارو په وړاندې د رڼا له قانون سره پیوستون دی.

**پناه غوښتنه (استعاذه) د یو وجودي دریځ په توګه**

د الله تعالی دا فرمان: ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ﴾ یوازې د خوندیتوب لپاره د یوې جملې تکرار نه دی، بلکې د یو دریځ اعلان دی. دلته پناه غوښتل له نړۍ څخه د ځنګ ته کېدو په مانا نه دي، بلکې د "انبثاق" (راوتلو او غوړېدلو) له رب سره یو شعوري تړاو دی؛ له بندښت څخه د خلاصون، له جبر څخه د ازادۍ او له غفلت څخه د ویښتیا په لور د تګ اعلان دی. په دې مانا "أعوذ" د تسلیمۍ یا شا ته تګ نوم نه دی، بلکې د الهي قوانینو او سننو په مټ د هغه بصیرت فعالول دي چې د شر په وړاندې مقاومت کوي. دا د سستۍ بلنه نه ده، بلکې د رڼا د پروژې لپاره یو هوښیارانه حرکت دی.

**د فلق رب: د راوتلو او بدلون رب**

"فلق" د چاودلو، څیرې کېدو او راوتلو په مانا دی؛ دا د تیارې له زړه څخه د رڼا د راوتلو، له سکون څخه د ژوند د راڅرګندېدو او له جهالت څخه د شعور د وتلو شیبه ده. له همدې امله، د فلق

رب د لویو بدلونونو رب دی، نه د جامد ثبات. هغه د شپې له تیارو سهار راباسي، د مستضعفینو لپاره سیند څیرې کوي او په انسان کې د داخلي او خارجي فشارونو څخه د خلاصون لاره پرانیزي. په دې مانا، دا سورت یوازې د ساتنې غوښتنه نه ده، بلکې د تیارو له جوړښت څخه د جلا کېدو او د ازادۍ په مسیر کې د شاملېدو یو تړون دی.

**په سورة الفلق کې د شر نقشې**

دا سورت د هغو شرونو درجې انځوروي چې انسان ورسره مخ کیږي، له عامو کوني شرونو نیولې تر ژورو رواني هغو پورې:

**۱. ﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ﴾: د هستۍ په جوړښت کې عام شر**

دا عبارت ټول هغه عام شرونه رانغاړي چې انسان د ازموینې په دې نړۍ کې ورسره مخ کیږي: لکه ناورینونه، دردونه، ناروغۍ او هغه زیانمن ځواکونه چې په نفس، ټولنه یا طبیعت کې راڅرګندیږي. مانا دا نه ده چې خلقت په ذات کې شر دی، بلکې د خلقت په نړۍ کې د ازموینې داسې ډګرونه شته چې که انسان ورسره مسؤلانه او شعوري چلند ونه کړي، د زیان احتمال پکې شته.

**۲. ﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ﴾: د تیارې د واکمنۍ شېبه**

"غاسق" په خپلې رمزي مانا کې هغه تیاره ده چې واکمنه شي. "إذا وقب" د دغې تیارې ننوتلو او نفوذ ته اشاره کوي. غاسق هغه ظالم او ناپوهه واکمن دی لکه څنګه چې موږ په خپلو ورځو کې داسې واکمنان ګورو چې "وقبوا" یانې مسلط شوي دي؛ دا په تاریخ کې د واکمنۍ تر ټولو خطرناکه بڼه ده. له همدې امله، دا ایت له هغه شر څخه خبرداری دی چې یوازې بهر نه وي، بلکې د انسان شعور، پرېکړې، ټولنې او د واک جوړښت ته ننوځي. دا تیاره یوازې فزیکي نه، بلکې فکري، سیاسي او اخلاقي تیاره هم ده؛ هغه حالت چې پکې بصیرت له منځه ځي او جهالت یا استبداد پر عامه ډګر مسلط کیږي.

**۳. ﴿وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ﴾: د شعور په جوړښت کې پټې لوبې**

دا د سورت له ژورو ایتونو څخه یو دی. "نفث" (پوکول) د مخامخ مقابلې نوم نه دی، بلکې یو پټ، تدریجي او تکراري اغېز دی. "عقد" (غوټې) یوازې مادي نه دي، بلکې د نفس، شعور، ټولنې او عقیدې هغه تړاوونه دي چې خلک پرې تړل شوي وي. دا ایت د "نرمې لاسوهنې" هغو وسایلو ته اشاره کوي چې شعور له دننه څخه بیا ځلي جوړوي: لکه ګمراه کوونکي خطابونه، پاروونکي رسنۍ،

فکري جادوګري، سیستماتیکه وېره، د نفاق رامنځته کول او د هغو جعلي انځورونو خپرول چې انسان بې له دې چې پوه شي، ټوټه ټوټه کوي. دلته خطر د ښکاره ځواک له لوري نه، بلکې له هغو وهمونو راځي چې د انسان په دننه کې کرل کېږي ترڅو د هغه بصیرت مسخه کړي.

**۴. ﴿وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾: هغه شر چې په ویجاړونکي چلند بدلېږي**

کله چې شر له عامو او پټو بڼو وروسته مستقیمې رواني بڼې ته راښکته شي، هغه "حسد" دی. حاسد یوازې هغه نه دی چې د بل د نعمت د زوال هیله کوي، بلکې هغه څوک دی چې خپل داخلي ګډوډي په تخریب، تېري، بدنامۍ او فساد بدلوي. دا د سورت هغه طبقه ده چې د انسان له ورځنۍ ژوند سره ډېر تړاو لري، ځکه حسد د بدۍ، کینې او تحریک یوه سرچینه ده.

**پایله: د تیارې په زمانه کې "فلق" (سپیده داغ) اوسئ**

سورة الفلق په دې ترتیب سره له محیط څخه مرکز ته حرکت کوي: له عام کوني شر څخه، د تیارې تر واکمنۍ، بیا د هغې د جوړښت تر پټو وسایلو او په پای کې تر فردي رواني سرچینې پورې. دا سورت روښانه کوي چې شر یوازې یو ډول نه دی، بلکې یو متداخل جوړښت دی.

له همدې امله د فلق له رب څخه پناه غوښتل یوازې د ځان ژغورلو غوښتنه نه ده، بلکې د ازادۍ یو هراړخیز پروګرام دی: له وېرې ازادي، له فکري لوبو ازادي او د تیارو له منلو څخه ازادي.

مؤمن یوازې له تیارو څخه د خلاصون غوښتنه نه کوي، بلکې هغه ته بلنه ورکول کېږي چې پخپله "فلق" شي:

د تیارو په دیوال کې یو چاود (درز) شي،
د ګمراهۍ په زمانه کې یو "شعور" شي،
او د "غوټو" په نړۍ کې یوه "رڼا" شي.

دا زما عاجزانه لوستنه ده چې ستاسو په وړاندې مې کښېښوده، له الله څخه د سمون او مغفرت غوښتونکی یم.

## د دیني ترهګرۍ په وړاندې د قانون جوړونې (تشریع) تحصین

### د واکمن شرك له ككړتیا څخه د قانون جوړونې د مجلس د پاكوالي په اړه یو قرآني لوست.

د الله تعالی دا مبارك ایت: ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾

د نص په ارزښتي-سیاسي لوستنه كې، د یوې داسې قاعدې بنسټ ږدي چې له محدود مكاني فهم څخه وتلې او د یو داسې دستوري اصل په لور ځي چې د قانون جوړونې فضا د "واكمنۍ له ككړتیا" څخه ساتي.

په قرآني جوړښت كې مسجد یوازې د شعائرو د عبادت ځای نه دی، بلكې یوه جامع اداره ده چې پكې درې واړه قواوې (مقننه، اجرائیه او قضائیه) څرګندیږي. له همدې امله، "مسجد الحرام" یوازې د یو مقدس ځای په توګه نه، بلكې د لوړو ارزښتونو د هغه مجلس په توګه فهمول كیدی شي چیرې چې د ټولنې بنسټیزې تشریعي پولې (حدود) ساتل كیږي.

د دغه ځای "حرام" بلل دا ښیي چې دا هغه فضا ده چیرې چې د الله د حدودو ماتول جواز نه لري؛ یانې دا اجازه نشته چې د قانون جوړونې واك په یوه حزبي، مذهبي یا قهري وسیله بدل شي. دلته "حرام" یانې هغه خوندي ساحه چې د انسانانو له لاسوهنې پاكه او مستقیمه له "صراط مستقیم" (ارزښتي بنسټونو) سره تړلې وي.

په دې وجه، له دغه ځای څخه د مشركانو د نژدې كېدو ممانعت یوازې په عقیدتي هویت پورې اړه نه لري، بلكې د "شرك" له دندې سره تړاو لري. په دې سیاق كې مشرك هغه څوك دی چې ځان د شعور او قانون جوړونې په واك كې د الله شریك ګڼي، خپل فهم په زور تپي او له خلكو څخه د اجتهاد، پوښتنې او انتخاب حق اخلي. دا هغه فاعل دی چې "دیني ترهګري" یا "عقیدتي استبداد" تمرینوي

### نجاست د ارزښتي ككړتیا په توګه

ددې خلكو "نجس" بلل باید یوازې په حسي او ظاهري مانا كې را ایسار نشي، بلكې دا د شعور په اخلاقي او وظیفوي جوړښت كې یو ډول فساد دی. دلته نجاست د ارزښتي نظام ككړتیا ده په دغو عناصرو سره:

* اجبار او اکراه
* د حقیقت انحصار (خپل ځان یوازینی حق ګڼل)
* تکفیر او د نورو شړل (اخراج)
* دین د واکمنی په وسیله بدلول

دا ډول ککړتیا تر ټولو خطرناک شی دی چې د قانون جوړونې مجلس ته نږدې کیدی شي، ځکه دا قانون د انسان له ساتنې څخه د انسان په محکومولو بدلیږي. نو په معاصره مانا د ایت مفهوم داسې کیږي: هغه کسان چې افراطي فکر لري، یا دیني ترهګري کوي، یا د خلکو د شعور ازادي اخلي، حق نه لري چې د پریکړې او قانون جوړونې ادارو ته نږدې شي؛ ځکه دوی قانون د زور او قهر په منطق نجسوي.

**مسجد الحرام او ارزښتي پارلمان**

دې فهم ته په کتو، "مسجد الحرام" د ارزښتي پارلمان لومړنی قرآني موډل ګرځي؛ یانې هغه فضا چې قوانین پکې د عدل، رحمت، ازادۍ، انساني کرامت ساتلو او د استبداد د مخنیوي پر بنسټ جوړیږي. که د واکمن شرکي جوړښت ورته نژدې شي، ددې ځای دنده فاسدیږي او له یو هدایتي مجلس څخه پر خلکو باندې د قیمومیت په تپلو بدلیږي.

**پایله**

د نص او دولت تر ټولو لویه ساتنه دا ده چې د قانون جوړونې فضا له هر هغه اجباري منطق څخه وژغورل شي چې د خدای په نوم د حقیقت د انحصار ادعا کوي. هرکله چې دیني ترهګري د قانون مجلس ته ننوځي، نجاست له معنوي وصف څخه په یو بشپړ ځپونکي سیستم بدلیږي.
نو له همدې امله د الله تعالی قول: ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ﴾ په دې لیدلوري کې یو قرآني دستوري اعلان دی ترڅو د تشریع واک له ایډیالوژیکې ککړتیا او دیني افراطیت څخه خوندي وساتل شي.
دا یوه فکري لوستنه ده چې په دې باور ده: د مسجد الحرام حقیقي پاکوالی د قهر له منطق څخه د قانون پاکوالی او د واکمن شرک له بوی څخه د دولت پاکوالی دی. والله أعلم.

## اسلام یو دیني قومیت نه، بلکې د ژوند یو منهج دی

کله چې موږ په خپلو عربي هېوادونو کې د ډېری مسیحیانو چلند ته ځیر شو، هغوی ډېری وخت د ډېرو مسلمانانو په پرتله کم‌تشدده، زغم لرونکي، د نورو منونکي او پر اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو ډېر ولاړ مومو. دا واقعیت موږ له یوې دردونکې پوښتنې سره مخ کوي: ستونزه چیرته ده ؟ ستونزه په دین کې د هدایت او ارزښتونو په توګه نه ده، بلکې ستونزه په هغه "دیني میراث"کې ده چې په یوه تړلي هویت، میراثي قومیت او ټولنیز تړاو بدل شوی وي، چې د ایمان له جوهر سره هیڅ تړاو نه لري.

د ډېرو خلکو په نزد اسلام په یو "قومي دین" بدل شوی دی، کټ مټ لکه په نورو دیني تجربو کې چې پېښ شوي دي. څوک چې په مسلمانه کورنۍ کې پیدا شي، په اتوماتیک ډول مسلمان ګڼل کیږي؛ ګواکې دین یو بیولوژیکي نسب یا کورنۍ میراث دی. په داسې حال کې چې دین په حقیقت کې نه هغه وینه ده چې په میراث پاتې شي او نه هغه نوم دی چې په تذکره کې ثبت شي، بلکې دین د ژوند یو داسې "منهج" دی چې په ازادۍ سره غوره کیږي، پر شعور ولاړ وي او په چلند کې ترجمه کیږي.

کله چې دین په قومیت بدل شي، نو ورسره عصبیت او توکمپالنه پیدا کیږي او د مقدساتو په نوم قساوت او سختي توجیه کیږي. دا یو داسې سنت دی چې تاریخ یې په ځلونو شاهد پاتې شوی. مسیحیت چې کله د "قسطنطین" له زمانې وروسته په یو امپراتوري هویت بدل شو، د دین په نوم د قهر، وژنې او اشغال په لارو لاړ. یهودیت چې کله په یوې تړلې قومي پروژې بدل شو، ورسره د برترې غوښتنې، تاوتریخوالي او نورو د شړلو (اخراج) نمونې رامنځته شوې. زموږ لویه تراژیدي دا ده چې موږ مسلمانان هم په هماغه لاره روان یو؛ اسلام مو د خلکو لپاره د هدایت له پیغام څخه د یو تړلي هویت په بیرغ بدل کړی، او له یو ارزښتي صراط څخه مو په یوې ډله‌ییز عصبیت واړاوه.

دا وروستی دین د یو جامع دین په توګه راغلی، نه د دې لپاره چې له خلکو سره د هغوی د هویتونو په خاطر وجنګیږي، او نه د دې لپاره چې هغوی په زور د خپلې عقیدې بدلولو ته اړ کړي، بلکې د دې لپاره راغلی چې د حق، عدل، ازادۍ او مسؤلیت تله بره کړي. اسلام د دې لپاره نه دی

راغلی چې هر څه ترې مخکې تېر شوي ونړوي، بلکې د دې لپاره راغلی چې په تېرو رسالتونو کې شته حقایق د توحید او لوړو ارزښتونو تر سیوري لاندې راټول کړي، او انسان له طغیان څخه ازاد کړي، نه دا چې د خپل ځان په نوم یو نوی طغیان رامنځته کړي.

دا یو اخلاقي شجاعت دی چې اعتراف وکړو چې په تاریخ کې د اسلام په نوم ډېری ترسره شوي کارونه د اسلام د جوهر استازیتوب نه کوي، بلکې دا د هغو انسانانو انحرافات دي چې دین یې د قدرت او غلبې لپاره کارولی. موږ باید دا ادبي جرات ولرو چې له هغو ټولو ولسونو ښځو وغواړو چې زموږ پلرونو د دین په نوم ورسره جګړه کړې، او له هر هغه چا ښځو وغواړو چې د "فتحې" او "هدایت" تر شعارونو لاندې ووژل شول، مجبور کړای شول او یا ورته سپکاوی وشو. همدارنګه له هغو ټولو ښځو ښځو وغواړو چې کرامت یې د "ملك الیمین" د منحرف فهم له امله تر پښو لاندې شو؛ هغه مفهوم چې ځینو د ازادۍ، کرامت او عدل په رڼا کې د لوستلو پر ځای، د استباحې (روا ګڼلو) لپاره په دیني پوښ بدل کړی و.

نن اسلام ته تر ټولو لوی خطر د بهرنیو دښمنانو لخوا نه دی، بلکې تر ټولو ستر خطر په "دیني قومیت" کې د اسلام بندي کول دی؛ یانې د اسلام اړول په یو تړلي قبیلوي هویت او یو میراثي تړاو چې "موږ" او "هغوی" رامنځته کوي، او هدایت په عصبیت، تقوی په تړاو، او شعور په میراث بدلوي.

دین په زیږون نه راځي، په نوم نه ترلاسه کیږي، او په میراث نه ورکول کیږي. هر هغه څوك چې له مسلمانانو پیدا شوی وي، په ارزښتي او وجودي مانا مسلمان نه دی؛ لکه څنګه چې انسان د دیني تذکرې په لرلو سره مؤمن نه شي کیدای. اسلام د ژوند د یو منهج په ازادانه ډول پیروي کول دي، چې محور یې "صراط مستقیم"، جوهر یې "عروة الوثقی" او ستر بنسټ یې "پر طاغوت کفر او پر الله ایمان" دی.

که موږ غواړو اسلام وژغورو، نو لومړی باید هغه د دیني قومیت له زنځیرونو، له قبیلوي عصبیت او د حقیقت د انحصاري مالکیت له وهم څخه ازاد کړو. موږ باید هغه خپل اصلي حالت ته راوګرځوو: د میراث پر ځای د شعور دین، د غلبې پر ځای د ارزښتونو دین، او د قبیلې پر ځای د انسان دین.

## د (الجوار كالأعلام) تفسير

**د قرآن "الجوارِ كالأعلام" ايت: سمندري څرخونه او په سمندر کې د لوري نښې**

په قرآن کريم کې د سمندر په تړاو د "الجوار" لفظ په لاندې مبارکو ايتونو کې راغلی دی:

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ۝ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِ﴾

(الشورى: ٣٢-٣٣)

او همدارنګه:

﴿وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنشَآتُ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ﴾ (الرحمن: ٢٤)

عام فهم "الجوار" يوازې له روانو کښتيو سره تړي، خو د "الأعلام" (نښو/شخيصونو) په واسطه د هغو توصيف يو ژور علمي باب پرانيزي؛ دا لفظ د سترو سمندري حوّامو (Ocean Gyres) او هغو سطحي جريانونو په رڼا کې فهمول کېدای شي چې په سمندر کې نسبتاً ثابتې لارې جوړوي او د طبيعي لارښوونکو نښو په څېر کار کوي.

**لومړی: سمندري حوّامې (Ocean Gyres) = د سمندر جوار**

د سمندرپوهنې په علم کې د "سمندري حوّامو" په نوم يوه پديده شتون لري؛ دا د سطحي جريانونو سترې کړۍ دي چې په سمندرونو کې د لاندې عواملو له امله څرخي:

* بادونه
* د ځمکې څرخېدل (Coriolis effect)
* د وچو (قارو) بڼه
* د تودوخې او مالګينتوب توپير

دا حوّامې:

* زرګونه کيلومتره اوږدوالی لري.
* تر ډېره وخته دوام کوي.
* نسبتاً ثابت مسيرونه انځوروي.

* تودوخه او سمندري ژوي لېږدوي.

له همدې امله د "الجوار" لفظ د هغو اوبيزو مسيرونو له مانا سره سمون خوري چې په منظمو کړيو کې بهيږي؛ يانې په خپله سمندر دننه داسې دايروي لارې شته چې تل جاري وي.

**دويم: الأعلام = هغه اوبيزې نښې چې لوری ټاکي**

زموږ ژبني ترجيح ته نژدې مانا دا ده چې "الأعلام" دلته يوازې د جسامت (لويوالي) لپاره تشبيه نه ده، بلکې د نښې او لارښوونې (Hidayah) په مانا ده. سترې سمندري حوّامې او اوبيزې جبهې په حقيقت کې د طبيعي لوري ښوونکو نښو په څېر کار کوي، څکه هغه لاندې موارد ټاکي:

* د کښتۍ چلونې غوره مسيرونه.

* د سمندري ژويو د هجرت کرښې.

* د سمندري مرغانو د الوت لوري.

* د کبانو او خوړو د راټولېدو ځايونه.

نو دا په اصل کې ژوندۍ اوبيزې نقشې دي؛ له همدې امله د ﴿كَالْأَعْلَامِ﴾ مانا دا ده: "د هغو نښو په څېر چې په سمندر کې لوری ټاکي."

**دريم: مرغان حوّامې لولي**

دا مانا هغه وخت لا پسې ښکلې کيږي چې د سمندري مرغانو له چلند سره وتړل شي. مرغان له سمندر څخه په ناڅاپي او بې‌هدفه ډول نه تيريږي، بلکې هغه له لاندې څيزونو ګټه اخلي:

* د باد لوری او د څپو بڼه.

* د اوبو د سطحې تودوخه او د سمندر بوی.

* سترې حوّامې او جريانونه.

يانې هغه حوّامې د مسير د نښو په توګه کاروي، کټ مټ لکه انسان چې په وچه کې له نښو ګټه اخلي. په دې توګه دا ايت په سمندر کې د يو "اوبيز لارښود جوړښت" ته اشاره ده.

**څلورم: له حوّامو څخه تر طغيان پورې**

کله چې دا مفهوم د الله تعالی له دې قول سره وتړو: ﴿إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ﴾ (الحاقة: ۱۱)، نو د لاندې دوو کلمو ترمنځ توپير روښانه کيږي:

* الجوار: منظمې حوّامې او مسيرونه.

* طغيان: د نظام شيندل کېدل او له خپلې پولې د اوبو وتل.

کله چې سمندري انرژي ګډوډه شي، حوّامې له نظامه وځي، نښې ورکېږي، مسیرونه نړېږي او سمندر په ګډوډۍ بدلیږي.

**پایله:**

الله تعالی په سمندر کې جاري حوّامې پیدا کړې دي، نه یوازې د دې لپاره چې اوبه وښوروي، بلکې د دې لپاره چې "نښې" (أعلام) وي او په نامعلومو لارو کې تلونکو ته لار وښیي. که اوبه طغیان وکړي، حوّامې ګډوډیږي او نښې ورکېږي؛ نو نجاة نشته مګر په هغې "جاریه" (خونـدې لار/کښـتۍ) کې په سواریدو سره چې مسیر ساتي.

دا یو علمي او تدبري لوست و چې د "الجوار" لفظ یې د سمندري حوّامو له ښکارندې او طبیعي لارښوونکو مسیرونو سره وتاړه. والله أعلم.

# تقوی په قرآن کې

## د ارزښتي ثبات او د استطاعت ترمنځ

په قرآن کریم کې د "تقوی" مفهوم په بېلابېلو کچو کارول شوی او سمه نه ده چې یوازې په یوه جامد مانا کې را ایسار کړای شي. په سیاق کې تدبر دا روښانه کوي چې قرآن په ډېر دقت سره د هغې تقوی ترمنځ چې د انسان "ارزښتي هویت" ساتي، او د هغې تقوی ترمنځ چې "عملي تکالیف" د انسان د وس او توان په حدودو کې تنظیموي، توپیر کړی دی.

دا توپیر په دوو مرکزي ځایونو کې په بشپړ ډول ښکاره کېږي:

۱. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ﴾ (آل عمران: ۱۰۲)

۲. ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ﴾ (التغابن: ۱٦)

د دغو دوو سیاقونو ترمنځ توپیر د قرآني خطاب د درجو د پوهیدو لپاره یوه ژوره لاره پرانیزي.

**لومړی: "حق تقاته" = پر اسلام باندې ارزښتي ثبات**

د آل عمران سورت ایت د جامع ایماني هویت د بنسټ ایښودلو په سیاق کې راغلی، چې وروسته سمدستي فرمايي: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾. دا ښيي چې دلته خبره د کوم جزئي عمل یا لنډمهاله شعار په اړه نه ده، بلکې د ژوند تر پایه د اسلام پر "ارزښتي جوهر" باندې د ثبات په اړه ده.

له همدې امله د ﴿اتقوا الله حق تقاته﴾ مانا دا ده: له هغو ارزښتونو سره بشپړه ژمنه چې د انسان "اسلامیت" ساتي، پرته له کومې معاملې یا ناغېړۍ. ځکه خو یې په پای کې په غوڅ ډول ویلي: ﴿وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ﴾ (او مه مړه کیږئ مګر په داسې حال کې چې مسلمانان یئ). یانې هدف د ژوند د مسیر تر پایه پورې "ارزښتي انضباط" دی.

عدل، رښتینولي، وفا، د ظلم ردول او د انساني کرامت ساتنه داسې شیان نه دي چې نسبیت ومني، بلکې دا خپله د اسلام د ستنو حیثیت لري.

**دويم: "ما استطعتم" = د وس په اندازه د تکالیفو جاري کول**

خو د تغابن سورت ایت په یو بل سیاق کې راغلی چې مستقیماً له لاندې چارو سره تړاو لري:

* اورېدل (سمع)
* اطاعت کول
* انفاق (خرڅ کول)
* د بخل په وړاندې مبارزه
* د عملي ژمنتیا مدیریت

الله تعالی فرمايي: ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ﴾. دلته د عملي فعالیت "نسبیت" څرګندیږي، ځکه شعائر، ټولنیز تنظیمات او انفاق د خلکو د وړتیا او شرایطو له مخې توپیر کوي. د مثال په توګه، د ټولو خلکو انفاق برابر نه وي او تنظیمي اطاعت هم د وس او حالاتو تابع وي. ځکه خو دلته ﴿ما استطعتم﴾ (تر هغه ځایه چې ستاسو وس وي) راغلي؛ یانې د مبدأ اصل ثابت دی خو په عملي ډګر کې د انرژۍ او توان حدود په پام کې نیول شوي.

**دريم: ارزښتونه مطلق دي او شعائر نسبي دي**

له دې ځایه یو دقیق میتودولوژیک اصل رامنځته کیږي:

۱. ارزښتونه (Values):

* مطلق دي.
* معامله ورباندې نه کیږي.
* د اسلام هویت ساتي.
* په توان او قدرت پورې تړلي نه دي (باید هر حال کې وي).
* له همدې امله په دې اړه ﴿حق تقاته﴾ راغلي.

۲. شعائر او عملي تکالیف:

* په پلي کېدو کې نسبي دي.
* په وس او توان پورې تړلي دي.
* د شرایطو په بدلیدو بدلیږي.
* د ارزښتونو د پلي کولو وسایل دي.
* له همدې امله په دې اړه ﴿ما استطعتم﴾ راغلی.

**پایله**

د دغو دوو سطحو ترمنځ ګډوډي په ديني فهم کې د انحراف يو له اصلي لاملونو څخه دی؛ چيرې چې "مطلق ارزښت" په يوې معاملې بدل شي، خو "نسبي شعائر" بيا په يو جامد قالب واړول شي.

قرآن تله په روښانه ډول ايښې ده: پر ارزښتونو ثبات د اسلام په حالت کې د پاتې کېدو شرط دی، خو د شعائرو او تکاليفو پلي کول د وس او توان په اندازه دي. په دې توګه تقوی داسې مانا کيږي: د ارزښتي هويت دايمي ساتنه، او د عملي تکاليفو په پلي کولو کې حکمت.

له همدې امله: ارزښتونه هغه څه دي چې موږ بايد ورباندې "مړه" شو، خو شعائر هغه څه دي چې د خپل "وس" په اندازه يې ترسره کړو. چا چې دا توپير درک کړ، د هغه لپاره د دين تله د "ثبات" او "نرمښت" ترمنځ سمه شوه.

دا زما عاجزانه شننه ده، والله أعلم.

## په قرآن کريم کې "نارينه" (الذکر) او "ښځينه" (الأنثى)؛ د بيولوژيکي ډلبندۍ او ارزښتي دندې ترمنځ

کله چې موږ په شعوري او تدبري توګه قرآن کريم لولو، نو دا راته څرګندېږي چې د "نارينه" او "ښځينه" کلمو کارول تل د انسان جنسي نوعيت ته اشاره نه وي؛ بلکې کله ناکله تر دې ورهاخوا د يوې "وجودي دندې" يا د عمل او چلند د يو "ارزښتي طبيعت" څرګندونه کوي.

دا ژور فهم د قرآن کريم د ګڼو ايتونو تدبر کې په ډاګه کېږي. ما دلته هغه ايتونه غوره کړي چې دا نوی مفهوم پکې په روښانه توګه ځلېږي؛ لکه د آل عمران سورت دا مبارک ايت: ﴿فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ...﴾ (آل عمران - ٣٦)، او د النساء سورت دا ايت: ﴿وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا﴾ (النساء - ١٢۴)، او د غافر سورت ۴٠م ايت.

زه د آل عمران له آيت څخه پيل کوم چې ترې يو نوی سياق (context) درک کولای شو. موږ ګورو چې دلته د "نارينه" يادونه ﴿...وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ...﴾ پرته له کوم ښکاره مناسبت څخه شوې ده. په دې توګه، مريم بنت عمران د دوو ښکارندو ترمنځ واقع شوې ده: د هغې "خلقي ښځينه توب" او د هغې "وظيفوي نارينه توب". د عمران مېرمنې نذر کړی و چې په خېټه کې يې څه دي، هغه به د الله د کور خدمت ته وقف کوي. هغې تمه لرله – بلکې نژدې ډاډه وه – چې ماشوم به يې نارينه وي، ځکه په هغه وخت کې د معبد دا دنده يوازې نارينه وو ترسره کولای شوه. "نارينه توب" په ټولنيز او تاريخي ذهنيت کې له ځواک، کار ته د ملا له تړلو او د درنو مسؤليتونو له اخيستلو سره غوټه شوی و.

بيا هغې ته لويه صدمه ورسېده کله چې يې وليدل ماشوم په ظاهري او خلقي لحاظ "ښځينه" دی. دلته هغې د خپګان او بې وسۍ احساس وکړ چې ګوندې د معبد خدمت ته د خپل اولاد په وقف کولو کې به خپل نذر پوره نه کړای شي، نو د شکايت غږ يې پورته کړ: ﴿...رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ

أُنثَىٰ...﴾. خو له هغه لوري يې قرآني سمون راغی: ﴿وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ...﴾؛ ترڅو موږ ته دا وښيي چې د مريم بنت عمران وجودي دنده د هغې په ظاهري جنس نه اندازه کېږي، بلکې د هغه لوی ماموريت د سرته رسولو په ارزښتي وړتيا اندازه کېږي چې ورسپارل شوی و، او لکه څنګه چې وروسته ټولو وليدل، دا په دغه ماموريت کې له ټولو نارينه وو څخه وړاندې شوه.

د مريم بنت عمران دا ناڅاپي برتري يوازې په معبد کې د هغې په مخلصانه خدمت کې نه وه، چې هغې ته يې د نړۍ د ټولو خلکو په منځ کې يو غوره مقام ورکړ. هغه د الله تعالی له لوري د خلقت د معجزې د لوښي په توګه غوره شوه، پرته له کومې انساني مداخلې يې د الله "کلمه" نړۍ ته راوړه او په دې توګه يې د مطلقې پاکۍ او سوچه ايمان بېلګه وړاندې کړه. هو، مريم بنت عمران په پيدايښت کې "ښځينه" وه، خو په دنده کې يې د نارينه توب ټول معيارونه لکه: کلکوالی، استقامت او د شتون ځواک له ځانه سره لرل.

د النساء سورت دويم ايت ته ځم: ﴿وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا﴾. کله چې ماته د نارينه توب او ښځينه توب په اړه دا نوي مفاهيم روښانه شول، يو نوی فکر ذهن ته راغی. مفسرينو د يوې اجماعي او بديهي مسئلې په توګه داسې فهمولې چې ﴿... مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ...﴾ د عمل کوونکي کس جنسيت ته اشاره ده؛ يانې هغه څوک چې نېک عمل کوي که سړی وي او که ښځه. خو زما لپاره يوه عجيبه پوښتنه راپورته شوه: ولې د "نارينه" او "ښځينه" صفتونه پخپله د "نېکو اعمالو" (الصالحات) لپاره صفتونه نه وي، نه د هغه کس لپاره چې عمل يې کوي؟ ښايي دا پوښتنه په پيل کې عجيبه او زړوره ښکاره شي، خو ما پکې د ايت له عمومي مانا سره کوم ټکر يا تيری ونه موند.

د غافر سورت په ۴۰م ايت کې هم داسې ده. هلته مې هم وليدل چې موږ کولای شو د "نارينه" او "ښځينه" صفتونه له نېک عمل سره وتړو، پرته له دې چې په سياق او عمومي مانا کې کوم بدلون راشي. کله چې په دغو دواړو ايتونو کې ژور تدبر کوو، نو دا احساس کوو چې دا يوازې د عمل کوونکو بيولوژيکي وېش نه دی، بلکې پخپله د "نېکو اعمالو" طبيعت ته اشاره ده. دلته څرګندېږي چې نېک عمل هم "نارينه" صفتونه لرلای شي؛ يانې داسې مستقيم او ځواکمن اعمال چې د ترسره کوونکي له خوا جدي توب، کلکوالي او مسؤليت ته اړتيا لري، او هم "ښځينه" صفتونه لرلای شي لکه: نرم، ملاتړي او غير مستقيم اعمال چې ډېر ژور اغيز لري.

له دغه سياق څخه مورږ دا استنباط کوو چې د نېکۍ کارونه په دوه ډوله دي: يو ډول يې ځواکمن او مستقيم دی چې "نارينه بڼه" لري، او بل ډول يې نرم او غير مستقيم دی چې "ښځينه بڼه" لري. دا دواړه بنې که له رښتيني ايمان سره يوځای شي، د الله تعالی د رښتينې وعدې له مخې خپل کونکی جنت ته رسوي.

له دې هر څه مورږ دا پايله اخلو چې په قرآن کريم کې برتري په خلقي نوعيت نه ده، بلکې په وجودي ارزښت او د عمل په طبيعت کې ده. همدارنګه مورږ له دغو دوو مثالونو څخه يو اساسي قرآني قاعده استنباط کولای شو او هغه دا چې په قرآن کريم کې د "نارينه" او "ښځينه" کلمې ښايي په ځينو ځايونو کې د "ډلبندۍ" پر ځای د يوې "دندې" په مفهوم راغلې وي. په ګڼو ايتونو کې دا دوه کلمې د جسماني صفتونو پر ځای د وجودي دندو سمبولونه دي: "نارينه" د ظهور، برلاسۍ او مستقيم ځواک نښه ده، او "ښځينه" بيا د پالنې، نرمښت او پټ خو ژور اغېز سمبول دی.

په پای کې مورږ پوهېږو چې رښتينې برتري په بدن کې نه ده، بلکې د دندې په ترسره کولو او د الهي ارزښتونو په پوره کولو کې ده. لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ (الحجرات - ١٣)؛ يانې د قرآن په تله کې، د الله په وړاندې هغه څوک عزتمن دی چې خپله دنده يې په سمه توګه ترسره کړې وي، نه هغه چې د کوم ځانګړي بدن خاوند وي.

خلاصه دا چې قرآن کريم انسان ته د هغه د بدن له پوټکي نه ګوري چې هغه نارينه دی که ښځينه، بلکې د هغه "وظيفوي جوهر" ته ګوري چې په څمکه کې د ايمان او اصلاح د پيغام رسولو وړتيا ده. نارينه توب او ښځينه توب تل د بدن صفتونه نه وي، بلکې ښايي د افعالو او دندو صفتونه وي. مريم عذراء عليها السلام او هغه نيک عمل کونکی (که نارينه وي که ښځينه) چې د الله په خوښه عمل کوي، د همدې عالي مفهوم څرګندويي کوي چې د بدنونو له محدوديت څخه د روحونو پراخوالي ته وځي.

## سورة الكوثر: د نيمګړتيا له غوټې (عقدې) څخه د پرېمانۍ تر شعوره

### د ډاډمن انسان په جوړښت کې يوه رواني-تربييوي مطالعه

**سريزه:**

سورة الکوثر د قرآن کريم يو له ترټولو لنډو سورتونو څخه دی، خو په مانا او مفهوم کې خورا بډايه دی.

د هغه دوديز قرائت خلاف چې "کوثر" يوازې په مادي او ځنډول شوې مانا (په جنت کې يو سيند) کې رانغاړي، دا سورت د يو داسې رواني-تربييوي جوړښت په توګه لوستل کېدای شي چې د انسان يو ترټولو د خطرناك بحران درملنه کوي، چې هغه: د کمترۍ احساس دی.

دا سورت د انسان د ذات بياځلي پېژندنه کوي؛ نه د هغه څه له لارې چې انسان يې نه لري، بلکې د هغې پټې پرېمانۍ له لارې چې په خپل ځان کې يې لري.

**لومړی: کوثر د پرېمانۍ د داخلي درك په توګه**

﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَاكَ ٱلۡكَوۡثَرَ﴾

په دې مبارك ايت کې، کوثر د يو داسې بهرني شي په توګه نه دی وړاندې شوی چې انتظار يې ايستل کېږي، بلکې د يو داسې حقيقت په توګه دی چې لا دمخه ورکړل شوی دی.

دلته ژبه قطعي ده: "موږ درکړ"، نه دا چې "موږ به درکړو".

**رواني نښې:**

* انسان ډېری وخت د هغه څه په منځ کې ژوند کوي چې "د نيمګړتيا وهم" بلل کېږي.

* هغه څه ته پام کوي چې نه يې لري، خو هغه څه هېروي چې ورسره دي.

په داسې حال کې چې دا سورت ادراك بېرته تنظيموي:

ته "کوثر" لرې — يانې د وړتياوو يو داسې ډېرښت چې يوازې د ليد د زاويې د غلطوالي له امله نه دی فعال شوی.

**له روانپوهنې سره تړاو:**

* په مثبتې روانپوهنې کې دې ته د ادراک بیاځلي اوډنه (Cognitive Reframing) وایي.

* چې په هغه کې د فرد تمرکز له "ناوسۍ" څخه "وړتیا" ته اوړي.

**دویم: لمونځ او قرباني (نحر) د ذات د بیا رغونې وسیله**

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ﴾

دا ایت یوازې د یوې وچې نمانځنې په مانا نه، بلکې د یوې تګلارې په توګه باید درک شي:

۱. لمونځ وکړه (فَصَلِّ لِرَبِّكَ):

* یانې د خپل ذات بیا نښلول له یوې ارزښتي سرچینې سره.

* په دې مانا چې انسان د لوړو ارزښتونو له مخې ژوند وکړي، نه د نورو د قضاوتونو له مخې.

۲. قرباني وکړه/ غاړه جګ کړه (وَانْحَرْ):

* النحر = د سر جګول او د غاړې (نحر) ښکاره کول.

* یانې په پوره باور سره د خپل شتون اعلانول.

**رواني ښې:**

* له لاندې حالاتو څخه لېږد:

* له شرم څخه ← ویاړ ته.

* له ځان ټولولو (انقباض) څخه ← څرګندېدو ته.

* له دفاعي حالته ← نوښت او اقدام ته.

**له روانپوهنې سره تړاو:**

* دا د خپل ثبات (Self-Assertion) له مفهوم سره ورته دی.

* د یو فرد هغه وړتیا ده چې وکولای شي پرته له وېرې او شرمه خپل ځان څرګند کړي.

**دریم: "أبتر" (بې لکۍ/غوڅ) د یو بهرني سپکاوي نه، بلکې د یو رواني حالت په توګه**

﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾

سورت دلته د قضاوت تله بدلوي:

* "هغه څوک چې نیمګړتیا لري" أبتر نه دی.

* بلکې "هغه څوک چې د نورو سپکاوی کوي" أبتر دی.

ولې؟

ځکه هغه:
* په نورو کې د "کوثر" قانون نه دی درک کړی.
* په هغوی کې پټه پرېماني نه ويني.
* نو سره له دې چې هر څه لري، بيا هم له نيمګړي شعور سره ژوند کوي.

**رواني نښې:**
* هغه څوک چې نور سپکوي، ډېری وخت له لاندې ستونزو څخه ځوريږي:
* رواني غورځونه (Projection): يانې خپله داخلي نيمګړتيا پر نورو تپي.

**څلورم: دا سورت د نسلونو د روزنې لپاره د يوې تربييوي بېلګې په توګه**

که دا لوستنه تربيې ته ولېږدوو، نو يوه بشپړه متفاوته بېلګه رامنځته کوي:
د دې پر ځای چې ماشوم ته وښيو:
* څه نه لري؟
* او څنګه خپل ځان له نورو سره پرتله کړي؟

ورته ښيو:
* چې خپل ځانګړی "کوثر" ولټوي.
* خپلې پياوړې نقطې وپالي.
* او له خپلې توپيري ځانګړتيا څخه شرم ونه کړي.

**پايله:**
* يو داسې نسل:
* چې پر خپل ځان باوري وي.
* په نورو پورې ملنډې نه وهي.
* او د خپل ارزښت ثابتولو لپاره د نورو ماتولو ته اړتيا نه لري.

**پنځم: د سورت ارزښتي اړخ**

دا سورت يوازې پر ځان باور نه جوړوي، بلکې هغه په ارزښتونو سمبالوي:
* لمونځ ← سمه لارښوونه.
* نحر ← زړورتيا.
* کوثر ← ښښنه او ورکړه.

* أبتر ← له ارزښتونو څخه د پرې کېدو خبرداری.

**پایله:**

سورة الکوثر یوازې یوه جبراني وعده نه ده، بلکې یو رواني او وجودي قانون دی:

هر انسان په خپل وجود کې یو "کوثر" لري،

خو د خلکو ترمنځ توپیر په هغه څه کې نه دی چې دوی یې لري، بلکې په هغه څه کې دی چې دوی یې "درک کوي".

چا چې د خپل ذات پرېماني درک کړه، د هغه اغېز به تلپاتی وي،

او څوک چې په خپلو نیمګړتیاوو بوخت شو، هغه به پرې شوی (منقطع) وي... که څه هم هر څه ولري.

هېڅوک بې نیمګړتیاو نه دی...

خو هر څوک خپله پرېماني نه شي لیدلی.

کوثر هغه څه نه دي چې تاته درکول کېږي، بلکې هغه څه دي چې ته یې په خپل ځان کې کشفوې...

او أبتر هغه څوک نه دی چې څه کم لري، بلکې هغه څوک دی چې په نورو کې خیر نه شي لیدلی.

# سورة التکویر: د ډیجیټلي تمدن د نړېدو په اړه قرآني وړاندوینه

## د ماشین او شعور ترمنځ د انسان د برخلیک په اړه یو وجودي-تخنیکي لوست

**پرانیستونکی لنډیز:**

دا مقاله د سورة التکویر یوه معاصره لوستنه وړاندې کوي چې له دودیزو اخروي چوکاټونو ورهاخوا، د نظامونو د نړېدو یو نړیوال قانون انځوروي؛ هغه مهال چې نظامونه د پیچلتیا او له ارزښتونو څخه د جلاوالي وروستي حد ته ورسېږي. دا پوهه پر نني ډیجیټلي تمدن پلي کېږي، کوم چې په بشپړ ډول پر محاسباتي سیستمونو، الګوریتمونو او مصنوعي ځیرکتیا ولاړ دی او دا ګواښ رامنځته کوي چې انسان به په یو ترلي تخنیکي سیستم کې له "فاعل" څخه په "تابع" بدل شي.

**لومړی: له وسیلې څخه تر برلاسۍ - د ټیکنالوژۍ بدلېدل په یو وجودي نظام**

په موډرن عصر کې ټیکنالوژي یوازې یوه وسیله نه ده، بلکې د شعور او چلند پر حاکم جوړښت بدله شوې ده. معاصر انسان په یو داسې هراړخیز ډیجیټلي سیستم کې ژوند کوي چې مشري یې د لاندې شیانو په لاس کې ده:

* لویه ډیټا (Big Data)، مصنوعي ځیرکتیا (AI) او الګوریتمونه (Algorithms).

دا سیستمونه یوازې د انسان چلند نه څېړي، بلکې د هغه غوښتنو ته بڼه ورکوي، پریکړې یې کنټرولوي او د ځان او نړۍ په اړه د هغه لیدلوری جوړوي. لکه څنګه چې معاصر مفکر "یووال نوح هراري" خبرداری ورکړی چې انسان ښايي په یو "هک کېدونکي موجود" (Hackable Animal) بدل شي، چې پریکړې یې د ډیټا له لارې اداره کېږي.

**دویم: سورة التکویر د پیچلو نظامونو د نړېدو د ښېلګې په توګه**

دا سورت د پرله پسې صحنو په لړۍ پیلېږي، چې د یو بشپړ نړۍوال نظام د تدریجي پاشل کېدو په توګه لوستل کېدای شي:

﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾

لمر د انرژۍ سرچینه ده؛ په معاصره لوستنه کې دا د هغو د انرژۍ د سیستمونو د نړېدو په مانا ده چې ډیجیټلي جوړښتونه تغذیه کوي. دا د هغو څېړنو سره سمون خوري چې په مرکزي شبکو پورې د تړلو سیستمونو د بنسټیزو زیربناوو د نازکتیا (Fragility) په اړه کېږي.

﴿وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ﴾

ستوري د لارښوونې او اړیکو سمبول دي؛ یانې د سپوږمکیو (Satellites) او مخابراتي شبکو سقوط یا پاشل کېدل. نننۍ ډیجیټلي نړۍ پر فضایي سیستمونو ولاړه ده او د هغو نړېدل د انټرنیټ د پرې کېدو او د نړیوالو مخابراتو د شل کېدو په مانا ده.

﴿وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ﴾

غرونه د علمي او پوهنیز ثبات سمبول دي (لکه څنګه چې په جلا مقاله کې یاد شوي، غر په لغت کې د "عالم" یا "د پوهې خاوند" مانا هم ورکوي). دلته ایت پر هوښیارو (Smart) سیستمونو د کنټرول له لاسه ورکولو ته اشاره کوي، چې اختراع کوونکی پخپله د خپل اختراع شوي سیستم لخوا اداره کېږي. دا د مصنوعي ځیرکتیا په اخلاقو کې له خپلواکو سیستمونو (Autonomous systems) او د انسان د واک له لاسه ورکولو له بحثونو سره سمون خوري.

﴿وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ﴾

دلته هغه کلمه راځي چې ایتونه له ټیکنالوژیکي نظام سره تړي:

العشار = لسیز سیستم (Decimal System)، چې د ډیجیټلي تمدن د محاسبې بنسټ دی.

د دې تعطیل کېدل د ډیجیټلي جوړښت بشپړ نړېدل دي. نننۍ نړۍ پر عددي سیستمونو، پروګرامونو، کوډینګ او ډیجیټلي معاملو ولاړه ده، چې په هغو کې هر ډول بنسټیز خنډ د اقتصادي سقوط او پر نظام د باور د له منځه تلو لامل ګرځي.

**دریم: مصنوعي ځیرکتیا د عصر د "وحشي ځناورو" په توګه**

﴿وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾

په دودیزه مانا: حیوانات دي. خو په معاصره لوستنه کې:

"وحوش" هغه هوښیار سیستمونه دي چې د انسان قلمرو ته ننوتلي دي. نن ورځ:

* روبوټونه، د پریکړې سیستمونه او تولیدي مصنوعي ځیرکتیا.

دوی د انسان په پریکړو کې شریک شوي، په اړیکو کې یې مداخله کوي او شعور ته یې نوې بڼه ورکوي. دا د ایلون مسک او سټیفن هاکینګ له هغو خبرداریو سره ورته دی چې د غیرمنظمې مصنوعي ځیرکتیا په اړه یې ورکړي وو.

**څلورم: د ټیکنالوژیکي حرص په پایله کې د چاپېریال نړېدل**

﴿وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ﴾

دا نص د کایناتو جوشېدو ته اشاره کوي، چې پر لاندې شیانو پلي کېدای شي:

* نړۍواله تودوخه (Global Warming)، د سمندرونو د تودوخې لوړېدل او د سرچینو وچېدل. ټیکنالوژیکي او صنعتي فعالیت د دې پدیدو اصلي محرک ګڼل کېږي.

**پنځم: خپاره شوي کتابونه (صُحُف) - د هراړخیزه ډیټا عصر**

﴿وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ﴾

زموږ په عصر کې "صحف" هماغه ډیجیټلي ډیټا (Digital Data) ده؛ چېرته چې:

* هر چلند ثبت دی، هره اړیکه خوندي ده او هره پریکړه د تحلیل وړ ده. دا د نن ورځې څارنیز پانګوالي (Surveillance capitalism) او ډیجیټلي پروفایلینګ انځوروي.

**شپږم: انسان د "تکویر" او "تبصیر" ترمنځ**

قرآني نص د دې لوستنې پر بنسټ یو وجودي انتخاب وړاندې کوي:

۱. تکویر (پېچلي کېدل/راغونډېدل): په سیستم کې بند پاتې کېدل، د واک بایلل او په ماشین کې ویلي کېدل.

۲. تبصیر (بصیرت): د شعور بېرته ترلاسه کول، له ټیکنالوژۍ سره د اړیکې بیا تعریفول او ارزښتونو ته راستنېدل.

**اووم: د سورت د یو وجودي-قانوني فهم په لور**

دا سورت د یو قانون په توګه درک کېدای شي: هر هغه نظام چې د ارزښتي توازن پرته د پیچلتیا وروستي حد ته ورسېږي، خامخا د نړېدو په لور ځي. دا د "پیچلو سیستمونو د نړېدو" (Complex Systems Collapse) له تیوریو سره سمون لري.

**پایله:**

سورة التکویر یوازې د نړۍ د پای کیسه نه ده، بلکې د انسان د پای ته رسېدو خبرداری دی؛ هغه مهال چې انسان خپل مرکزیت له لاسه ورکړي. کله چې وسیله په "بادار"، نظام په "معبود" او شمېره په "هویت" بدله شي، "تکویر" پیل کېږي...

او دا قرآني پوښتنه هماغسې ځوړنده پاتې ده:

﴿فَأَيۡنَ تَذۡهَبُونَ﴾ (نو تاسو چېرته ځئ؟)

دا د قرآني نص یوه معاصره تدبري لوستنه ده چې هڅه کوي وحې له واقعیت سره وتړي، پرته له دې چې د وروستي حکم ادعا وکړي. والله أعلم.

# شکر د یو وجودي قانون په توگه

## د پرېماني په رامنځته کولو کې یوه قرآني-رواني لوسته

﴿لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡ﴾ - سورة إبراهيم (٧)

**اجراییوي لنډیز**

دا مقاله د پورتني مبارك ایت یوه تدبري-علمي لوسته وړاندې کوي، چې شکر د یو داسې رواني-وجودي قانون په توگه معرفي کوي چې له خپل واقعیت سره د انسان اړیکه تنظیموي. دلته مطرح کېږي چې "شکر" یوازې یوه ژبنۍ یا دیني چاره نه ده، بلکې یو "ادراکي میکانیزم" دی چې شعور بېرته د پرېمانۍ (الوفرة) لوري ته اړوي. دا چاره د انسان پر رواني او سلوکي حالت اغېز کوي او د ودې فرصتونه پراخوي. همدارنگه، دا مقاله د مثبتې روانپوهنې او اعصابو د علم (Neuroscience) هغو نویو څېړنو ته تکیه کوي چې ښیي "الامتنان/ منندوی توب" د رواني روغتیا له ښه کېدو، د هوساینې له زیاتوالي او د فشار (Stress) له کمښت سره مستقیمه اړیکه لري؛ دا هر څه ثابتوي چې یاد ایت یو عملي قانون دی چې په واقعیت کې ځان څرگندوي.

**لومړی: شکر د شعور په جوړښت کې د بدلون په توگه**

په قرآني متن کې شکر ډېری وخت د منني د لفظي بیان په مانا اخیستل کېږي، خو په ایت کې تدبر دا ښیي چې شکر د "زیاتوالي" لپاره یو مخکینی شرط دی، نه د هغه پایله. له همدې امله، شکر داسې بیا تعریفولای شو:

* هغو نعمتونو ته د پاملرنې بېرته راگرځول چې اوس شتون لري.
* له ویجاړونکي داخلي مقاومت پرته د واقعیت پوهنیزه منته.
* په پوهنیزه کچه د واقعیت منل د داخلي ورانوونکي شعور له فعالیته پرته.
* د هغه مثبت شعور فعالول چې د جوړولو او پرمختگ وړتیا لري.

په دې مانا، شکر یو "ادراکي حالت" دی، نه یوازې یو ژبنی بیان.

**دويم: د شعور قانون – ادراک پر واقعیت لومړیتوب لري**

د معرفتي روانپوهنې نوې ليکنې ښيي چې انسان له واقعيت سره هغسې تعامل نه کوي لکه څنګه چې دی، بلکې هغسې ورسره چلند کوي لکه څنګه يې چې درک کوي او تعبيروي. کله چې شعور د تجربې پر ځانګړو عناصرو تمرکز وکړي، په ذهن کې دهغو شتون پياوړی کېږي، په رواني او سلوکي ډول بيا توليدېږي.

له همدې ځايه دا قانون رامنځته کېږي:

"هغه څه چې شعور پرې تمرکز کوي، د انسان په تجربه کې لويېږي."

همدا لامل دی چې: پر نيمګړتيا تمرکز ← د ناوسۍ احساس پياوړی کوي، خو پر امکاناتو تمرکز ← د عمل لاره پرانيزي.

**دريم: دوه صحنې... او يو شان واقعيت**

د دې قانون د روښانتيا لپاره، دوه موازي صحنې تصور کړئ:

۱. د غم اسير:

يو انسان د ستونزو او غمونو يوه توپان په مخه کړی دی، د هغو په شمېرلو، شنلو او د پړې په وېشلو بوخت دی: (پر شرايطو، خلکو او ځان). دلته يې شعور د "نيمګړتيا" په مرکز بدلېږي او تجربه يې په دننه کې دومره لويېږي چې حرکت يې شلوي.

۲. د مانا جوړوونکی:

بل لوري ته، يو بل کس همدې ستونزو ته ګوري، خو هغه د خپل شعور مرکز نه ګرځوي. هغه پوښتنه کوي:

* ماته څه پاتې دي؟

* پر کومو شيانو کار پيلولای شم؟

هغه کشفوي چې تجربه، مهارت او پټ فرصتونه لري؛ بيا دا عناصر د يوې رواني او سلوکي وسيلې په توګه کاروي چې د ودې لوري ته يې ټېله کړي.

**څلورم: شکر د عصري روانپوهنې په رڼا کې**

د منني مفهوم اوس يوازې فلسفي بحث نه دی، بلکې په مثبتې روانپوهنې ( Positive Psychology) کې يوه مرکزي څېړنيزه موضوع ده. علمي څېړنې ښيي چې د منني تمرين له لاندې ګټو سره تړاو لري:

* د رواني هوساينې لوړېدل.

* له ژوند څخه د رضايت ښه کېدل.

* د خپګان (Depression) او فشار د ښو کمېدل.

تجربوي څېړنو ښودلې چې د ورځنيو منڼو (Gratitude lists) ليکل: مثبت احساسات زياتوي، هيله مندي ښني او پر منفي تجربو تمرکز کموي. "رابرټ ايمونز" په خپلو څېړنو کې ثابته کړې چې منڼه کوونکي خلک خپلو موخو ته په رسېدو کې برياليي دي، ښه رواني حالت لري او د خوشبينۍ لوړه کچه لري.

**پنځم: د شکر عصبي بنسټ**

د مغز د انځورګرۍ څېړنې ښيي چې منڼه (شکر) د مغز په لاندې برخو کې له فعاليت سره تړاو لري:

* القشرة الجبهية الإنسية (Medial Prefrontal Cortex)

* الحزامية الأمامية (Anterior Cingulate)

دا هغه سيمې دي چې د ارزښتونو د ارزونې، پريکړې کولو او د مانا د پروسس کولو مسوولیت لري. شکر د لاندې عصبي لېږدونکو (Neurotransmitters) فعاليت زياتوي:

* ډوپامين (Dopamine): د انعام او انګېزې لپاره.

* سيروټونين (Serotonin): د رواني ثبات لپاره.

او د کورټيزول (Cortisol) کچه، چې د فشار هورمون دی، راټيټوي. دا پدې مانا ده چې شکر واقعيت په مستقيم ډول نه بدلوي، بلکې د واقعيت په اړه د مغز د لوستلو او تعامل لاره بدلوي.

**شپږم: شکايت (تذمر) د رواني پاتې کېدو د ميکانيزم په توګه**

برعکس، شکايت يو داسې ادراکي حالت دی چې:

* شعور پر نيمګړتيا متمرکز کوي.

* د ناوسۍ احساس ژوروي.

* د بديلونو د ليدلو مخه نيسي.

دلته هغه څه رامنځته کېږي چې په رواپوهنه کې ورته "منفي تړلې کړۍ" (Negative Closed Loop) وايي، چې انسان په کې خپله منفي تجربه په تکراري ډول په خپل داخل کې توليدوي.

**اووم: شکر د زیاتوالي د شرط په توګه**

په ایت کې قراني ترتیب خورا دقیق دی:

شکر د زیاتوالي لامل کېږي، نه برعکس.

دا پدې مانا ده چې:

* شکر ادراک (پوهه) خلاصوي.

* ادراک چلند ته حرکت ورکوي.

* چلند یو نوی واقعیت رامنځته کوي.

په دې توګه، "زیاتوالی" د یو بشپړ رواني-چلندیز مسیر د طبیعي پایلې په توګه ترلاسه کېږي.

**پایله**

غمونه تل زموږ په خوښه نه وي... خو د هغو په وړاندې زموږ دریځ زموږ خپل انتخاب دی.

یا به هغه د خپل شعور مرکز ګرځوې چې ډوب دې کړي، او یا به هغه څه چې درته پاتې دي د پیل ټکی ګرځوې چې پورته دې بوځي. له همدې امله، شکر یوازې یو اخلاقي فضیلت نه دی، بلکې د ژوند د بیا جوړولو لپاره یو وجودي قانون دی.

## العقبه (ستر خنډ): د ځانپالنې دېوال او تقوی ته د تېرېدو دروازه

**سریزه:**

کله چې الله تعالی فرمایي:

﴿فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ﴾

نو دلته خطاب بدن ته نه، بلکې نفس ته دی.

"عقبه" (ستونزمن پېچومی) په بهر کې کومه ستونزمنه لاره نه ده، بلکې یو داخلي خنډ دی چې انسان د خپل انسانیت لوړو درجو ته له ختلو څخه راګرځوي. دا هغه پټ ځواک دی چې انسان له خپل "ځان" سره تړي، د "انانیت" (ځانپالنې) په دایره کې یې بندي کوي، او نه یې پرېږدي چې د تقوی په لور حرکت وکړي.

**لومړی: عقبه د یو وجودي خنډ په توګه**

عقبه په قرآني جوړښت کې یوه پېښه نه، بلکې یو "حالت" دی.

دا عبارت دی له:

* د قربانۍ په وړاندې د نفس له زړه نازړه توب څخه.
* د خپلو تنګو ګټو په وړاندې د نفس له ټینګار څخه.
* د نورو په وړاندې د نفس له خلاصون او عاجزۍ څخه.

له همدې امله د "عبور" پر ځای د "اقتحام" (په زړورتیا ورننوتل/ماتول) کلمه کارول شوې؛ ځکه دا مسئله اسانه نه ده، بلکې یوې داخلي ماتېدنې (د انانیت ماتولو) ته اړتیا لري.

نو عقبه یانې: ځانپالنه (انانیت)، کله چې د انسان د چلند پر حاکم نظام بدله شي.

**دویم: تقوی د انساني نړه والي په توګه**

په مقابل کې، تقوی د هغه لوړ انساني حالت استازیتوب کوي چې پکې انسان د "ځان-مرکزیت" له بنده ازادېږي، ترڅو په ارزښتونو کې منحل او ورګډ شي.

په دې توګه دا اړیکه روښانه کېږي:

* عقبه = هغه څه چې د تقوی مخه نیسي.
* اقتحام = هغې ته د رسېدو لاره.
نو تر هغه چې انسان د خپل انانیت اسیر وي، نشي کولای ارزښتي سپېڅلتیا ته ورسېږي.
**دریم: د عقبې د ماتولو لارې (منافذ)**
قرآن کریم عقبه د مثالونو له لارې پېژني:
**﴿فك رقبة • أو إطعام في يوم ذي مسغبة • يتيماً ذا مقربة • أو مسكيناً ذا متربة﴾**
دلته د "أو" (یا) کارول د پام وړ دي، چې دا ښيي د عقبې ماتول یوازې یوه لاره نه لري، بلکې بېلابېلې دروازې لري:
* د انسان ازادول: دا پر هر مؤمن واجب ده چې اسیران او مستضعفین (کمزوري کړای شوي خلک) ازاد کړي.
* د اړمنو لاسنیوی: هغه یتیم چې "قربت" (نژدېوالي) ته اړتیا لري، یلنې داسې سرپرست ته چې پالنه یې وکړي.
* د بې وزله مسکین پالنه: هغه چې د ژوند لومړني شرایط (خوراک، څښاک، استوګنه) نه لري.
خو اصلي ارزښت پخپله په دغه "فعل" (کار) کې نه دی، بلکې د دې کار له لارې د خپل "ځان-مرکزیت" په ماتولو کې دی؛ نو ځکه هېڅوک داسې نشته چې په دې نبیلو (شریفو) کارونو کې برخه وانخلي.
**څلورم: له عمل څخه تر شعوره**
بیا پرېکنده بدلون راځي:
**﴿ثم كان من الذين آمنوا وتواصوا بالصبر وتواصوا بالمرحمة﴾**
دلته عمل په لاندې شیانو بدلیږي:
* یو هویت (ایمان).
* یو دوام (صبر).
* یو ډلهییز سیستم (مرحمت/زړه سوی).
یوازې د خیر کار کول کافي نه دي، بلکې باید د یو بشپړ ارزښتي نظام غړی شې.

**پنځم: کفر د بدلون د ردولو په توګه**

﴿والذين كفروا بآياتنا﴾

په دې سیاق کې، کفر یوازې یو نظري انکار نه دی، بلکې د عقبې له ماتولو څخه یو عملي انکار دی.

یانې:

* لاره پېژندل خو وربانديې نه تلل.

* کړاوونه لیدل خو ځواب نه ورکول (مرسته نه کول).

* د حق د روښانتیا سره سره، د "ځان" په دایره کې پاتې کېدل.

او دا له ارزښتونو څخه حقیقي بېلتون دی.

**شپږم: مؤصدة اور (تړلی اور) - د ذات بندښت**

﴿عليهم نار مؤصدة﴾

"ایصاد" د یو شي کلک بندولو ته وایي، او دلته پایله څرګندېږي:

هر چا چې عقبه ماته نه کړه، هغه له دننه څخه بندي کېږي. نو اور دلته:

* یو رواني سوځېدل دي.

* یو وجودي بندښت دی.

* له ازادۍ څخه ناغېړي ده.

دا یوازې سزا نه ده، بلکې د انسان د داخلي حالت عکس دی.

**پایله:**

په قرآن کې عقبه یو بهرنی امتحان نه دی، بلکې د انسان او د هغه د خپل "نفس" ترمنځ یوه داخلي مقابله ده. دا هغه بېلوونکې کرښه ده چې د لاندې دوو کسانو ترمنځ پرته ده:

* هغه انسان چې د خپل "ځان" لپاره ژوند کوي.

* او هغه انسان چې خپل "انسانیت" ته پورته کېږي.

چا چې دا عقبه ماته کړه، ازاد شو؛ او څوک چې ترې په شا شو، هغه بندي پاتې شو... او د هغه خپل "ذات" ورته زندان او "مؤصده اور" وګرځېد.

## قرآن کې د قدر شپه: د درېو سورتونو له لارې يو کوني جوړښت

کله چې موږ د قرآن کريم درې سورتونه (القدر – الفجر – الدخان) سره يو ځای کړو، نو پوهېږو چې قرآن يو واحد کوني (Cosmic) حقيقت له درېو بېلابېلو زاويو بيانوي.

دا زاويې عبارت دي له:

١. د کوني اندازې او تقدير شېبه.

٢. د اور اخيستو او روښانېدو شېبه.

٣. د وجود د تنظيموونکو قوانينو د صادرېدو شېبه.

**سورة القدر: د کايناتو د قوانينو د اندازې (تقدير) شېبه**

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾

دلته "قدر" د تقدير په مانا دی، يانې د اندازو ټاکل. په نوي فزيک کې، د کايناتو د پيل شېبه هماغه وخت دی چې کوني ثوابت (Cosmic Constants) پکې وټاکل شول، لکه:

* د جاذبې قوه.

* د رڼا سرعت.

* د مادې او انرژۍ جوړښت.

که دا ثوابت لږ هم بدل شوي وی، نو کاينات به په دې بڼه نه وو لکه څنگه چې يې موږ پېژنو.

دا کټ مټ هغه څه ته اشاره ده چې په دې نص کې راغلي:

﴿تنزل الملائكة والروح فيها من كل أمر﴾

يانې د کايناتو ټولو تنظيموونکو ځواکونو خپل کار پيل کړ.

**سورة الدخان: د کوني بېلتون (فصل) شپه**

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ﴾

دا ايت په مستقيم ډول د "قدر شپه" تفسيروي. قرآن وايي چې په دې شپه کې: "هر حکمت لرونکی کار بېلېږي او ټاکل کېږي". ياني د کايناتو قوانين په پوره دقت سره يو له بله جلا او مشخص شول.

ګواکې کاينات له يو پټ ګډوډ حالت څخه د قوانينو له خوا کنټرول شوي "منظم" حالت ته ولېږدېدل.

**سورة الفجر: د کايناتو د څرګندېدو شېبه**

بيا د الفجر سورت راځي ترڅو د څرګندېدو (ظهور) شېبه انځور کړي:

﴿**وَالفَجرِ ○ وَلَيَالٍ عَشرٍ**﴾

داسې فهم ونه اخيستل کېدلی شي چې دا ايت د کايناتو له څرګندېدو وړاندې د لېږد (تحول) پړاو ته اشاره کوي.

* لس شپې (ليالٍ عشر): د اور اخيستو وړاندې د انرژۍ د راټولېدو پړاو دی.

* فجر (سپېدې): له تيارې وروسته د رڼا د څرګندېدو شېبه ده.

دا د کايناتو د پيل په اړه د معاصر ساينس له تصور سره سمون لري، چې وايي رڼا له يو کثيف او تياره پړاو وروسته راښکاره شوه.

رمضان: هغه اور اخيستنه (اشتعال) چې کاينات يې ښکاره کړل

الله تعالی فرمايي:

﴿**شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ القُرآنُ**﴾

د "رمضان" کلمه له "رمض" څخه اخيستل شوې چې د سختې تودوخې مانا ورکوي.

دا لغوي مانا د کايناتو د رامنځته کېدو له هغې مرحلې سره لګېږي چې خورا زياته تودوخه ورسره مل وه؛ ځکه کاينات په پيل کې داسې تاوده وو چې بيان يې ممکن نه دی. له همدې امله رمضان د کايناتو د هغې "اشتعالي" مرحلې په توګه درک کېدای شي چې کايناتو پکې خپل ځان ښکاره (مشهود) کړ.

**په قرآني نص کې کوني تسلسل**

کله چې دا سورتونه سره راټول کړو، يو حيرانوونکی تسلسل رامنځته کېږي:

١. لس شپې (الفجر): د اور اخيستو وړاندې د چمتووالي پړاو.

٢. د قدر شپه (القدر): د کايناتو د قوانينو د اندازې ټاکلو شېبه.

۳. بختوره شپه (الدخان): د کوني نظام دقيق بېلتون او ټاکنه.

۴. فجر (سپېدې): د کايناتو راڅرګندېدل (او دويم فجر د هغې پای دی).

۵. رمضان: کوني تودوخه او اور اخيستنه.

**قرآن د وجود د قانون په توګه:**

په دې پوهاوی، چې قرآن يوازې يو ديني نص نه دی، بلکې د وجود د قوانينو يو بيان دی. له همدې امله الله تعالی وفرمايل: ﴿تِبيانًا لِكُلِّ شَيءٍ﴾

يانې دا د انسان پر مخ د هغه کوني نظام د پوهېدو دروازه پرانيزي چې پکې ژوند کوي.

**فکري پايله:**

کله چې موږ دا سورتونه په ګډه ولولو، پوهېږو چې قرآن يوازې له الله سره د انسان اړيکه نه انځوروي، بلکې د پخپله د کايناتو کيسه بيانوي. کاينات په ناڅاپي ډول نه دي پيل شوي، بلکې د يو دقيق "تقدير" په شېبه پيل شوي. هغه شېبه چې د وجود معادلې پکې وليکل شوې.

له همدې امله: ﴿ليلة القدر خير من ألف شهر﴾

ځکه دا په زمانه کې يوه عادي شپه نه ده، بلکې دا هغه شېبه ده چې پخپله "زمانه" پکې وزېږېده.

دا زما عاجزه لوستنه ده، پر چا يې نه تپم او که خطا وم له الله څخه د سمې لارې او هدايت غوښتونکی يم.

## په قرآن کريم کې عبادت: پر سمه لاره (صراط مستقيم) تګ

کله چې په مروج ديني خطاب کې د "عبادت" مفهوم يادېږي، ډېرى وخت ذهن ته د شريعت شعائر او مراسم لکه لمونځ، روژه، ذکر او دعا راځي. خو په قرآن کريم کې تدبر دا روښانه کوي چې د عبادت مفهوم له دغه تنګ چوکاټ څخه خورا پراخ دى؛ قرآن د عبادت يو داسې وجودي او اخلاقي تعريف وړاندې کوي چې هغه د ژوند يو بشپړ مېتود (تګلاره) ګرځوي، نه يوازې د يو څو مراسمو ترسره کول.

شايد تر ټولو روښانه ايتونه چې دا تعريف وړاندې کوي، دا دي:

﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ○ وَأَنِ اعْبُدُونِي هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ﴾.(يس ٦٠-٦١)

په دې ايت کې قرآن يوه ښکاره معادله وړاندې کوي:

عبادت = صراط مستقيم (سمه لاره).

الهي امر "اعبدوني" (زما عبادت وکړئ) سمدلاسه د "صراط مستقيم" په توګه پېژندل کېږي؛ يانې هغه سمه لاره چې انسان بايد په خپل ژوند کې ورباندې لاړ شي.

**دلته يو بنسټيز حقيقت څرګندېږي:**

په قرآن کې عبادت يوازې يو مذهبي دود نه دى، بلکې پر هغې سمې لارې تګ دى چې په کايناتو او ژوند کې د الله له قانون سره همغږي لري.

**عبادت: د شيطان د بندګۍ ضد حالت**

مخکې تر دې چې الله د خپل عبادت امر وکړي، بني آدم ته لومړى عهد (تړون) وريادوي:

﴿أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ﴾ (چې د شيطان عبادت مه کوئ).

دا د عبادت د مانا د پوهېدو لپاره د ژور بصيرت دروازه پرانيزي. شيطان ته معمولاً د سجدې له لارې عبادت نه کېږي، بلکې د هغه پر لاره د تللو له لارې يې عبادت کېږي. يانې د لاندې شيانو پيروي کول:

* سرکښه غوښتنې (هوا او هوس).
* ظلم او تېرى.
* حرص او طمع.
* درواغ او دوکه.
* له عدل او تلې (میزان) څخه منحرف کېدل.

له همدې امله، د شیطان عبادت د فساد او انحراف نظام ته د غاړې اېښودلو په مانا دى.

خو په مقابل کې، د الله عبادت هغو ارزښتونو ته تسلیمېدل دي چې په ژوند کې توازن ساتي.

**په قرآن کې د صراط مستقیم تعریف**

که عبادت "صراط مستقیم" وي، نو د صراط مستقیم پوهېدل د عبادت د درک کولو کیلي ده. قرآن په ډېرو ځایونو کې صراط مستقیم تعریف کړى، لکه:

﴿وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ○ صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ (الشورى ٥٢-٥٣)

صراط مستقیم د الله لاره ده؛ یانې هغه تګلاره چې د هغه پر قوانینو او ارزښتونو ولاړه وي.

همدارنګه فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾.(آل عمران ٥١)

دلته بیا د عبادت او صراط مستقیم ترمنځ تړاو تکرار شوى دى.

خو قرآن دا مفهوم یوازې مجرد (نظري) نه پرېږدي، بلکې په لاندې جامعو ایتونو کې یې په عملي ډول مشخص کوي:

﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ...﴾ (الأنعام ١٥١-١٥٣)

چېرته چې یو شمېر بنسټیز ارزښتونه یادوي، لکه:

* شرک نه کول.
* له مور او پلار سره نېکي.
* د ژوند (نفس) ساتنه.
* په خبرو او قضاوت کې عدالت.
* په تله (میزان) کې پوره والى.

* د حقونو ساتل.

بیا دا ټول نظام په دې جمله پای ته رسوي: ﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ﴾

په دې توګه روښانه کېږي چې صراط مستقیم د اخلاقو او عدالت یو داسې نظام دی چې د انسان او ټولنې ژوند تنظیموي.

**عبادت د ژوند د تګلارې په توګه:**

د دې ایتونو له لارې یوې بنسټیزې پایلې ته رسېدای شو: په قرآن کې عبادت یو داسې دیني فعالیت نه دی چې له ژوند څخه جلا وي، بلکې د الله له خوا د ایښودل شوي ارزښتي قانون سره سم ژوند کولو ته ویل کېږي.

انسان هغه وخت د الله عبادت کوي کله چې:

* عدالت ته ژمن وي.

* حقونه خوندي وساتي.

* په خبرو کې رښتینی وي.

* پر خپلو ژمنو وفا وکړي.

* د نورو کرامت وساتي.

* په معاملو کې تله او انډول وساتي.

په دې سره عبادت یو دوامداره تمدني چلند ګرځي چې یوازې په مذهبي مراسمو کې نه رانغاړل کېږي.

**انسان بې له بندګۍ ژوند نه کوي:**

قرآن یو ژور وجودي حقیقت بیانوي: انسان په خپل فطرت کې یو "بنده/عابد" موجود دی، خو د خپل عبادت موضوع پخپله ټاکي.

انسان یا خو لاندې شیانو ته غاړه ږدي:

* هوا او هوس ته.

* تنګو ګټو ته.

* واک او مال ته.

* وېرې او غوښتنو ته.

دا ټول د شیطان د بندګۍ ډولونه دي.

او یا هم د هغو لوړو ارزښتونو نظام ته تسلیمېږي چې وحې راوړي دي، چې دا د الله عبادت دی.

له همدې ځایه، صراط مستقیم له درواغجنو بندګیو څخه د خلاصون او یوازې د الله د بندګۍ نظام ته د ننوتلو لاره ده.

**عبادت او حنیفیت:**

دا فهم له هغه ابراهیمي مېتود سره سمون لري چې قرآن ورته "حنیفیت" وایي. حنیفیت یوازې یوه عقیدوي ادعا نه ده، بلکې د حق په لور یو دوامداره حرکت او د لارې د سمون تلپاتې هڅه ده. یانې د منحرفو میراثونو او فکري او ټولنیزو طواغیتو له عبادت څخه ازادي او د حق تلې (میزان) ته راستنېدل.

**دا په قرآن کې د عبادت جوهر دی:**

پر صراط مستقیم په شعوري ډول تګ، چې د انسان کرامت ساتي، ژوند پر عدل او میزان دروي.

**پایله:**

په قرآن کې عبادت له ژوند څخه جلا شوی رسم نه دی، بلکې یو هراړخیز وجودي مېتود دی چې پر صراط مستقیم تګ باندې ولاړ دی. او صراط مستقیم د هغو ارزښتونو نظام دی چې په انسان او ټولنه کې توازن ساتي.

له همدې امله د عبادت اصل په ډېرو مراسمو کې نه، بلکې په ژوند کې د عدل او میزان په پلي کولو کې دی.

انسان هغه وخت په حقه د الله عبادت کوي کله چې پر هغې لارې لاړ شي چې الله د ژوند لپاره خوښه کړې ده: د حق، عدل، رحمت او میزان لاره.

## "د آدم د دوو زامنو خبر": یو تکراري ټکر، نه یوه پای ته رسېدلې کیسه

### خدای ته د نږدې کېدو د دوو بېلابېلو لارو ترمنځ د خونړي ټکر د پدیدې په اړه سریزه:

قرآن کریم د ساتېري یا یوازې د تاریخي یادښت لپاره کیسې نه دي راوړي، بلکې موږ ته د هغه څه خبر راکوي چې زموږ په وجودي مسیر کې تکرارېږي. د قرآن له عجیبو ټکو څخه یو دا دی چې کله یې په بشریت کې د لومړنۍ وژنې پېښه روایت کړه، د هغو د کسانو نومونه یې یاد نه کړل، بلکې ویې فرمایل: ﴿واتلُ علیهم نبأ ابني آدم بالحق﴾ [المائدة: ۲۷]

دا یې ونه ویل چې "هابیل" او "قابیل"، بلکې ویې ویل "د آدم دوه زامن"؛ ګواکې الله تعالی موږ ته فرمایي: دا یوه نه ختمېدونکې پدیده ده، نه یوازې یوه تېره شوې پېښه.

دا ستاسو په اړه یو خبر دی، چې تر قیامت پورې به شتون ولري.

### د خبر جوهر: خدای ته د نږدې کېدو پر سر خونړی ټکر

ایت موږ ته خبر راکوي چې د آدم دواړو زامنو الله ته نذرانه (قرباني) وړاندې کړه، له یوه څخه قبوله شوه او له بل څخه قبوله نه شوه. خو دلته "قرباني" یوازې یو حلال شوی حیوان نه دی، بلکې الله ته د نږدې کېدو د "لارې او طریقې" یو رمز دی. دلته موږ له دوو متضادو بېلګو سره مخ یو:

۱. هغه څوک چې د تقوی، نیت او اصلاح له لارې الله ته نږدې کېږي.

۲. او هغه څوک چې د شکل، ادعا او د مخالف لوري د حذفولو له لارې نږدې کېږي.

د دویم کس قرباني قبوله نه شوه، نو پر لومړي کس یې برید وکړ؛ نه دا چې لومړي کس ورباندې ظلم کړی و، بلکې له دې امله چې ده احساس کاوه د لومړي کس نږدېوالي دی رسوا کړ، یا یې دا نه شو زغملی هغه نور (رڼا) چې لومړی کس یې چاپېر کړی و، باید د ده حق وای.

دا د هغې پدیدې اصل دی چې الله یې خبر راکوي: کله چې د الله په لور د لارو اختلاف ونه زغمل شي، هلته "دیني تاوتریخوالی" زېږي او د دینونو ترمنځ کرغېړنه جګړه پیل کېږي.

**ولې نومونه یاد نه شول؟**

کله چې قرآن بې له نومونو "د آدم دوه زامن" وايي، نو دا یو "تاریخي پېښه" نه روایت کوي، بلکې د بشریت په مسیر کې یو تکراري ستایل (نمط) ته اشاره کوي.

* په هر عصر کې یوه داسې ډله شته چې په "تقوی" نژدې کېږي، او بله ډله شته چې په "کینې او د دین په انحصار" نژدې کېږي.

* په هره ټولنه کې داسې څوک شته چې نژدېوالی يې په خاموشی، رحمت او نیت قبلېږي، او بل داسې څوک شته چې غواړي په "وینې او د بل په له منځه وړلو" قبول شي.

دلته د نومونو نه یادول، له زماني محدودیت څخه د کیسې ایستل او پر وجودي تلپاتې والي یې ټینګار دی. هر څوک چې دا کیسه لولي، باید له ځانه وپوښتي:

ایا زه قاتل یم که مقتول؟ ایا زه هغه یم چې نژدېوالی مې قبلېږي، که هغه یم چې پر مقبول باندې کینه کوم؟

**کله چې دیني حسد په وینه بدل شي**

"زه به خامخا تا وژنم"؛ ولې؟

* ځکه چې له ده څخه نذرانه قبوله نه شوه.

* ځکه چې ده دا ونه شو زغملی چې بل تر ده الله ته نژدې وي.

* ځکه چې دی الله ته نژدېوالی یو "شخصي امتیاز" ګڼي، نه د ټولو لپاره یو پرانیستی حق.

نو د صالح انسان ځواب دا و:

"بې له شکه چې الله یې یوازې له پرهېزګارانو (متقین) څخه قبلوي."

الهي قبلېدل په بیه نه اخیستل کېږي، نه تپل کېږي او نه په زور ترلاسه کېږي.

په دې توګه د هغه ټکر جوهر څرګندېږي چې دا "خبر" موږ ورته متوجه کوي:

ټکر پر ځمکه نه دی، بلکې الله ته د نژدې کېدو پر "شریعت" دی.

دا پدیده په هر عصر کې شته: دا کیسه په نویو جامو کې تکرارېږي:

* په هغه چا کې چې خلک ځکه "تکفیروي" چې د ده په څېر لمونځ نه کوي.

* په هغه چا کې چې د "الله لپاره د وفادارۍ" په نوم هغه څوک وژني چې په نظر کې ورسره مخالف وي.

* په هغه چا کې چې فکر کوي الله یوازې له هغه چا راضي کېږي چې د ده پر لاره ځي.

او تر ټولو خطرناکه دا ده چې کله دا کینه په یو "تکفیري-خونړۍ" پروژې بدله شي، او د خپلې باطني ناروغۍ پټولو لپاره د "دیني غیرت" ماسک واغوندي.

**د آدم له دوو زامنو تر ننني صحنو پورې: قاتل لا ژوندی دی**

هغه څه چې نن د تاوتریخوالي او ترهګرۍ په نوم د متطرفو (افراطي) ډلو لخوا د هغو ټولنو پر وړاندې ترسره کېږي چې دوی ته یې پناه ورکړې، امان یې ورکړی او کرامت یې ور بخښلی، دا د همدې قرآني خبر ژوندی او تکراري انځور دی.

* هغه ټولنې، سره له دې چې دیني او کلتوري توپیر لري، په خپل جوهر کې د عدالت، رحمت، انساني ازادۍ او کرامت په لټه کې دي.

* دوی په "عملي تقوی" الله ته نژدې کېږي، نه په شعارونو.

* هغوی د آدم زامنو ته له هر رنګ او دین څخه خپلې دروازې پرانیزي او داسې یې مني لکه یو بدن چې نوې حجرې قبلوي. خو په منځ کې یې داسې څوک راپیدا کېږي چې داخلي قرباني یې نه ده قبوله شوې؛ نه دا چې چانس نه دی ورکړل شوی، بلکې ځکه چې په خپل زړه کې یې پر هغه چا کینه درلوده چې تر ده یې رڼا ته نژدې لیدلی و. نو خپل جرم د غصې له امله نه، بلکې د یوې "جعلي دیني انګېزې" له امله ترسره کوي؛ داسې چې مخالف لوری "ګوابس"، کافر "قرباني" او صالح انسان "رسوایي" ګڼي.

"زه به خامخا تا وژنم"... دا خبره لا اوس هم هر هغه څوک کوي چې د الله په نوم چاودنه کوي، تکفیر کوي او د مخالف لوري غاړه پرې کوي.

دا هماغه د آدم زوی دی چې قرباني یې نه وه قبوله شوې، نو پر ځای د دې چې الله ته د اصلاح په نیت ورشي، د خپل ورور وژلو ته ورغی.

**پایله:**

په هر عصر کې، د آدم دوه زامن له سره زېږي:

* یو یې په تقوی، اخلاقو او احترام الله ته نژدې کېږي.

* او بل یې په تاوتریخوالي، بدګمانۍ او وینو نژدې کېږي.

او موږ هر یو باید په خاموشۍ له خپل ځان څخه وپوښتو:

"زه په دې کې کوم یو یم؟"

## سورة الضحی

### د پرله‌پسې بدلون قانون او د شعور رامنځته کېدل

الله تعالی فرمايي:

﴿وَالضُّحَىٰ ○ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ○ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾

تفسير کوونکي عادت دي چې د الضحی سورت پيل پر ضحی او شپه باندې يو الهي قسم وګڼي، خو د قرآني خطاب په طبيعت کې تدبر موږ يوې ژورې پوهې ته بيايي؛ ځکه قرآن په خپل جوهر کې يوازې د بلاغي قسمونو کتاب نه دی، بلکې د سننو او قوانينو کتاب دی چې د انسان لپاره د وجود نظام روښانه کوي.

له همدې امله د الله تعالی دا قول ﴿والضحی والليل إذا سجی﴾ بايد د قسم په توګه نه، بلکې د يوه کوني قانون په توګه درک شي چې د نړۍ نظام ورباندې ولاړ دی؛ او هغه د حالتونو ترمنځ د "تعاقب" يا پرله‌پسې بدلون قانون دی.

**د ضحی (ځاښت) مانا:**

په عربي ژبه کې د "ضحی" کلمه يوازې د ورځې مانا نه ورکوي، بلکې د ورځې يوې ځانګړې مرحلې ته اشاره کوي؛ دا هغه وخت دی چې تر لمر ختلو وروسته لمر پورته شي او د رڼا خپرېدل پکې بشپړ شي.

**ورځ له څو مرحلو تېرېږي:**

* فجر (سپېدې): د رڼا د راوتلو پيل.
* شروق (لمر ختل): د لمر ښکاره کېدل.
* ضحی (ځاښت): د نور خپرېدل او د ليد بشپړ وضاحت.

نو له همدې ځايه، ضحی له تيارې څخه رڼا ته تر اوږده تدرج وروسته د رڼا د "بشپړېدو" شېبه ده. قرآن ځکه "والنهار" ونه ويل، بلکې ﴿والضحی﴾ يې وويل، ياني هغه شېبه چې ليد پکې پوره روښانه وي. نو ضحی يوازې يو وخت نه، بلکې د وضاحت د بشپړېدو پړاو دی.

**کله چې شپه ارامه شي (والليل إذا سجى):**

دا قول مقابل حالت بیانوي. په لغت کې د "سجى" فعل پر لاندې شیانو دلالت کوي:

* سکون (ارامتیا).

* هدوء (کراري).

* استقرار (ثبات).

یانې شپه کله چې ارامه شي، نو د بشپړې سکتې او سکون مرحلې ته رسېږي. په دې توګه "ضحی" او "لیله" په وجود کې د دوو اساسي حالتونو انځورګري کوي:

* د ډکوالي او وضاحت حالت (الضحى).

* د سکون او پټېدو حالت (الليل إذا سجى).

**په سورت کې یو بنسټیز ټکی**

دا هم د پام وړ ده چې د دواړو ایتونو ترتیب داسې راغلی: لومړی "ضحی" او بیا "شپه"، په داسې حال کې چې د وخت طبیعي ترتیب داسې دی: لومړی شپه او بیا ضحی. دا تقدیم او مخکې راوستل بې ځایه نه دي.

سورت لومړی په رڼا پیل کوي ترڅو هغه حقیقت ثابت کړي چې نص یې غواړي: دا چې "رڼا" اصل دی، او د تیارې دورې د وجود په دوره کې یوازې یوه تېرېدونکې مرحله ده. په دې سره په راتلونکي ایت کې مانا روښانه کېږي: ﴿مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾

یانې هغه تیاره چې ته ورڅخه تېرېږې، د الله له خوا ستا پرېښودل نه دي، بلکې د "تعاقب" په قانون کې یوه مرحله ده. همدارنګه دا سورت د انسان د ژوند پر درېو زماني مرحلو ولاړ دی:

۱. ماضي (تېر مهال): ﴿أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ﴾

۲. حال (اوس مهال): ﴿مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾

۳. راتلونکی (مستقبل): ﴿وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ﴾

دا ښیي چې دا سورت په حقیقت کې د وخت په تېرېدو سره د انسان د تکامل په اړه یوه قرآني نظریه ده.

## په کايناتو کې د تعاقب قانون

دا دوه حالتونه يو عمومي قانون دی چې پر ټول کاينات واکمن دی. موږ يې په لاندې شيانو کې وينو:

* د شپې او ورځې په بدلېدو کې.
* د فصلونو په اوښتلو کې.
* د سمندر په مد او جزر کې.
* د ژونديو موجوداتو په فعاليت او استراحت کې.
* د تمدنونو په عروج او زوال کې.

وجود پر يوه مستقيمه کرښه حرکت نه کوي، بلکې د دوامداره بدلون په دايرو کې حرکت کوي. قرآن دا قانون داسې بيان کړی: ﴿وَتِلْكَ الأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ﴾. هېڅ حالت تلپاتې نه دی، ځکه "حرکت" د ژوند جوهر دی.

## د شعور په رامنځته کېدو کې تعاقب:

دا سورت يوازې د کايناتو په اړه نه، بلکې د انساني شعور د حرکت په اړه هم خبرې کوي. "ضحی" د حقيقت د ځرګندېدو شېبه ده، او "شپه" د پوهې د پوخوالي او پټ پاتې کېدو مرحله ده. د انسان په فکري ژوند کې افکار له دريو پړاوونو تېرېږي:

۱. حيرانتيا او ابهام. ۲. داخلي سکون، چېرته چې عقل په پټه کار کوي. ۳. ځرګندېدل، چېرته چې فکر په واضح ډول ښکاره شي. دا وروستۍ شېبه هماغه "معرفتي ضحی" ده.

## شپه نشتوالی نه، بلکې چمتووالی دی:

ددغه قانون تر يادولو وروسته الله فرمايي: ﴿مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ﴾.

يانې د چوپتيا يا ابهام دورې الهي پرېښودل نه دي، بلکې دا پخپله د "جوړښت" د پروسې يوه برخه ده. لکه څنګه چې يو جنين د ودې لپاره د رحم تيارې ته اړتيا لري، افکار هم تر روښانه کېدو وړاندې يوې "داخلي شپې" ته اړتيا لري.

## پايله:

د الضحی سورت د يو داسې ژور قانون څخه پرده پورته کوي چې پر کايناتو او انسان دواړو حاکم دی: دا چې وجود د حالتونو پر پرله‌پسې بدلون (تعاقب) ولاړ دی.

ضحی تر شپې وروسته راځي، لکه څنګه چې شپه له ضحی وروسته راځي. چا چې دا قانون درک کړ، هغه يو ساده خو ژور حقيقت وموند: "دوام د هېڅ حالت ممکن نه دی."

شپه د ضحی ضد نه ده، بلکې هغې ته د رسېدو لاره ده.

# روژه په قرآن کې

## له خوړو تر ډډې کولو، عکوف او د مصرف تر کنټرول پورې

**سریزه:**

دیني شعور عادت شوی چې روژه یوازې له خوراك او څښاك څخه په ډډه کولو کې خلاصه کړي، گواکې "لوږه" پخپله هدف وي؛ خو په قرآني ایتونو کې تدبر ښیي چې موضوع له دې ډېره روژه ده. په قرآن کې روژه یوازې یو جسدي رسم نه دی، بلکې یو داسې قانون دی چې انسان له احتیاج او تبعیت څخه ازادوي او د هغه شعور او چلند له سره جوړوي.

**لومړی: روژه د یوه "کتاب" په توگه، نه د یو دود په توگه**

﴿كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ﴾

دلته "کتابت" یوازې یو شکلي فرض نه دی، بلکې یو "عملیاتي سیستم" دی چې هدف یې په انسان کې د یو داخلي حالت فعالول دي، او دا حالت دادی:

له اتوماتیکو غبرگونونو څخه ازادي.

**دویم: "أیام معدودات" – تمرین، نه ستوماني**

﴿أَيَّامًا مَّعۡدُودَٰتٍ﴾

**روژه:**

* یو دایمي حالت نه دی.

* او نه د بدن د زبېښلو لپاره ده.

بلکې: یو متمرکز او محدود تمرین دی ترڅو انسان خپل ځان له سره تنظیم کړي.

**دریم: په قرآن کې "خوړل" (الأکل) – له تغذیې تر مصرفه**

قرآن د "خوړلو" کلمه په دوو سطحو کاروي:

۱. بدني خوړل: ﴿وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ﴾

۲. وجودي خوړل: ﴿وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ﴾

نو "خوړل/اکل" یانې: هر هغه څه چې ته یې خپل ژوند ته داخلوي او په ځان کې یې جذبوي؛ که هغه خواړه وي، که مال، که فکر وي او که عادت.

**څلورم: روژه = د مصرف کنټرول**

د دې پر بنسټ، روژه له غیر شعوري "مصرف" څخه ډډه کول دي. یانې:

* د خوړو پر ضد نه ده، بلکې د خوړو د غلامۍ پر ضد ده.
* د غوښتنو (رغبت) پر ضد نه ده، بلکې د غوښتنو د سلطې پر ضد ده.

له همدې امله روژه داده: له عادت یا اعتیاد څخه د ارادې ازادول.

**پنځم: فدیه – له مصرف څخه ورکړې (عطاء) ته بدلون**

﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾

څوک چې روژه نه نیسي، سزا نه ورکول کېږي، بلکې د "تغذیې" (ډوډۍ ورکولو) لوري ته یې لارښوونه کېږي؛ ځکه د روژې جوهر د مصرف کمول یا کنټرولول دي. که دا هدف په روژه کې ترلاسه نشي، نو بل ته د خپل مصرف په لېږلو (ایثار) سره ترلاسه کېږي. دلته انسان خپل مصرف په "ورکړې" سره جبرانوي او د هغه څه په بدل کې چې ده خوړلي، یو مسکین مړوي.

**شپږم: روژه د عکوف په توګه – د شعور حالت ته ننوتل**

﴿وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ دا ایت د روژې ژور اړخ روښانه کوي:

روژه یوازې "نه خوړل" نه دي، بلکې د "عکوف" حالت ته ننوتل دي.

عکوف څه شی دی؟ عکوف یانې له یو شي سره ملګرتیا، ورباندې تمرکز او په بشپړ ډول پکې بوختېدل؛ مطلب یو متمرکز شعور.

**دلته "مسجد" څه مانا لري؟**

یوازې یو ځای نه دی، بلکې: د "سجدې" حالت دی، چې مانا یې د الله قانون (ارزښتونو، حق او توازن) ته شعوري تسلیمېدل دي. روژه = پر خپل ځان عکوف کول. کله چې ماناګانې سره راټولې کړو:

* روژه = د مصرف کنټرول.
* عکوف = د شعور تمرکز.

نو پایله دا شوه چې: روژه د عکوف یو داسې حالت دی چې انسان پکې خپل ځان بیا رغوي.

**ولې له "مباشرت" (جنسي نژدیوالي) څخه منع شوې؟**

ځکه مباشرت د لاندې شیانو نښه ده:
* حسي بوختیا.
* د شهوت لوري ته راکښل.
* د بهرني تیت والي (تشتت) لامل.
دا منع کول دایمي تحریم نه دی، بلکې د "عکوف" د حالت له پرې کېدو څخه ساتنه ده.

**اووم: روژه له اعتیاد څخه د خلاصون په توګه**

روژه په لاندې اعتیادونو کې راځي:
* د خوړو اعتیاد.
* د عادتونو اعتیاد.
* د چلند اعتیاد.
* د افکارو اعتیاد.
پایله دا چې: روژه یوازې د هغو شیانو په اړه نه ده چې موږ یې خورو، بلکې د هغو شیانو په اړه ده چې موږ "خوري" (موږ مصرفوي).

**اتم: تقوی – د روژې پایله**

﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ دلته تقوی مانا: شعور، کنټرول او د انتخاب وړتیا.
یانې: له یو داسې موجود څخه چې غریزو ټېله کړی وي، په یو داسې "انسان" بدل شې چې پخپله "انتخاب"کوي.

**پایله:**

په قرآن کې روژه لوږه نه ده، بلکې ازادي ده. ډډه کول نه دي، بلکې عکوف دی. یو وچ رسم نه دی، بلکې د انسان له سره جوړول دي. نو یا خو:
* خپل مصرف د روژې له لارې کنټرول کړه.
یا:
* هغه د "عطاء" او ورکړې له لارې بل ته ورکړه.
په دواړو حالاتو کې هدف یو دی:
چې د احتیاج او تبعیت له دایرې راووځې او د شعور او تقوی حالت ته ننوځې.

# په قرآن کريم کې د "صدر" (سينه) مفهوم

## د عصري ساينس په رڼا کې يو معرفتي لوست

الله تعالی فرمايي: ﴿قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي﴾ (طه: ۲۵)

د "صدر" مفهوم يو له هغو قرآني مفاهيمو څخه دی چې په دوديز ډول يوازې په فزيکي مانا کې محدود شوی دی؛ داسې چې يوازې د بدن سينې يا د زړه ځای ته اشاره ګڼل کېږي. خو په قرآني سياق کې د دغه لفظ پلټنه ښيي چې دا مفهوم له جسدي جوړښت څخه ورهاخوا ژور معرفتي او رواني اړخونه لري، چې د انساني شعور له جوړښت سره تړلي دي.

**لومړی: صدر د يو معرفتي حيز (ځای) په توګه، نه د غړي په توګه**

په قرآن کې د "صدر" کلمه ډېری وخت له ادراکي او انفعالي دندو سره تړلې راغلې، لکه:

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ﴾ (الشرح: ۱) او يا دا قول:

﴿فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾ (الحج: ۴۶)

دلته "صدر" د لوړو ادراکي عمليو د لوښي په توګه راڅرګندېږي، نه يوازې د يوه اناتوميک ځای په توګه. د نص له مخې، زړه "په صدر کې" دی، چې دا ښيي "صدر" د شعور د دندو د ساتنې او پالنې يو چوکاټ دی.

**دويم: په مغزو کې د دندو وېش او له قرآني مفهوم سره يې تړاو**

د اعصابو د ساينس نوي مطالعې ښيي چې د مغزو د برخو ترمنځ توپير شته:

* د مغزو منځنۍ او شاتنۍ برخې: چې له بنسټيزو ادراکي عمليو او منطقي تحليل سره تړلې دي.

* مخکنۍ تندی (Prefrontal Cortex): چې د اخلاقي پرېکړو، عاطفي تنظيم او ټولنيز تعامل مسوول دی.

دا وروستۍ برخه، چې هماغه زړه دی چې په صدر کې ځای لري، د انسان د عصبي تکامل تر ټولو لوړه کچه ده او له هغه څه سره تړاو لري چې "عاطفي او اخلاقي ځيرکتيا" ( & Emotional Moral Intelligence) ورته ويل کېږي.

له دې ځایه، په قرآني لیدلورې کې "صدر" د شعور د همدې پرمختللې کچې استازیتوب کوي؛ هغه کچه چې یوازې پر عقلي تحلیل بسنه نه کوي، بلکې پرېکړه د ارزښتونو یوې منظومې ته سپاري.

"صدر" له "صدارة" څخه دی، چې مانا یې د بدن مخکنۍ او لومړنۍ برخه (تندی) ده، او "قلب" (زړه) هغه اوښتونکی غړی دی چې شیان درک کوي او پرې پوهېږي.

**دریم: شرح الصدر د ارزښتونو د فعالولو د پروسې په توګه**

که "صدر" د شعور دغه پرمختللی اړخ وي، نو د "شرح الصدر" (د سینې خلاصول) مانا داسې کېدای شي:

د ارزښتونو د درک کولو د وړتیا پراخول، او د عقلي پرېکړې و اخلاقي معیار ترمنځ د همغږۍ پیاوړي کول. ځکه مجرد عقل ښایي اسانه او بې لګښته لارې (د ګټې پر بنسټ) غوره کړي، خو "صدر" په دغه پوهه کې د عدالت، مسوولیت او له نورو سره د اړیکې معیارونه داخلوي. دا له قرآني جوړښت سره سمون لري چې د لاندې شیانو ترمنځ توپیر کوي:

* ادراک: (شاتنی مغز).
* بصیرت: (ارزښتي لیدلوری).
* صدر: (مخکنی مغز چې د پرېکړې د ارزښتي اړخ مسوول دی).

**څلورم: د فطري هڅو او ارزښتي منظومې ترمنځ داخلي جګړه**

قرآني نصوص په نفس کې یو داخلي فشار ته اشاره کوي:

﴿إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ﴾ (یوسف: ۵۳)

دا کشمش په نوي رواپوهنه کې د لاندې دوو شیانو ترمنځ د جګړې په توګه پېژندل کېږي:

* غریزي هڅې (Impulses).
* اجرایوي کنټرول (Executive Control): چې له مخکني تندي (صدر) سره تړلی دی.

په دې سیاق کې "شرح الصدر" د لاندې شیانو پروسه ده:

* د ارزښتي کنټرول ځواکمنول.
* او د چلند لوري ته د داسې انتخابونو ورکول چې له لنډمهالې خوند اخیستنې څخه تېر شي او اخلاقي مسوولیت ته ورسېږي.

**پنځم: د فکر کولو انرژيکي او معرفتي اړخ**

څېړنې ښيي چې مغز د بدن د انرژۍ لويه برخه مصرفوي، په ځانګړي ډول کله چې لوړې اجرايوي دندې فعالې شي. انتقادي فکر، اخلاقي پرېکړه او د احساساتو کنټرول ټول لوړې انرژۍ ته اړتيا لري. له همدې ځايه، د انسان تمايل په لاندې شيانو تفسير کېدای شي:

* معرفتي ارامتيا (Cognitive Ease): ياني له فکري زحمته تېښته.
* له ژورې ذهني هڅې څخه ډډه کول.

دا چاره په ټولنه کې د دې لامل کېږي چې انسان:

* له پلټنې پرته هر څه ومني.
* يا خپل فکر نورو (لکه فقيه يا ديني عالم) ته وسپاري.

خو په قرآني ليدلوري کې "شرح الصدر" د دې ضد دی؛ دا د شعور د فعالولو بلنه ده، نه د هغه د شندلو، او د درک کولو د بيې پرې کولو بلنه ده، نه ترې د تېښتې.

**شپږم: په قرآني-علمي ليدلوري کې د "صدر" بيا تعريف**

د پورتنيو خبرو پر بنسټ ويلای شو چې: صدر په انساني شعور کې هغه وظيفوي حيز دی چې پکې عقلي عمليې له ارزښتي معيارونو سره يو ځای کېږي، او په عصبي ډول د مخکنۍ تندي (Frontal Lobe) له دندو سره تعبيرېږي.

خو "شرح الصدر" د دغه ځای پراخول او ځواکمنول دي، ترڅو انسان وکولای شي له اخلاقي او معرفتي پلوه متوازنې پرېکړې وکړي.

**لنډيز:**

هغه زړونه چې دوی يې په وسيله پوهېږي، په مغزو کې دي؛ خو "صدر" د مغزو مخکنۍ برخه ده چې د انساني اړيکو او هغې ځيرکتيا مسووله ده چې "عاطفي او ټولنيز هوش" ورته ويل کېږي. د دې برخې "شرح کول" ياني هغه د مغزو پر شاتنۍ برخه (چې د ځانپالنې او شخصي ګټې مسووله ده) برلاسې کول.

همدارنګه ويلای شو چې په قرآن کې "صدر" يوازې يو جسدي غړي ته نه وايي، بلکې د انساني شعور يوې پرمختللې کچې ته وايي چې پکې پرېکړې د ارزښتونو په رڼا کې نيول کېږي. "شرح الصدر" يوازې يو تېرېدونکی احساس نه دی، بلکې يو معرفتي-وظيفوي بدلون دی چې انسان ته دا وړتيا ورکوي چې له غريزي تمايلاتو څخه شعوري اخلاقي انتخاب ته لوړ شي.

# الله د اسمانونو او ځمکې نور دی

## د "نور" او "ادراک" د مفهوم یوه علمي لوستنه

﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾

کله چې موږ نن دا ایت د نوي ساینس په رڼا کې لولو، موږ ساینس پر نص نه تپو، بلکې دا کشف کوو چې نص پخپله د ساینس د ژور فهم لپاره نوي افقونه پرانیزي.

په فزیک کې: نور هغه څه نه دی چې موږ یې وینو.

په عصري فزیک کې، نور (فوټونونه) نه "رنګ" دی او نه "شکل"، بلکې یوه برېښنایي مقناطیسي (Electromagnetic) انرژي ده چې په ثابت سرعت حرکت کوي. تر ټولو مهمه دا چې: نور پخپله نه لیدل کېږي... بلکې هغه وخت لیدل کېږي چې له مادې سره تعامل وکړي. هغه څه چې موږ یې وینو، نور نه دی، بلکې د نور اثر دی.

دا موږ نېغ په نېغه د ایت مانا ته بیایي: **الله د یوه داسې څیز** په توګه نه درک کېږي چې زموږ تر حواسو او د عقل تر احاطې لاندې راشي، بلکې په کایناتو کې د خپلو اثارو له لارې درک کېږي.

بې له نوره... مرئي (لیدل کېدونکی) وجود نشته.

له علمي پلوه، که رڼا ورکه شي:

* نه رنګ شته.

* نه شکل شته.

* نه درک کېدونکی واټن شته.

* نه بصري (لیدل کېدونکی) وخت شته.

یانې نړۍ به "ورکه نه شي"، خو د ادراک وړ به هم نه وي. دلته ژوره مانا دا ده: نور د نړۍ برخه نه ده... بلکې د نړۍ د ښکاره کېدو شرط دی.

دا کټ مټ له دې سره ورته دی: الله د کایناتو برخه نه دی... بلکې د هغو د ادراک او مانا شرط دی.

**نور او وخت: یو عجیبه تړاو**

په نسبیت (Relativity) کې، د رڼا سرعت په کایناتو کې تـر ټولـو لـوړ ثبـات دی. هـر څـه — وخت، کتله، حرکت — د هغه په پرتله اندازه کېږي. په بل عبارت: نور د "کوني اندازې مرجع" ده.

دلته د نور دلالت نور هم پراخېږي: که رڼا د فزیک ثابته مرجع وي، نـو "د الله نـور" د شـعور او مانا مرجع ده.

**نور او انساني ادراک**

د اعصابو په علم (Neuroscience) کې:

* سترګې "واقعیت" نه ویني، بلکې رڼا اخلي.

* مغز دا سګنالونه په انځور ژباړي.

* هغه څه چې موږ یې وینو، یو ذهني جوړښت دی چې پر رڼا ولاړ دی.

یانې لیدل مستقیم نـه دي، بلکـې یـو تـأویلي (Interpretative) بهیـر دی. دا یـوه ژوره دروازه پرانیزي: نور نه یوازې شیان ښکاره کوي، بلکې دا هم ټاکي چې موږ یې څنګـه وفهمـوو. دلتـه ایـت ښکاره کېږي: ﴿يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ﴾ یانې هدایت یوازې د یـو انځـور ورکـول نـه دي، بلکـې پخپله د لیدلو د طریقې سمول دي.

**د انسان مشکات: یو بشپړ ادراکي موډل**

﴿كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ﴾

که موږ دا مثال په علمي-فلسفي ډول ولولو:

* مشکات (تاخچه): حسي دستګاه (چوکاټ).

* مصباح (ډیوه): د سګنال سرچینه.

* زجاجه (ښیښه): پروسس یا معالجه (عقل).

* زیت (تېل): داخلي چمتووالی (فطرت).

﴿يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ﴾

یانې انسان تر زدکړې وړاندې هم ادراک ته چمتو دی، دا له هغه څه سره لګېږي چې نـن ورتـه "فطري ادراکي چمتووالی" (Innate cognition) ویل کېږي.

**نور پر نور: معرفتي تراکم**

په ساینس کې، پوهه په تراکمي (ترازو شوي) ډول مخکې ځي:

کتنه (ملاحظه) ← فرضیه ← تجربه ← نظریه.

دا د ﴿نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ﴾ سره ورته ده؛ نور یوه شېبه نه ده، بلکې د حقایقو د څرګندېدو یو تراکمي بهیر دی. په ساینس کې تیاره: یوازې د رڼا نشتوالی نه دی. په فزیک کې لرو:

* توره ماده (Dark matter).

* توره انرژي (Dark energy).

چې د کایناتو لویه برخه جوړوي، خو موږ یې مستقیم نه شو لیدلی. دلته یو حیرانوونکی پاراډوکس شته: د کایناتو تر ټولو لویه برخه... نه لیدل کېدونکې ده. دا له قرآني مانا سره سمون لري: تیاره یوازې د رڼا نشتوالی نه دی، بلکې د هغه څه شتون دی چې لا تر اوسه نه دي فهمول شوي.

**پایله:** کله چې ساینس له وحې سره یو ځای کېږي

ساینس موږ ته وايي: څنګه وینو؟ خو قرآن له موږ پوښتي: په څه شي وینو؟

ساینس میکانیزم بیانوي، خو قرآن مانا کشفوي.

**ژوره پایله:**

که رڼا د نړۍ د لیدلو شرط وي... نو الله د هغې د پوهېدو شرط دی. که ستا سترګې په رڼا ویني، نو ستا شعور د الله په نور ویني.

مهمه پوښتنه: که ستاسو د نړۍ ټول لید پر رڼا ولاړ وي... ایا دا ممکنه ده چې د حقیقت په اړه ستاسو ټول افکار یوازې یو عکس وي... نه پخپله حقیقت؟

ځکه الله پخپله "الحق" دی: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ﴾

(او دا د یوې بلې مقالې موضوع ده).

## کلکه کړۍ (العروة الوثقى): له طاغوته په انکار پیل کېږي

{فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا}

(نو څوک چې له طاغوت څخه منکر شي او پر الله ایمان راوړي، نو په یقین سره چې هغه پر داسې کلکې کړۍ منګولې لګولې دي چې هېڅ شلېدل نه لري).

{وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ}

(او څوک چې خپل ځان الله ته وسپاري او هغه نېکچارى (محسن) وي، نو په یقین سره چې هغه پر کلکه کړۍ منګولې لګولې دي).

په یوه سرسري لوستنه کې ښایي "کلکه کړۍ" یو مستقیم ایماني حالت یا د دیني تړاو یوه طبیعي پایله ښکاره شي؛ خو قرآن یو بل ډول لیدلوری وړاندې کوي چې له یوې ټکان ورکوونکې نقطې پیل کېږي:

لومړی ایمان نه دی... بلکې کفر (انکار) دی.

**له طاغوت څخه انکار: هغه پیل چې له پامه غورځول شوی**

ایت داسې نه وایي چې: "څوک چې پر الله ایمان راوړي او له طاغوت څخه منکر شي"، بلکې په پوره وضاحت فرمایي:

{فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ}

دا مخکې راوړل یوازې لفظي بڼه نه لري، بلکې د شعور یو قانون دی:

انسان تر هغه وخته حقیقت ته نشي رسېدلی، څو پورې چې د داسې یوې واکمنۍ (سلطې) تر اغېز لاندې وي چې هغه یې په خپله په شعوري ډول نه وي غوره کړې.

**طاغوت څوک دی؟**

طاغوت یوازې یو تاریخي بت یا ظالم واکمن نه دی، بلکې: هر هغه څه دي چې د انسان پر شعور واکمن شي او د پوهېدو او ټاکنې ازادي ترې واخلي.

دا ښایي:

* هغه موروثي فکر وي چې کره شوی نه وي.
* هغه ديني واکمني وي چې د پوښتنې دروازه تړي.
* له بدلون څخه وېره وي.
* يا هم هغه پړسېدلی "انانيت" وي چې د خپل ځان له ملامتولو او بياکتنې انکار کوي.
طاغوت يوازې ستاسو له وجود څخه بهر نه دی... بلکې ښايي ستاسو په دننه کې مېشت وي.

**دلته "کفر" يانې: ازادي، نه يوازې ردول**

له طاغوت څخه کفر يوازې په ژبه ردول نه دي، بلکې مانا يې دا ده:
* د تبعيت او پټې پيروۍ ماتول.
* د پوښتنې کولو د حق بېرته ترلاسه کول.
* له جوړو شوو چوکاټونو (قالبونو) څخه ازادي.
دا په شعور کې د يوه اوښتون شبېه ده، چې پکې انسان له ړندې پيروۍ څخه د درک او پوهاوي مرحلې ته لېږدول کېږي.

**ولې لاره په ايمان نه پيلېږي؟**

ځکه تر ازادۍ وړاندې ايمان، يو موروثي ايمان وي نه يو غوره شوی ايمان؛ دا ډول ايمان د طاغوت غزول وي نه له هغه څخه وتل. له همدې امله: هر هغه ايمان چې ترې وړاندې ازادي نه وي... يو کمزوری او لړزانده ايمان دی.

**لومړۍ کړۍ: د انسان تړاو له خپل شعور سره**

کله چې انسان ازاد شي او بيا ايمان راوړي، لومړۍ کړۍ جوړېږي: د انسان او د هغه د شعور ترمنځ يو داخلي پيوستون، چې بنسټ يې پر درک ولاړ وي نه پر تقليد.
دا د ازادۍ کړۍ، د پوهې کړۍ او له حقيقت سره د پيوستون کړۍ ده.
له همدې امله يې وفرمايل:
{فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لاَ انفِصَامَ لَهَا}
ځکه هغه څه چې پر شعور او اګاهۍ ولاړ وي... نه شلېږي.
خو لاره دلته نه ختمېږي، قرآن په دې مرحله بسنه نه کوي، بلکې موږ يوې بل سطحې ته بيايي:
{وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ}

**دویمه کړۍ: د انسان تړاو له خپل چاپېریال سره**

"الله ته د ځان سپارل" یانې د ژوند لوری د حق لور ته سمول، خو پرېکنده شرط یې دا دی:
{وَهُوَ مُحْسِنٌ} (په داسې حال کې چې نېکچاری وي).

دلته دویمه کړۍ جوړېږي: چې د احسان او نېکۍ پر بنسټ د چلند لـه لارې، د انسـان او نـړۍ ترمنځ تړاو دی.

احسان: د رښتینولۍ تله ده، د ایمان عملي ژباړه ده، د عمل کیفیت او د باطن او ظـاهر همغـږي ده. له همدې امله: له احسان پرته اسلام... "کلکه کړۍ" نشي تولیدولی.

**د دواړو کړیو ترمنځ مقایسه**

موږ له دوو سطحو سره مخ یو:

لومړۍ کړۍ:

* له طاغوت څخه انکار.
* پر الله ایمان.
* پایله: د شعور ازادي.

دویمه کړۍ:

* الله ته د ذات سپارل.
* احسان او نېکچاري.
* پایله: د ارزښتونو تمثیل او عملي کول.

**نتیجه**

"کلکه کړۍ" یوه ثابته نقطه نه ده، بلکې یو بهیر دی: له طاغوت څخه د شعور په ازادولو پیلېږي او په واقعیت کې د چلند په احسان (نېکۍ) بشپړېږي. که دې پرته له ازادۍ پـه ایـمان پیـل وکـړ، بـې لارې شوې؛ او که دې پرته له احسانه اسلام راوړ، ثابت پاتې نه شوې.

**پایخبرې:**

دا مه پوښته چې: "ایا ایمان لرې؟" بلکې دا وپوښته چې: "له څه شي څخه ازاد شوی یې؟"
دا مه وایه چې: "زه مسلمان یم،" بلکې وګوره چې: "څنګه نېکچاري (احسان) کوې؟"
ځکه هغه کړۍ چې نه شلېږي... یوازې هغه لاس یې نیولی شي چې ازاد شوی وي
او هغه زړه یې موندلی شي چې د احسان خاوند وي.

# په قرآن کې فطرت: تر فقهې وړاندې د حق تله

الله تعالی فرمایي:

{فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ} (الروم: ۳۰)

(نو خپل ذات په پوره پاملرنې سره د دین لوري ته کړه؛ د الله هغه فطرت چې خلك یې پر هغه پیدا کړي دي، د الله په پېدایښت کې بدلون نشته، همدا سم او مستحکم دین دی).

دا ایت دین د یوې داسې چمتو شوې او موروثي ټولګې په توګه نه وړاندې کوي چې یوازې په میراث پاتې وي، بلکې د یو داسې لوري په توګه یې معرفي کوي چې باید پام ورته راواړول شي؛ دا کار د هغه فطرت له مخې کېږي چې الله تعالی د انسان په خټه کې ایښی دی.

**فطرت: د انسانانو ترمنځ ګډه کلمه**

که موږ انسان ته ځیر شو، یو ښکاره حقیقت مومو:

سره له دې چې ادیان او کلتورونه توپیر لري، خو ټول انسانان پـه فطري ډول پـر ځینـو بنسـټیزو مفاهیمو سره یوه خوله دي:

* ظلم مردود دی.
* عدالت غوښتل کېږي.
* دروغ بد ګڼل کېږي.
* رښتینولي ستایل کېږي.
* رحمت یو لوړ ارزښت دی.

دا اتفاق یوازې د زدکړې پایله نه ده، بلکې د ګډ انساني فطرت مستقیم انعکاس دی. دلته موږ د الله تعالی د دې قول په مانا پوهېږو: {فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا}.

یانې په دننه کې یوه متحده تله وجود لري چې له مخې یې انسان تر زدکړې وړاندې پـه خیـر او شر پوهېږي.

**دين د فطرت غزول دي... نه د هغه بديل**

د دې خبرې پر بنسټ، دين په خپل اصل کې:

د انسان له وجود څخه جلا کومه پردۍ ټولګه نه ده، بلکې د هغه څه فعالول دي چې اصلا په انسان کې شته. نو پياوړی او "قيم" دين هغه دی چې:

* له فطرت سره همغږی وي.

* فطرت پياوړی کړي.

* فطرت له هغو ګډوډيو ازاد کړي چې له موروثي افکارو راځي، نه هغه چې له فطرت سره په ټکر کې وي.

**کله چې فقه له فطرت څخه جلا شي**

دلته لويه ستونزه هغه مهال راڅرګندېږي کله چې دين:

* د فطرت له غزېدو څخه،

په

* يو داسې تحميلي نظام بدل شي چې له فطرت سره په ټکر کې وي.

په دې وخت کې موږ له يو تناقض سره مخ کېږو:

د انسان عقل وايي: دا ظلم دی؛ خو ځينې فتواوې ښايي هغه توجيه کړي.

د هغه فطرت له سختۍ او قساوت څخه تښتي، خو ځينې ځانګړي تعبيرونه ښايي هغه د تشريع په توګه وړاندې کړي. دلته بايد دا بنسټيزه پوښتنه وکړو:

ايا ستونزه په فطرت کې ده... که په فهم (پوهه) کې؟

قرآن په وضاحت سره ځواب ورکوي: {لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ}

يانې فطرت ثابت او روغ دی، خو هغه څه چې ستونزه پيدا کوي د متن په اړه د انسان لوستنه ده.

**حنيفيت: داخلي تلې ته بېرته ګرځېدل**

الله تعالی فرمايي: {حَنِيفًا}

او حنيف هغه څوك دی چې:

* له انحراف څخه مخ اړوي.

* او د استقامت (سمې لارې) لوري ته ګرځي.

په دې متن کې: حنيفيت له هر هغه فهم څخه ازادي ده چې له روغ فطرت سره په ټکر کې وي.
دا د لاندې شيانو د بيا کتنې زړورتيا ده:
* موروثي افکار.
* فتواوې.
* تفسيرونه.
دا بيا کتنه بايد د هغې داخلي تلې په رڼا کې وشي چې هېڅکله نه خطا کيږي.

**فطرت د متن د پوهېدو د يوې وسيلې په توګه**

که الله تعالی فطرت ثابت ګرځولی وي او دين يې پر هغه درولی وي، نو منطقي پايله دا ده:
فطرت د ديني فهم تابع نه دی... بلکې فطرت د دغه فهم د سموالي تله ده.
له همدې امله:
* هر هغه فهم چې له عدالت سره په ټکر کې وي ← بيا کتنې ته اړتيا لري.
* هر هغه حکم چې له رحمت سره په تضاد کې وي ← بيا ځلي غور ته اړتيا لري.
* هر هغه تأويل چې له سالم عقل سره ټکر ولري ← بيا کتنې ته اړتيا لري.
دا په بشپړ ډول د تدبر لپاره د قرآن له بلنې سره سمون خوري: {أَفَلَا تَعْقِلُونَ}، {أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ}.

**د ديني فهم بيا رغونه**

د ايتونو او احکامو د بيا فهم پروسه بايد له يوې روښانه قاعدې پيل شي:
لومړی فطرت... بيا تأويل.
دا د متن د لغوه کولو په مانا نه ده، بلکې په دې مانا ده چې:
* متن د هغه د مقاصدو په رڼا کې ولوستل شي.
* او په داسې ډول وفهمول شي چې له هغو ارزښتونو سره سمون ولري چې الله تعالی زموږ په وجود کې ايښي دي.
ځکه الله تعالی هېڅکله داسې قانون نه جوړوي چې زموږ له فطرت سره په ټکر کې وي.

**خلاصه**

فطرت يوازې يو داخلي احساس نه دی، بلکې دا په انسان کې کرل شوې يوه الهي تله ده چې حق له باطله پرې تلل کيږي. کله چې فقه له دې تلې سره په ټکر کې راځي، نو دنده دا نه ده چې فطرت مات کړو... بلکې دنده دا ده چې پر خپل فهم بيرته نظر وکړو.

**پایخبره**

بحران په دین کې نه دی... بلکې زموږ په لوستنه کې دی.

اړتیا دا نه ده چې موږ خپل فطرت د هغو نصوصو تابع کړو لکه څنگه چې موږ پرې پوه شوي یو، بلکې اړتیا دا ده چې د متن په اړه خپل فهم دومره لوړ کړو څو د الله له هغه فطرت سره همغږی شي چې خلک یې پرې پیدا کړي دي.

هغه پوښتنه چې باید په رښتینولۍ وشي دا ده:

ایا موږ د دین په اړه خپل فهم په فطرت تلو... که خپل فطرت په هغه څه تلو چې د دین په نوم موږ ته ویل شوي دي؟

## روژه د انساني شهادت او کايناتي نظم ترمنځ

### د هلال له درکه تر لومړۍ لمبې

روژه څنګه له يوې فردي شعوري تجربې څخه، په يو داسې ډله ييز دود بدله شوه چې د بهرنۍ پرېکړې له مخې ټاکل کېږي؟

او موږ څنګه له "شهادت" څخه، چې يو شعوري فعل دی، "اعلان" ته، چې يو پيروي کوونکی فعل دی، ولېږدول شو؟

الله تعالی فرمايي:

{فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ} (البقرة: ١٨٥)

دا ايت يوې ډلې ته د يوې متحدې پرېکړې په بڼه خطاب نه کوي، بلکې فرد مخاطبوي:

"فَمَن شَهِدَ"

مانا دا چې روژه پخپله د انسان په وجود کې د "شهادت" (شاهدۍ او يقين) له تحقق سره غوټه ده.

**شهادت: يقين دی، نه خبر رسول**

په قرآن کې شهادت يوازې د سترګو ليدل نه دي، بلکې د يقين هغه حالت دی چې پر علم او دليل ولاړ وي.

{إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ}

دلته شهادت له علم سره تړل شوی، نه يوازې له کتنې سره. له همدې امله:

{فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ}

مانا يې دا ده: هر چا ته چې په مياشتې ننوتل يقيني شي، که هغه په ليدلو وي او که په دقيقه علمي محاسبه. ځکه سپوږمۍ کومه پټه (غيبي) پديده نه ده، بلکې يو اندازه شوی نظام دی:

{وَالۡقَمَرَ قَدَّرۡنَاهُ مَنَازِلَ}

{لِتَعۡلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالۡحِسَابَ}

دلته شهادت خپلې اصلي مانا ته ګرځي: هغه يقين چې پـر علـم ولاړ وي، نـه د يـو اعـلان پـټـه پيروي.

**سپوږمۍ: د وخت ښودلو يو پرانيستی کتاب**

قرآن وخت لـه کـومې اداري يـا بنسـټ سره نـه دی تړلـی، بلکـې لـه يـوې ليـدل کېـدونکې او حسابېدونکې کايناتي نښې سره يې تړلی دی:

{يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ}

نو هلال (نوې مياشت) د ښکاره کېدو پيل دی، او د هغې دوره تصادفي نه ده، بلکې دقيق حساب منونکې ده. په دې توګه روژه د فرد پرېکړه ګرځي چې د کايناتو له نظمه د انسان له درک سره تړلې ده.

**"أيامًا معدودات": هغه قيد چې د غځېدو مخه نيسي**

{أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ} (ګڼل شوې ورځې)؛ دا سپړنه په قرآني لسان کې پر لاندې شيانو دلالت کوي:

* لږوالی.
* تحديد (محدودوالی).
* نه غځېدل.

نو دا کلمه د يوې اوږدې مودې په مانا لکـه د دېرشـو پرلـه پسـې ورځـو پـه توګـه نشي ـ فهمـول کېدای. دلته يو لوی بدلون څرګندېږي:

د شعور لپاره له محدودو ورځو څخه، د دود او عادت تر يوې بشپړې مياشتې پورې.

**شهر (مياشت): د هلال ښکاره کېدل، نه د ورځو شمېر**

د "شهر"کلمې لغوي ريښه له څرګندېدو او اشهار (خپرولو/ښکاره کولو) سره تړاو لري؛ يعنې هغه څه چې اعلان او وليدل شي. له همدې امله:

"د رمضان مياشت" خامخا يوه ثابته زماني موده نه ده، بلکې د هلال د څرګندېدو او ښکاره کېدو شېبه ده. يانې "شهر" يوه کايناتي ښکاره شوې پېښه ده، نه يو عددي امتداد.

**رمضان: د کايناتي اشتعال (لمبې) شېبه**

که "شهر" د اشهار او څرګندولو په مانا وي، او "رمضان" لـه "رمـض" (تودوخـه او لمبـه کېـدل) څخه وي، نو دا ايت:

{شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ} يو ژور افق پرانيزي:

رمضان يوازې يو وخت نه دی، بلکې د کايناتي اشتعال لومړنی شېبه ده، چې پکې:

*کايينات ښکاره (اشهار) شول.

* له سکون څخه حرکت ته ولېږدول شول.

* او قوانين يې څرګند شول.

**د قرآن نازلېدل: د وجود د نظام تثبيت**

{أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ}

دلته قرآن يوازې د يو متن په توګه نه فهمول کېږي، بلکې د هغو قوانينو د ټولګې په توګه چې پر وجود واکمن دي:

* د توازن قوانين.

* د حرکت قوانين.

* د شعور قوانين.

په حقيقت کې دا د کايناتو "دستور" دی.

**روژه: د کايناتي پېښې تمثيل**

که رمضان له ګډوډۍ څخه نظام ته د لېږد شېبه وي، نو روژه د هغې شېبې يو شعوري انساني تمثيل ګرځي؛ چې پکې انسان لاندې چارې ترسره کوي:

* د مادي کمول.

* د غوښتنو (شهواتو) کابو کول.

* د شعور د کچې لوړول.

څو خپل ځان د هغو قوانينو له مخې بېرته تنظيم کړي چې کايينات پرې جوړ شوي دي. دا د {لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ} له هدف سره پوره همغږي لري.

**له شهادته تر وصايته**

هغه څه چې د وخت په تېرېدو سره پېښ شول، له يو حالت څخه بل ته لېږد و:

* له فردي شهادت څخه اداري اعلان ته.

* او پر علم له ولاړ يقين څخه په عمل کې پتې پيروی ته.

تر دې چې انسان اوس د بل چا د پرېکړې له مخې روژه نيسي، نه د خپل درک له مخې.

**خلاصه**

په قرآن کې روژه عبارت ده له:

* يو فردي عبادت چې له شهادته پيل کېږي.
* هغه يقين چې پر علم ولاړ وي، نه يوازې پر ليدلو.
* د سپوږمۍ له څرگندېدو سره تړاو لري، نه يوازې د ورځو له شمېر سره.
* په محدودو ورځو (**أيامًا معدودات**) پورې منحصره ده، نه په اوږده امتداد.

او رمضان عبارت ده:

* د کايناتي لمبې او خوځښت شېبه.
* د قوانينو (قرآن) د اشهار او څرگندېدو شېبه.

**پرېکنده پوښتنه:**

که شهادت يقين وي، که سپوږمۍ يو محاسبه شوی نظام وي، که روژه محدودې ورځې وي، او که شهر د ورځو شمېر نه بلکې يو اشهار وي…

نو ايا موږ روژه داسې تېروو لکه قرآن چې غوښتل، که داسې لکه عادت او تاريخ چې جوړه کړې ده؟

**پايخبره**

دا د فکر کولو لپاره يو وړانديز دی نه د جبر لپاره؛ له متن سره د بېرته نښلېدلو بلنه ده، نه له ميراث سره د جگړې. خو هغه حقيقت چې سترگې ترې نشي پټېدلی دا دی:

هغه دين چې بې شعوره ترسره شي… په عادت بدلېږي، او عادت که سپېڅلی وگڼل شي… د حقيقت مخه نيسي.

## روژه: د شعور انجنيري د قانون او ازادۍ ترمنځ

**(د روژې په ايتونو کې يو وجودي لوست)**

**سريزه: له دود څخه تر اوښتونه (تحول) پورې**

الله تعالی فرمايي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ... لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ}

روژه د يوې جلا شوې مذهبي بنې په توګه نه ده راغلې، بلکې د انسان د بيا جوړونې د يوې وسيلې په توګه وړاندې شوې ده. نو د "كُتب عليكم" (پر تاسو واجب شوه) او "لعلكم تتقون" (څو پرهېزګاره شئ) ترمنځ، له تسليمۍ څخه تر شعور پورې يو وجودي سفر غځېدلی دی.

{وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا • فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا} (الشمس: ۷-۸)

**لومړی: روژه د غوښتنو له مرييتوبه ازادي ده**

انسان د خپلو اتوماتيکو غبرګونونو په ولکه کې دی:

* وږی کېږي ← ډوډۍ خوري.
* غواړي ← هڅه کوي.
* غوسه کېږي ← غبرګون ښيي.

خو روژه دا اړيکه بېرته تنظيموي:

{وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى • فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى}.

(النازعات: ۴۰-۴۱)

نو روژه د نفس له خواهشاتو څخه د هغه د منع کولو تمرين دی؛ دا د نفس ځپل نه، بلکې د هغه لارښوونه او رهبري ده.

**دويم: روژه د عادت ماتول دي، نه يوازې له خوړو ډډه کول**

يوازې په خوړلو او څښلو کې د روژې رانغاړل د هغې اصل له منځه وړي.

{إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا} (مريم: ۲۶)

دلته روژه له خبرو کولو څخه ډډه کول دي، چې دا ثابتوي چې روژه له فزیکي اړخ څخه ډېره پراخه ده؛ دا یانې:

د هر هغه غبرګون څنډول چې شعوري نه وي.

**له عادت څخه تر مریبتوبه پورې:**

{أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ} (الجاثية: ٢٣)

کله چې عادت په واکمنۍ بدل شي، انسان بې له دې چې پوه شي، د خپل نفس (هوا) بنده ګرځي.

**دریم: روژه د فعالولو د یو قانون په توګه**

{كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ} لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي: {كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ} (البقرة: ٢١٦) نو "کُتب" (فرض شوه) د یو ټینګ قانون په مانا ده، نه د یوې تېرېدونکې ټاکنې؛ بلکې دا د بدلون د تحقق له پاره یو اړین مسیر دی چې ځینې شرطونه لري او باید مراعات شي.

**څلورم: "أيامًا معدودات" – توازن دی، نه ستړیا**

{أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ} دا د قرآن له دغه عمومي قاعدې سره همغږي لري: {لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا} (البقرة: ٢٨٦) نو د روژې موخه د بدن ستومانه کول نه، بلکې په خپله اندازه د هغه روزل او مهذبول دي.

**پنځم: استثنا د قانون برخه ده**

{فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ...}

دا د الله تعالی دا قول تاییدوي چې:

{يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ} (البقرة: ١٨٥)

نو الهي قانون د انسان په ضد نه دی، بلکې د هغه د توازن په ګټه دی.

**شپږم: فدیه – په مکلفیت کې دننه ازادي**

{وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ}

دا له یو بل پراخ اصل سره سمون خوري:

{فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ} (البقرة: ١٨٤)

نو دا لاره په زور نه ده، بلکې په بېلابېلو لارو د خير د فعالولو يو ډګر دی.

**اووم: تقوی – د روژې نچوړ**

{لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ}

او تقوی د شعور يو حالت دی: {إِن تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا} (الأنفال: ٢٩)

يانې د بېلولو و تشخيص وړتيا؛ او همدا د روژې اصل دی:

چې تر عمل وړاندې ووينې، خپل عادتونه کابو کړې او بې شعوره د هغو تر شا روان نشې.

**اتم: روژه د انسان په جوړښت کې د يوې نقليې په توګه**

{قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا • وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا} (الشمس: ٩-١٠)

روژه د تزکيې له وسيلو څخه ده چې:

* د بدن واکمني کموي.
* نفس رابرسېره کوي.
* او روح (ارزښتونه) فعالوي.

**پايله: روژه د يوې هراړخيزې ازادۍ په توګه**

{إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ} (الرعد: ١١)

روژه د دغه بدلون پيل دی. دا يوازې له خوړو ډډه کول نه دي، بلکې له هر هغه څه څخه ازادي ده چې پر انسان بې شعوره واکمني کوي.

له بده مرغه موږ وينو چې روژتيان د خپلو غوښتنو په پوره کولو کې تر حد تېرېږي او هغه څه چې يې د روژې په اوږدو کې ترلاسه کړي وي، په بې کچې خوړلو او اسراف سره يې ماتوي.

{أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ}

روژه دا ده چې ته خپل دا حق بېرته ترلاسه کړې چې ستا نفس (هوا) ستا خدای نه وي.

## حج: له زمان څخه تر اشهار (ښکاره کولو) پورې

### د الله تعالی د دغه قول یوه تدبري لوستنه

{الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ}

**سریزه**

دیني شعور داسې رووړد شوی چې له حج سره د یو لړ داسې مراسمو په توګه چلند وکړي چې په یوه ټاکلي وخت کې ترسره کېږي، ګواکې دا یوه دودیزه پېښه ده چې د هغې د ورځو په تېرېدو پای ته رسېږي. خو قرآني متن، کله چې تدبر پکې وشي، حج په دغه وړاندې شوې بڼه نه وړاندې کوي، بلکې هغه د شعور د یو حالت، د ژمنتیا د یوې لارې او د یو هراړخیز اخلاقي اعلان په توګه بېرته تعریفوي.

دا ایت نه له ځای څخه پیل کېږي او نه له فعل څخه، بلکې له زمان څخه... یا له هغه څه چې تر زمان هم ژور دي.

**لومړی: الحج أشهر معلومات – زمان که اشهار؟**

قرآن د {أشهر} لفظ یوازې په خپله تنګو زماني مانا نه کاروي، بلکې د هغه څه له مخې یې کاروي چې د (ش هـ ر) په لغوي ریښه کې نغښتي دي، چې پر ظهور، اعلان او سپیناوي دلالت کوي.

میاشتې ته ځکه "شهر" ویل کېږي چې هغه مشهوره او ښکاره ده؛ "اشهار" یانې اعلانول، او "شهرت" یانې څرګندېدل.

له همدې ځایه، دا ایت په دوو بشپړونکو سطحو لوستل کېدای شي چې یو له بل سره ټکر نلري:

* حج یو غځېدلی وخت دی، نه یوه تېرېدونکې شېبه.
* او حج یو پېژندل شوی "اشهار" (اعلان) دی، نه یو پټ تړاو.

یانې حج د ارزښتناکې ژمنتیا لپاره یو اعلان شوی وخت دی، نه یو باطني راز او نه له چلند څخه جلا شوی کوم دود. له همدې امله قرآن د هغه په {معلومات} (څرګند او معلوم) سره صفت کړی دی، یانې معیارونه یې روښانه او موخې یې پېژندل شوې دي، چې د هغه په اصل د پوهېدو له پاره کوم مذهبي منځګړي (ملا) ته اړتیا نشته.

## دویم: فمن فرض فیهن الحج – له مجبوریه تر شعوري ټاکنې

متن داسې نه دي ویلي چې: "څوك چې حج وکړي"، بلکې ویلي یې دي: {**فمن فرض فیهن الحج**} (نو چا چې په دغو میاشتو کې پر ځان حج فرض کړ).

دلته "فرض" کوم بهرنی جبر نه دی، بلکې یوه داخلي پرېکړه ده چې انسان یې مسؤلیت پخپله پر غاړه اخلي.

ګواکې ایت داسې وایي:

چا چې پر خپل ځان د حج په پروژه کې د ننوتلو اعلان وکړ، او خپل ذات یې په اخلاقي ډول په دغه لاره مکلف کړ... نو حج د بدن سفر نه دی، بلکې د شعور یو تړون دی چې انسان یې تر ځای (مکان) وړاندې له خپل ځان سره لاسلیك کوي.

## دریم: لا رفث – د انساني کرامت بېرته ترلاسه کول

"رفث" په قرآني لسان کې تر جنسي خبرو اترو ډېر پراخ دی؛ دا هر هغه خطاب یا چلند رانغاړي چې انسان د بې بندوباره غریزې کچې ته راغورځوي او له خپل ارزښتناك مقام څخه یې خالي کوي.

په حج کې:

* د بدن ځپل نه غوښتل کېږي.
* بلکې له ابتذال او سپکاوي څخه د انسان لوړول غوښتل کېږي.

"رفث" ځان ته د درناوي ضد دی، او څوك چې حج ته ننوځي د کرامت مقام ته ننوځي، نه د بې بندوبارۍ مقام ته.

## څلورم: لا فسوق – د ارزښتناك نظام ثبات

په قرآن کې "فسوق" یوازې یوه تېرېدونکې ګناه نه ده، بلکې له عمومي ارزښتناك چوکاټ څخه وتل دي. یانې انسان نشي کولای په حج کې وي او په عین حال کې ظلم توجیه کړي، یا حق سپک وګڼي، یا هم دوه ګونی اخلاقي چلند ولري.

حج د لاندې شیانو ترمنځ جلاوالی نه مني:

* عبادت او چلند.

* مراسم او وجدان.

نو فسوق حج له دننه څخه له منځه وړي، ځکه چې دا د هغه ارزښتناك بنسټ نړوي.

**پنځم: لا جدال في الحج - د "انانیت" (ځان غوښتنې) غورځول**

"جدال" بحث یا فکر کول نه دي، بلکې د خپل ځان ثابتولو لپاره د "انانیت" جګړه ده.

له همدې امله قرآن نه دي ویلي چې: " جګړه مه کوئ"، بلکې ویلي یې دي: {لا جدال في الحج}. مانا جدال:

* له حج سره نه ښایي.

* او ورسره نه یوځای کېږي.

* بلکې د حج حالت له اصله نفې کوي.

نو حج یو داسې مقام دی چې پکې "انانیت" ځنډول کېږي؛ او څوك چې په جدال بوخت پاتې شي، هغه لا تر اوسه د خپل ذات له مرکز څخه نه دی وتلی.

**خلاصه: حج یو اعلان شوی میثاق دی، نه یو موقتي دود**

په دغه تدبر سره، حج په خپل حقیقت کې داسې څرګندېږي:

* دا یوازې یو لړ مراسم نه دي.

* او نه هم یوه موسمي پېښه ده.

* او نه په یو ځای کې د بدن حرکت دی.

بلکې دا: یو پېژندل شوی اخلاقي اعلان (اشهار) دی، چې پکې انسان په ښکاره ډول پر دریو ستنو ژمنه کوي: د غریزې کابو کول، د ارزښتونو ثبات، او د "انانیت" ماتول. له همدې امله دا په میاشتو پیل شو، نه په ورځو؛ په اصولو پیل شو، نه په افعالو؛ او په چلند پیل شو، نه په شکل.

**پایخبره:**

چا چې په حج کې خپل ارزښتونه اعلان (اشهار) نه کړل، هغه د حج میاشتو ته نه دی ننوتی، که څه هم طواف یې کړی وي، سعې یې کړې وي او په عرفات کې درېدلی وي.

ځکه حج هلته نه دی چې پښې ځي،

بلکې هلته دی چې شعور اعلانېږي، او انسان د خپل ځان په ایینه کې ازمویل کېږي.

# واقعي حج په قرآن کې

**عرفات: د رښتيني اعتراف مقام او د نوي ژوند پیل**

الله تعالی فرمايي:

{ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ...} (البقرة: ۱۹۸)

د حج په قرآني جوړښت کې هېڅ شی تصادفي نه دی: نه ځای، نه ترتیب او نه هم فعل. کله چې مونږ د "عرفات" لفظ ته تم کېږو، نو پوهېږو چې مونږ یوازې د یوه جغرافیایي ځای په وړاندې نه یو ولاړ، بلکې د الله لوري ته د انسان په سفر کې د تر ټولو خطرناك مقام په وړاندې ولاړ یو، چې هغه د "رښتيني اعتراف مقام" دی.

**عرفات: هغه پېژندنه (معرفت) چې اعتراف ته لاره هواروي**

د (ع ر ف) لغوي ريښه یوازې پر یوې وچې ذهنـي پـوهې دلالـت نـه کـوي، بلکـې پـر داسـې پېژندنې دلالت کوي چې پرده پورته کوي او حقیقت هغسې چې دی، رابرسېره کوي.

"عِرْف" هغه څه ته ویل کېږي چې ښکاره شي، "معروف" هغه څه دي چې نور پټ پاتې نشي-، او "تعارف" پرته له مخ پټولو یو بل ته بربنډېدل دي.

کله چې قرآن د جمعې په بڼه «مِنْ عَرَفَات» وايي، نو هدف يې د ځايونو ډېرښت نه دی، بلکې د شعور د پړاوونو ډېرښت دی؛ یانې د خپل ځان د پېژندنې (تعرُّف) د لـړۍ یـو پـر بـل ایښـودل شـوي پړاوونه:

* پر تېروتنې پوهېدل (تعرُّف).
* پر کمزورۍ پوهېدل.
* پر جعل او دوکې پوهېدل.
* پر پټو نیتونو پوهېدل.
* له خپل ځان سره د رښتینولۍ له لارې پر الله پوهېدل.

دلته یوازې پوهېدل (معرفت) بسنه نه کوي، بلکې "اعتراف" اړین دی.

**عرفات: د اعتراف مقام دی، نه د دعوې مقام**

په عرفات کې درېدل د بدن درېدل نه دي، بلکې د خپل حقيقت په وړاندې د نفس بربنډه درېدل دي. دلته نه د توجيه ځای شته، نه پر نورو د ملامتيا اچولو ځای او نه هم د خپلې څېرې د ښکلي ښودلو ځای.

په عرفات کې اعتراف پدې مانا دی:

* انسان تر خپل رب وړاندې بايد خپل ځان ته اعتراف وکړي.

* خپلې تېروتنې په خپلو نومونو يادې کړي.

* د خپل ځان له تېر ايستلو لاس واخلي.

* خپلې مذهبي، اخلاقي او ټولنيزې پردې وغورځوي.

له همدې امله، د عرفات مقام تر هر ډول راتلونکي اخلاقي مکلفيت وړاندې راغلی دی. قرآن داسې نه دي ويلي چې لومړی رفث، فسوق او جدال مه کوئ او بيا عرفات ته لاړ شئ؛ بلکې اعتراف يې لومړی کړی او اخلاق يې د هغې پايله ګرځولې ده.

{فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ}

**افاضه: کله چې اعتراف وشي او نوی ژوند پيل شي**

افاضه يوازې له غره څخه د راکوزېدو يو حرکت نه دی، بلکې د يو ژور داخلي اوښتون (تحول) شبېه ده. رښتينی اعتراف نفس تر هغې کچې ډکوي چې انسان نور نه شي کولی پر پخواني حالت پاتې شي.

افاضه يانې:

* له عرفات څخه د انسان داسې وتل چې له خپل ځان سره يې دروغ ويل پای ته رسولي وي.

* د انکار د پړاو پای.

* د نوي شعور پيل.

* له الله، خلکو او خپل ځان سره د يوې بل ډول اړيکې زېږېدنه.

له همدې ځايه موږ پوهېږو چې ولې انسان تر رښتيني حج وروسته په هغه پخواني حالت نه پاتې کيږي؛ ځکه چا چې اعتراف وکړ... هغه ازاد شو.

**تر عرفات وروسته: ولې «لا رفث ولا فسوق ولا جدال»؟**

دا درې واړه يوازې تحميلي اخلاقي امرونه نه دي، بلکې د اعتراف طبيعي مېوې دي:

* لا رفث (جنسي بې بندوباري او بدې خبرې نشته): څکه چا چې پر خپلې کمزورۍ اعتراف وکړ، هغه نور دې ته اړتیا نه لري چې هغه په شهوت یا ابتذال کې پټه کړي.

* لا فسوق (له ارزښتونو وتل نشته): څکه چا چې خپل ځان په واقعي حقیقت کې ولید، هغه نور نشي کولای پر ارزښتونو په سپین سترګۍ سره تېری وکړي.

* لا جدال (جګړه او بحث نشته): څکه څوک چې له خپل ځان سره پخلا شو، هغه د جګړې له لارې د خپل ځان ثابتولو ته اړتیا نلري.

جدال، فسوق او رفث... دا ټول د هغه نفس نښې دي چې لا یې اعتراف نه دی کړی.

{فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ}

تر اعتراف وروسته "ذکر" راځي، خو دا یوازې د ژبې ذکر نه دی، بلکې د شعور ذکر دی.

المَشْعَر: د شعور (احساس او درک) ځای.

الحَرَام: هغه څه چې جعل او ریا نه مني.

هلته انسان د خپل رب ذکر د امر له مخې نه کوي، بلکې پدې خاطر یې کوي چې هغه وپېژانده. داسې ذکر چې له دننه راټوکېږي، د هغه انسان ذکر چې نوی ژوند یې پیل کړی، د هغه چا ذکر چې له عرفات څخه د یو بل شخصیت په توګه راوتلی دی.

**د واقعي حج د سفر د دویمې برخې خلاصه:**

* عرفات: د رښتیني اعتراف مقام.
* افاضه: داخلي اوښتون او نوې زیږېدنه.
* مشعر الحرام: له شعور څخه راوتلی ذکر.
* لا رفث ولا فسوق ولا جدال: تر اعتراف وروسته اخلاق.

**پایخبره**

عرفات کوم غر نه دی، بلکې د زړورتیا یوه نادره شېبه ده، چې پکې انسان پرته له مدافع وکیله د خپل ځان په وړاندې درېږي.

چا چې په عرفات کې اعتراف ونه کړ، هغه به له حج څخه هغسې بېرته راوګرځي لکه څنګه چې تللی و. خو چا چې اعتراف وکړ، هغه د خپل نوي ژوند لومړۍ ورځ پیل کړه.

## د سترګو له تهذیبه د ژبې تر تزکیې

### د الله تعالی د دغه قول یوه وجودي-تشخیصي لوستنه

{قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ}

**سریزه:**

دا ایت د نور سورت په متن کې راغلی، هغه سورت چې د ارزښتونو د یو داسې ټولنیز نظام پر جوړولو تمرکز کوي چې د انسان کرامت خوندي او د هغه تعاملات مهذب کړي. د تاریخ په اوږدو کې د دغه ایت په اړه یوه تنګه فقهي پوهه غالبه وه چې هغه یې یوازې د دوو جنسونو ترمنځ اړیکې پورې منحصره کړې وه؛ په داسې حال کې چې دا ایت په خپل لغوي او وجودي جوړښت کې یو پراخ روزنیز قانون دی چې د شعور لومړنۍ دروازه یانې "سترګې" مهذبوي، او بیا د ژبې له لارې د شعور د مخرجاتو په ساتلو سره دغه جوړښت بشپړوي.

**لومړی: د "غَضّ" په مانا کې... لطافت دی، نه منع کول**

په عربي ژبه کې د "غَضَّ" فعل د بندولو یا په بشپړ ډول د ډډه کولو په مانا نه دی، بلکې د ټیټولو، تلطیف کولو او پاکولو په مانا دی. قرآن داسې نه دي ویلي چې: "یغضّوا أبصارهم" (خپلې سترګې دې پټې کړي)، بلکې ویلي یې دي: «مِنْ أَبْصَارِهِم»؛ یانې له خپل لید څخه دې هغه څه واخلي چې له پاك شعور سره ښایي، او هغه څه دې وغورځوي چې د بدو انفعالاتو یا اذیت لامل کیږي.

"غُصن غَضّ" هغه تازه او نرمې ښاخلې ته ویل کیږي؛ ګواکې له انسان څخه دا غوښتل شوي: د هغه څه په اړه چېویني یې، غبرګون یې باید نرم او لطیف وي، نه داسې چې چا ته زیان ورسوي، نه بې باکه او نه هم سخت زړی.

**دویم: بصر تر نظر (کتلو) وروسته مرحله ده**

قرآن د لاندې دوو کلمو ترمنځ په دقیق ډول توپیر کوي:

* نظر: د سترګو فزیکي فعل دی.

* بصر: د شعور او درک فعل دی.

"نظر" انځور اخلي، خو "بصر" هغه تفسيروي او غبرګون توليدوي. له همدې ځايه الهي امر "بصر" ته متوجه شوی، نه "نظر" ته: «يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ»؛ يانې خپل داخلي غبرګون دې مهذب کړي او له ليدل شوي انځور سره دې خپل تعامل لطيف کړي. دا مفهوم دا ايت له يو فقهي حکم څخه په يو هراړخيز روزنيز قانون بدلوي.

**دريم: د "غضّ" غځېدل هر هغه څه ته چې مومږ يې وينو**

په دغه پوهاوي سره، هر هغه څه چې سترګې پرې لګېږي د دغه ايت په ساحه کې راځي:

۱. که دې ښکلا وليده، "غضّ" هغه په يو لطيف ستاينليک بدلوي، نه په حسد يا اذيت کوونکې پرتله. ۲. که دې داسې څه وليدل چې ښکلا يې کمه وي، "غضّ" د کرکې مخه نيسي او د داسې نښو مخنيوی کوي چې بل لوري ته د سپکاوي احساس ورکړي. ۳. که دې کوم عاجز يا فقير وليد، "غضّ" ستا ليد د هغه د کمزورۍ پټوونکی ګرځوي، نه دا چې هغه د توهين کوونکې لورېنې (شفقت) موضوع وګرځوې. ۴. که دې کومه تېروتنه يا عيب وليد، "غضّ" دې نه پرېږدي چې هغه په ملنډو يا رسوايۍ بدل کړې.

دا د انساني شرافت يو قانون دی چې له سترګو پيلېږي او په زړه پای ته رسېږي.

**څلورم: «وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ»... د لغوي مانا بيا موندنه**

په فقهي علم کې "فرج" يوازې شرمګاه پورې محدود شوی، خو په ژبه کې دا ډېره پراخه مانا لري؛ په "لسان العرب" کې راغلي:

* الفرج: هرې هغې لارې ته ويل کېږي چې يو څه ترې وځي يا ننوځي.

* پر خوله هم اطلاق کېږي، ځکه چې دا د خبرو وتلو لاره ده.

* د راز ساتلو ځای ته هم ويل کېږي. (دوی وايي: "رجل فَرُج"، يانې هغه سړی چې راز نشي-ساتلی).

په دې توګه د "فرج" د ساتلو (حفظ الفرج) مانا لاندې موارد رانغاړي:

۱. د خولې ساتل: له بد ويلو، د رازونو له رابرسېره کولو، ملنډو، سپکاوي او رسوا کولو.

۲. د خبرو ساتل: دا چې خبره رښتينې، نرمه، پاکه او په خير پسولل شوې وي.

نو ايت د "غض البصر" (د ادراک تهذيب) او "حفظ الفرج" (د بيان تهذيب) ترمنځ اړيکه جوړوي: هغه څه چې په دننه کې مهذب شوي، بايد د وتلو پر مهال هم مهذب وي.

**پنځم: د سترګو او ژبې ترمنځ وجودي اړیکه**

هغه انځور چې سترګې یې ویني، په لاندې ډول بدلون مومي:

داخلي حکم ← احساس ← کلمه.

که ادراک مهذب نه وي: خبره به جارحانه او زړه ماتونکې راوځي. خو که ادراک لطیف وي: خبره به رحیمانه، پټوونکې او د زړونو جوړوونکې راوځي.

په دې توګه د ایت مانا داسې یو ستر اخلاقي اصل ته بدلیږي:

هغه څه پاک کړه چې ستا د سترګو له لارې ستا زړه ته ننوځي، او بیا هغه څه وساته چې ستا د ژبې له لارې له زړه څخه راوځي.

**شپږم: «ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ»... وروستۍ پایله**

دلته "زکات" یوازې د بدن پاکوالی نه دی، بلکې د شعور پاکوالی دی. دا یوه بشپړه پروسه ده:

* د سترګو تهذیب.
* د زړه تهذیب.
* د ژبې تهذیب.

په دې توګه د قرآن پیرو انسان داسې وي چې: رسوایي نه کوي، ملنډې نه وهي، توهین نه کوي، سپکاوی نه کوي او کرکه نه خپروي... بلکې په رڼا سره ویني، په لطافت سره تعامل کوي او په خیر سره خبرې کوي.

**پایله**

په دغه پراخه وجودي پوهاوي سره، د نور سورت (۳۰) ایت د انسان د شعور د جوړولو لپاره یو اخلاقي دستور ګرځي. دا له ظاهري احکامو څخه د سلوک (چلند) جوهر ته لیږد دی، او د شکل له فقهې څخه د انسان فقهې ته نقل دی.

نو د سترګو ټیټول (غض البصر) د سترګو پټول نه دي، بلکې د رحمت په مانا د زړه پرانیستل دي. او د ژبې/فرج ساتل (حفظ الفرج) یوازې د غریزې کابو کول نه دي، بلکې له هر هغه څه څخه د ژبې ساتل دي چې انسانیت ته زیان رسوي. او «ذلك أزكى لهم» یوازې یو سلوکي صفت نه دی، بلکې د نفسي او وجودي ارتقا او لوړوالي یوه ژمنه ده.

## قرآن نه تفسیر کېږي... بلکې دی پوهه او تفسیر ور کوي

موږ له ډېر پخوا راهیسې په دې روږدي شوي یو چې وواېو: "د قرآن تفسیر". ګواکې قرآن یو پېچلی متن دی چې یو چا ته اړتیا لري څو هغه موږ ته شرح کړي. خو ایا په رښتیا ستونزه په متن کې ده... که هغه ته زموږ د ور نژدې کېدو په طریقه کې؟

قرآن پخپله له موږ څخه دا نه دي غوښتي او هېڅکله یې نه دي ویلي چې: زما ایتونه تفسیر کړئ؛ بلکې ویلي یې دي:

{أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ}، {أَفَلَا يَتَفَكَّرُونَ} او {كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ}.

که چېرې قرآن تفسیر ته اړتیا درلودای، نو ولې یې د شرحې پر ځای تدبر ته بلنه ورکوله؟

تفسیر متن د شرحې یو موضوع ګرځوي، خو تدبر هغه د پوهېدو په یوه وسیله بدلوي. دلته رښتینې پوښتنه دا پیدا کېږي: ایا موږ قرآن پدې خاطر لولو چې پرې پوه شو... که پدې خاطر چې خپل عقلونه له پوهېدو څخه خلاص کړو؟

قرآن له موږ څخه دا نه غواړي چې وپوښتو: د دې ایت مانا څه ده؟

بلکې غواړي وپوښتو: دا ایت موږ ته د خلقت، انسان او د ژوند د قوانینو په اړه څه تشریح کوي؟ ځکه قرآن خپل ځان داسې معرفي کوي چې هغه:

{نُورٌ}، {بَصَائِرُ لِلنَّاسِ}، {تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ} دی.

او نور (رڼا) نه تفسیر کېږي... بلکې په هغه سره لاره لیدل کېږي.

په لوېدیځ کې، د تاویل (Ainterpretation) میتودونه پدې خاطر رامنځته شول چې بشري متنونه متناقض او پېچلي وو، نو بې پایه شرحو ته یې اړتیا درلوده. خو دردونکې پوښتنه دا ده: ولې موږ له قرآن سره — چې خپل ځان په رڼا یادوي — داسې چلند کوو لکه دا چې یوه معما وي؟

زموږ په میراث کې هم د تفسیر علم په همدې طریقه رامنځته شو؛ قرآن د شرحو په داسې طبقو کې راګیر شو، چې ان لوستونکی د مفسر د خبرې په لټه کې شو، نه دا چې پخپله د متن غږ ته غوږ شي. دلته باید په رښتینولۍ سره وپوښتو:

په حقیقت کې قرآن چا محدود کړی دی: د متن ابهام... که د خپلې ازادۍ په وړاندې د عقل وېره؟

پایله یوه وه:

یو لړ خلکو د "سلفو" په نوم ماناګانې کنګل کړې، او بل لوري د "تاویل" په نوم هغه ویلې کړې؛ په دواړو حالتونو کې قرآن د یو ژوندي متن په توګه ورک شو.

قرآن مانا هغه چا ته نه ورکوي چې هغه یې تشریح کوي او نه یې هغه چا ته ورکوي چې خپله لوستنه پرې تپي، بلکې هغه چا ته یې ورکوي چې عقل کاروي:

{إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ}.

نو وروستۍ پوښتنه، چې تېښته ترې نشي کېدای:

که چېرې قرآن د دې لپاره نازل شوی وي چې نور او بصیرت وي، نو ولې موږ ټینګار کوو چې له هغه سره د یوې داسې معما په څېر چلند وکړو چې شرحه کوونکو ته اړتیا لري... نه د یو داسې تلې (میزان) په څېر چې خپل عقلونه پرې وپېژنو، او د هغه له لارې خپل انفرادي او ټولنیز درک او شعور جوړ کړو؟

له همدې ځایه، هغه رښتینی انقلاب چې موږ ورته اړتیا لرو د الله د کتاب په شرحه کولو کې نه دی، بلکې د هغه په بدلولو کې دی چې د ادراک او شعور سرچینه وګرځي؛ دا چې موږ هغه د خپل محدود شعور کچې ته راکوز نه کړو، بلکې خپل شعور د هغه کچې ته لوړ کړو.

قرآن پدې خاطر نه دی نازل شوی چې زموږ د شعور له مخې تفسیر شي، بلکې پدې خاطر نازل شوی چې زموږ شعور ته نوې بڼه ورکړي.

# هغه ذبح چې الله نه وه غوښتې

## ایا الله ابراهیم ته د خپل زوی د وژلو امر کړی و؟

**سریزه**

په قرآن کې د "زوی د ذبح کولو" کیسه ډېری وخت د مطلق اطاعت د یوې بېلګې په توګه فهمول شوې ده، خو د نصوصو کره لوستنه دا رابرسېره کوي چې دا د قتل په اړه د یو صریح الهي امر د اطاعت کیسه نه ده، بلکې د یو خوب (رؤیا) د تاویل، د تسلیمېدو د ازموینښت او د فعل تر واقع کېدو وړاندې د هغه د درولو کیسه ده.

ایتونه دا څرګندوي چې الله ابراهیم ته د ذبح کولو امر نه و کړی، بلکې هغه یې په یو خوب (منام) سره ازمویلی و، او هغه او زوی ته یې د تاویل ازادي ورکړې وه؛ بیا یې ذبح ودروله او هغه یې د نیت د ربښتینولۍ له برکته وستایه، نه د فعل د ترسره کولو له امله.

**۱. رؤیا (خوب) د امر په مانا نه ده**

{فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ}

{قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ}

ابراهیم علیه السلام ونه ویل چې: "ما ته امر شوی چې تا ذبح کړم"، بلکې ویې ویل: "په خوب کې وینم" (أرى في المنام). زوی هم د امر پر شتون پرېکنده حکم ونه کړ، بلکې ویې ویل: "هغه څه وکړه چې امر درته کېږي" (افعل ما تؤمر)؛ دا یوه فرضي صیغه ده، نه جزمي او قطعي.

دا پدې دلالت کوي چې رؤیا د الله له لوري مستقیم امر نه و، بلکې یو رمزي اشاره وه چې د تاویل وړتیا یې درلوده.

**۲. له خپل زوی سره د پیغمبر مشوره: د مستقیم الهي امر د نشتوالي دلیل**

{فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ} (نو وګوره ستا نظر څه دی؟)

که چېرې هغه څه چې ابراهیم لیدلي وو، د الله امر وای، نو له خپل زوی سره به یې مشوره نه کولی، ځکه پیغمبر په وحې کې مشوره نه کوي.
خو دا چې هغه د زوی نظر وپوښت، دا پدې دلالت کوي چې:
* ابراهیم یقین نه درلود چې لیدل شوی خوب د الله مستقیم امر دی.
* هغه د تاویل لاره پرانیسته او د پرېکړې په کولو کې یې ګډ تعامل ته لاره هواره کړه.
همدارنګه د اسماعیل ځواب هم په غیر قاطع صیغه کې و: "هغه څه وکړه چې امر درته کېږي"، یانې: که په رښتیا مامور یې، نو ویې کړه.

### ۳. «صَدَّقْتَ الرؤیا»: تصدیق، نه تنفیذ

کله چې د ذبح کولو فعل ودرول شو، الله تعالی وفرمایل:
{يَا إِبْرَاهِيمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا}
دلته یې ونه ویل چې: "زما امر دې نافذ کړ"، بلکې د «صَدَّقْتَ» صیغه یې په شد سره وکاروله (نه صَدَقْتَ)، چې دا ښيي: تا خوب رښتینی وګاڼه او د امر ګمان دې پرې وکړ، په داسې حال کې چې هغه مستقیم الهي امر نه و.
دلته "تصدیق" یو انساني اجتهاد دی، نه د وحې تنفیذ؛ له همدې امله ذبح واقع نه شوه، بلکې الله په حساسه شېبه کې هغه ودروله.

### ۴. الله بې له ګناه د وژلو امر نه کوي

که چېرې ذبح د الله امر وای، نو درول یې روا نه و، او د ذبحې نه کول به نافرماني بلل کېدای.
خو هغه څه چې پېښ شول دا وو: ذبح واقع نه شوه، الله یوازې نفسي چمتووالی وستایه نه پخپله فعل؛ او دا یې په شعور او تاویل کې یو ښکاره ازموینښت (بلاء مبین) وګاڼه، نه د وینې په تویولو کې:
{إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ○ وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ}
یانې فدیه د زوی پر وژلو نه وه، بلکې د رحمت د اصل په ټینګولو او د وینې د قربانۍ د وهم په ذبح کولو کې وه.

### ۵. په قرآن کې د "ذبح" فعل انسان ته نه منسوبېږي: یو لغوي دلیل

د قرآن په ټولو ځایونو کې، د "ذَبَحَ" فعل په صریح ډول انسان ته نه دی منسوب شوی، مګر په یو حالت کې چې هغه د فرعون او د هغه د سرتېرو له خولې:

{يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ} (البقرة، القصص)

دلته فعل د "يُذَبِّحُونَ" په وېروونکې صيغه کې راغلی، چې د وحشيانه ډله ييز قتل په سياق کې دی، نه د ديني اطاعت په حيز کې.

خو کله چې خبره صالح انسان ته راځي، الله هېڅکله "ذبح" د يو مطلوب عمل په توګه نه يادوي.

بلکې په "لسان العرب" او نورو لغوي قاموسونو کې، کله ناکله له انسان سره د "ذبحه" فعل په مجازي مانا کارول کېږي:

«ذبحه بالمدح»: يانې په ستاينه کې يې دومره مبالغه وکړه چې هغه يې فاسد او له مانيز (معنوي) پلوه هلاک کړ.

له همدې ځايه موږ پوهېږو چې ابراهيم کله وغوښتل د خپل ذاتي خوب له مخې خپل زوی ذبح کړي، نژدې و، چې هغه ته داسې يوه مانا ورکړي چې تر زغم پورته وي؛ نو فديه — هغسې چې موږ ته په ميراث پاتې ده، يوازې د يو پسه په مانا نه ده — بلکې د تاويل د سمولو او زوی ته د نبوت او حقې ستاينې د مقام ورکولو په مانا وه، نه د يوې بشري قربانۍ په مانا.

**پايله: الله روزنه کوي، نه ذبح**

په قرآن کې د ذبحې کيسه د ړوند اطاعت بېلګه نه ده، بلکې د نبوي تاويل، وجودي ازموينې او د ربښتيني نيت يو درس دی.

الله ابراهيم ته د ذبحې امر نه و کړی، بلکې کله چې مانا پېچلې شوه، د هغه د تسليمېدو کچه يې وکتله.

په حساسه شېبه کې يې فعل ودراوه، نيت يې وستايه او اعلان يې وکړ چې قبوله شوې قرباني دا ده: شعور، صبر او فداکاري؛ نه وينه، هغسې چې موږ يې کوو.

# په قرآن کې د خلقت کیسه

## د عصري ساینس په رڼا کې یو نوی لوست

کله چې قرآن کریم د انسان د خلقت په اړه خبرې کوي، نو نه کومه افسانه وړاندې کوي، نه کومه پېچلې رمزي کیسه او نه هم د بیالوژي د علم یو تخنیکي درس؛ بلکې د یو دقیق او محکم نظام په اډانه کې د انسان د جوړېدو لپاره یو اوږد مسیر انځوروي چې هره مرحله یې بلې هغې ته لاره هواروي.

الله تعالی فرمایي:

{وَاللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا} (فاطر ١١)

دا لنډ ایت د بشر د خلقت بشپړ سفر رانغاړي.

**لومړی: له خاورې خلقت – د مادي مرحله او د ژوند پیل**

قرآن دا نه وایي چې انسان ناڅاپه په خپل اوسني شکل پیدا شوی، بلکې دا ثابتوي چې پیل له خاورې و؛ یانې د ځمکې له عناصرو څخه.

عصري ساینس هم دا تاییدوي چې ژوند له ساده ځمکنیو موادو پیل شوی، او لومړني ژوندي موجودات خورا ابتدایي حجرې وې چې پکې نارینه و ښځینه نه وو، او د "خپلسرې وېش" (Self-division) له لارې یې نسل ډېرېدی: یانې یوه حجره پرته له جوړې په دوو حجرو وېشل کېده.

دا حقیقت د الله تعالی له دغه قول سره پوره سمون لري:

{خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ}

یانې له یوه واحد او ناڅرګند ژوندي اصل څخه.

**دویم: جنیټیکي بدلون – کله چې د خلقت مسیر بدل شو**

د ملیونونو کلونو په تېرېدو سره ژوند په خپل لومړني حالت پاتې نشو، بلکې لوی جنیټیکي اوښتونونه پکې راغلل. ساینس ښیي چې د ژوندي موجوداتو ځانګړنې د هغو د حجرو دننه په دقیقو

واحدونو کې خوندي وي چې "کروموزومونه" ورته ويل کېږي؛ همدا کروموزومونه د موجود شکل، دندې او د نسل د ډېرېدو طريقه ټاکي.

د ژوند په لومړنيو پړاوونو کې:

* داسې کروموزومونه نه وو چې نارينه يا ښځينه وټاکي.

* او په اصل کې هېڅ جنسي توپير شتون نه درلود.

بيا د خلقت په تکامل سره، يو داسې ميراثي (جنيټيکي) بدلون راغی چې د جنسي کروموزومونو د څرګندېدو لامل شو، په ځانګړې توګه د هغه کروموزوم ظهور چې د نارينتوب مسؤل دی او نن سبا يې د Y کروموزوم په نوم پېژنو. دا کروموزوم تر نورو کوچنی دی ځکه چې د اوږده وخت په تېرېدو يې د خپلې ميراثي مادې برخې له لاسه ورکړې دي، او همدا بايلنه د خلقت په نوي ډول کې د "نارينه" د څرګندېدو مستقيم لامل شو.

## دريم: «ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ» - د جوړې نسل د ډېرېدو پيل

دلته موږ د قرآني تعبير په دقت پوهېږو: {ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ}.

د «ثُمَّ» توری له يوې اوږدې مرحلې وروسته د بل پړاو لېږد ښيي، نه سمدستي او ګړندی تعقيب.

دلته نطفه يوازې د يو ځاځکي په مانا نه ده ذکر شوې، بلکې د خلقت په طريقه کې د يو بنسټيز بدلون د نښې په توګه ياده شوې ده:

* د وېش له لارې د نسل ډېرېدل ودرېدل.

* د جوړې له لارې د نسل توليد پيل شو.

* نارينه او ښځينه څرګند شول.

* او خلقت د ملاقات او القاح (Fertilization) پر بنسټ ودرېد.

دا کټ مټ له هغه څه سره سمون خوري چې نن يې ساينس پېژني: يانې جنسي توليد ( Sexual reproduction) اصل نه و، بلکې د ژوند په تاريخ کې يو پرمختللی پړاو و.

## څلورم: «ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا» - د انساني انځور بشپړېدل

تر دغه بدلون وروسته الله تعالی فرمايي: {ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا}؛ يانې جوړه کېدل پيل نه و، بلکې د يو اوږده تکامل پايله وه. دلته جوړه کېدل (زوجيت) پدې مانا دي:

* نارينه او ښځينه.

* بشپړتیا، نه ورته والی.
* د امیندواری او زېږون لپاره د دقیقو قوانینو یو نظام.

له همدې امله یې وروسته وفرمایل: {وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦ}؛ یانې خلقت نور تصادفي نه و، بلکې د علم او قانون تابع وګرځېد، لکه څنګه چې موږ یې نن د وراثت او بیالوژۍ په علم کې پېژنو.

**پنځم: ژوند تصادف نه دی... بلکې یو کتاب دی**

ایت د الله تعالی په دغه قول پای ته رسیږي: {وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ}.

یانې دا چې:
* عمر،
* تکامل،
* او جنتیکي اوښتونونه؛

دا ټول په یو لیکلي نظام کې روان دي، نه پکې ګډوډي شته او نه هم تصادف.

**خلاصه:**

قرآن د خلقت په اړه کومه خیالي کیسه نه وړاندې کوي، بلکې یو تدریجي او عقلاني لیدلوری وړاندې کوي:

۱. له ځمکې څخه ماده. ۲. بیا ژوند. ۳. بیا جنتیکي اوښتونونه. ۴. بیا د نارینتوب او ښځینتوب څرګندېدل. ۵. بیا د جوړې (زوجیت) نظام. ٦. او بیا هغه قوانین چې پر هستۍ حاکم دي.

او د حیرانتیا خبره دا ده چې دا قرآني مسیر له هغه څه سره بشپړ سمون لري چې عصري ساینس د ژوند د تکامل، کروموزومونو او نسل تولید په اړه کشف کړي دي.

{سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ}

له الله تعالی څخه هیله کوم چې حق ته مې لاره موندلې وي، او که مې تېروتنه کړې وي، ترې بښنه غواړم.

# د مذاهبو عبادت نور بس دی!

## د فقهي کهنوت (مذهبي واکمنۍ) پر وړاندې د قراني بغاوت یو بیان

تر کومه به دین د مذاهبو ترمنځ ټوټه ټوټه وي؟

تر کومه به له انسان څخه تر عقل وړاندې د هغه د مذهب پوښتنه کېږي؟

تر کومه به د الله حکم د تړاو په یو څو سندونو کې را ایسار وي: شافعي، حنبلي، مالکي، حنفي؟

دا کوم ډول دین دی چې د نوم په بدلېدو یې احکام بدلېږي؟

او دا کوم ډول اِله دی چې د ښوونځیو (مدارسو) په بدلېدو یې اراده بدلیږي؟

دا د الله دین نه دی.

دا د فقهې په نوم د دین یوه منظمه مسخه ده.

قرآن بدل شوی دی... خو بې له شورماشوره:

هغه څه چې نن پېښېږي، یوازې "فقهي اختلاف" نه دی، بلکې پر قرآن یو خاموشه کودتا ده.

مرجعیت نور "قال الله" نه دی، بلکې "قال المذهب" دی.

متن (نص) نور حکم نه دی، بلکې مذهبي هویت دی.

که قرآن له مذهب سره موافق و، منل کېږي؛ که یې مخالفت وکړ، تاویلېږي؛ او که مذهب یې په تنګ کړ، د " خلاف معتبر " په پلمه له پامه غورځول کېږي.

په دې توګه د الله کتاب یوې ډډې ته شو او "میراث" وړاندې د قاضي په توګه کښېناست.

مذاهب نور وسیلې نه دي... بلکې بتان دي

راځئ بې له ژبني ښایست څخه په صراحت خبره وکړو:

نن سبا د مذاهبو عبادت کېږي؛ هغه خپل واکمن (کاهنان)، لارویان، محرمات او سرې کرښې لري. هر څوک چې ور نژدې شي، په ګمراهۍ، بدعت یا له ډلې څخه په وتلو تورنېږي.

دا کټ مټ د بتانو په څېر دي:

* خبرې نه کوي، خو د هغو له لوري خبرې کېږي.

* عقل نه لري، خو د هغو له لوري عقل کارول کېږي.
* هدايت نه کوي، خو يوازې سيوري ته يې خلك روان دي.
دا د "معرفتي شرك" تر ټولو خطرناکه بڼه ده.
قرآن خبرداری ورکړی و... خو دوی له پامه وغورځاوه
الله تعالی له هغه څه ناخبره نه و چې پېښېږي به، بلکې په صراحت او بې له پېچلتيا يې فرمايلي وو:
{وَلَا تَكُونُوا مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا}
خو بيا هم...
دين يې ووېشه، ډلې يې جوړې کړې او بيا يې ورته "فقهي بډايينه" (ثراء فقهي) وويل.
له دې څخه به بل کوم لوی دروغ وي؟
هغه اختلاف چې يوې واحدې مرجع ته نه راگرځي، بډايينه نه ده... بلکې پاشل کېدل دي.

**معاصر فقيه: د بېلتون ساتونکی**

وروستيو فقهاوو تر ټولو ناوړه کار دا وکړ چې:
* اجتهاد يې په يو ميوزيم بدل کړ.
* د عقل دروازه يې وتړله.
* پوښتنه کول يې جرم وگڼله.
* او قرآن يې د "سلفو د فهم" په نوم مصادره کړ.
نو نننی فقيه نه پوښتي چې: "ايا دا عدالت دی؟" بلکې پوښتي: "ايا مذهب دا خبره کړې؟"
نه پوښتي چې: "ايا دا انسان ازادوي؟" بلکې پوښتي: "ايا د فروعو په کتابونو کې يې اجازه شته؟"
په دې توگه فقه د هدايت د وسيلې پر ځای د کنټرول په يوه آله بدله شوه.
نه... موږ پنځم مذهب ته اړتيا نه لرو
څوك چې فکر کوي حل لاره په "نوي مذهب"کې ده، هغه د ناورين په ژورتيا نه دی پوه شوی.

ستونزه د مذاهبو په شمېر کې نه ده، بلکې پخپله په "مذهبيت"کې ده؛ هغه مهال چې مذهب د پوهېدو د ميتود پر ځای، پر قرآن باندې په يوې لوړې مرجع بدل شي.

حل لاره د دې ودانۍ په ترمیم کې نه ده، بلکې د هغې د "قدسیت" (مقدس ګڼلو) په نړولو کې ده.

**قرآن ته راستنېدل: د نافرمانۍ اعلان**

قرآن ته راستنېدل د تفسیر درس نه دی، نه د وعظ حلقه ده او نه هم کومه د جوړجاړې پروژه.

دا د یو بغاوت اعلان دی:

بغاوت پر:

* وصایت (سرپرستۍ).

*کهنوت (مذهبي واکمنۍ).

* وساطت (منځګړیتوب).

* او د فهم پر انحصار.

قرآن داسې فقیه ته اړتیا نلري چې ساتنه یې وکړي، بلکې داسې عقل ته اړتیا لري چې هغه ولولي. قرآن د فتواو کتاب نه دی... بلکې د ازادۍ کتاب دی

قرآن پدې خاطر نه دی نازل شوی چې مذاهب، ډلې او دیني طبقې جوړې کړي؛ بلکې نازل شوی څو دا ټول مات کړي. دا انسان ته یو مستقیم خطاب دی؛ بې له خنډونو، بې له منځګړو او د تړاو له کارتونو پرته. یا به قرآن وي... یا مذاهب. دواړه د مرجع په توګه یوځای کېدای نشي.

**پایخبره: دا سپکاوی نه دی... بلکې ژغورنه ده**

هغه څوک به په دې خبرو غوسه شي چې د قرآن په راستنېدو یې ګټې زیانمنېږي. خو هغه څوک چې د الله په لټه کې دی، احساس به وکړي چې دا خبرې هغه بېرته (بې له وېرې) د الله لوري ته بیایي. اوس د دې وخت رارسېدلی چې په روښانه ډول ووایو:

مذاهب اجتهادونه دي... دین نه دی.

او قرآن دین دی... مذهب نه دی.

په دې حقیقت کې هر ډول ځنډ، د دین په ټوټه کولو، د عقل په بې هوښه کولو او د ازادۍ په ځنډولو کې ګډون دی.

دا یوه مقاله نه ده.

دا یوه ناره (چیغه) ده.

## له سجدې تر مبارزې

**د انرژۍ د تسخير او د انسان د دننني دښمن په اړه يوه قرآني شننه**

د ملائکو، ابليس او په قرآن کې د انرژۍ د ايتونو يوه وجودي لوستنه

**سريزه:**

دوديز ديني شعور رووږد شوی چې د خلقت او خلافت ايتونه د غيبي کيسو په توګه داسې وفهموي چې ګواکې دا يو تمثيلي داستان دی؛ داسې چې الله له ملائکو سره "خبرې اترې" وکړي، ملائکو "اعتراض" وکړ او ابليس "بغاوت" وکړ. خو دا پوهه، سره له دې چې عامه ده، قرآني متن له خپل معرفتي ژوروالي څخه خالي کوي او هغه د وجودي قانون له کچې څخه د يوې ساده تمثيلي کيسې کچې ته راکوزوي.

قرآن د ساتېري لپاره کيسې نه کوي، او نه هم جلا جلا تاريخي پېښې بيانوي، بلکې د وجود جوړښت رابرسېره کوي او د انسان، کايناتو، انرژۍ او ارادې ترمنځ د اړيکو قوانين تشريح کوي. دلته "تشخيص" (شخصيت ورکول) يوه ښوونيزه وسيله ده، نه يو تفسيري هدف.

**لومړی: خلافت يوه پېښه نه، بلکې يو نړيوال اوښتون دی**

د الله تعالی دا قول: {إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً}؛ بايد د يوې ډيالوګي صحنې په چوکاټ کې د يو اعلان په توګه ونه فهمول شي، بلکې دا په ځمکه کې د مشرۍ د مرکز، بشري موجود ته د لېږدولو يو کوني (نړيوال) تصميم دی.

دلته خلافت نه سياسي واک دی او نه هم يو سمبوليک تشريف، بلکې د وجودي مسؤليت منل دي: يانې انسان ته به د ځمکې د ادارې، د هغه څه چې پکې دي د تسخيرولو او د پرېکړې کولو وړتيا ورکول کېږي، چې ورسره جوخت د فساد يا اصلاح وړتيا هم لري.

له همدې امله د ملائکو دا توصيف: {أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ}؛ کوم اخلاقي اعتراض نه دی، بلکې د يو داسې موجود د طبيعت دقيق توصيف دی چې د ارادې ازادي لري او د انحراف وړتيا ځکه لري چې د ټاکنې (انتخاب) واک لري.

**دویم: ملائکې انرژه ده، نه با شعوره ذوات**

کله چې الله تعالی په خپل ځواب کې فرمايي: {إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ}؛ هغه د ملائکو "نیمګړې معلومات" نه سموي، بلکې د خلقت د دوو ډولونو ترمنځ یو وجودي حد ټاکي:

* انسان: یو با شعوره، زده کوونکی موجود دی چې معرفت د تجربې له لارې ترلاسه کوي، تېروتنه کوي او حق ته رسېږي.

* ملائکې: د انرژۍ داسې نظامونه دي چې نه څه زده کوي او نه هم ذاتي علم لري.

دا مانا پخپله ملائکې په خپل دغه قول سره تاییدوي: {سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآ}. دا یو ښکاره اعتراف دی چې: انرژي نه څه زده کوي، نه خپلواک شعور لري او نه هم له ځان سره کار کوي. دا یو ژور وجودي حقیقت دی؛ ځکه که زموږ شاوخوا انرژیو اراده یا ذاتي علم درلودای، نو کاینات به په یوې داسې ګډوډۍ بدل شوي وو چې ژوند به پکې ناممکن و او انسان به د داسې متضادو ځواکونو په منځ کې راګیر و چې کنټرول به یې ناشونی و.

**دریم: سجده = د انسان لپاره د انرژیو تسخیر**

کله چې الله ملائکو ته د آدم د سجدې امر کوي، نو سجده دلته کوم مذهبي حرکت نه دی، بلکې د تسخیر اعلان دی. یانې د کوني انرژیو نظامونه د انسان د ارادې تابع شول، څو هغه وکولای شي د ځمکې په ودانولو کې د کایناتو، طبیعت او انرژۍ له قوانینو کار واخلي. دلته د خلافت عظمت څرګندېږي: انسان ته کوم خارق العاده ذاتي ځواک نه دی ورکړل شوی، بلکې د یو اخلاقي نظام په اډانه کې ورته د خپل چاپېریال د تسخیرولو وړتیا ورکړل شوې ده. خو دا تسخیر مطلق نه و.

**څلورم: مستثنی شوې انرژي – ایګو (ابلیس)**

له دغه تسخیر څخه یوازې یوه انرژي مستثنی شوه، او هغه د "پړسېدلي انانیت" (ایګو) انرژي ده چې قرآن ورته د "ابلیس" نوم اخیستی. ابلیس د یوې منظمې اجرایوي انرژۍ په توګه نه دی پیدا شوی، بلکې هغه ته یو بل ډول ځواک ورکړل شوی: د غولولو ځواک. یانې:

* پر پرېکړه اغېز کول.

* د نیت لوري ته بدلون ورکول.

* انحراف ته ښایست ورکول.

* او خیر په ذاتي ګټه بدلول.

له همدې امله ابلیس انسان ته تسخیر نشو، ځکه چې د انسان مطلقې ارادې ته د "انانیت" تسلیمېدل، پخپله د انسان د پای په مانا و. دا د انسان په وړاندې د ابلیس د نه سجدې مفهوم دی، او دا داسې نه ده چې ګواکې الله ورته داسې اراده کړې وه.

**پنځم: رښتینی دښمن بهرنی نه دی**

د دغه فهم له مخې، ابلیس کوم داسې موجود نه دی چې له انسان څخه بهر ولاړ وي او جګړه ورسره کوي، بلکې هغه د انسان په نفس کې یوه نغښتې انرژي ده چې زموږ په لاندې چارو کې مداخله کوي:

* زموږ په ټاکنو کې.
* زموږ په زړه نا زړه کېدلو کې.
* زموږ په توجیهاتو کې.
* او زموږ د عزم په کمزورۍ کې.

دا د انسان لومړنی دښمن دی، نه پدې خاطر چې هغه دې د فعل مخه ونیسي، بلکې پدې خاطر چې هغه د فعل لورې د خپل خاوند پر ضد بدلوي.

**شپږم: ملائکې او شیطانان - د خیر او شر انرژۍ**

له دې ځایه موږ د قرآني ثنویت (دوه ګونوالي) په دقیق مفهوم پوهېږو:

* ملائکې: د خیر هغه انرژۍ دي چې په الهي قانون منظمې دي، نه نافرماني کوي او نه هم منحرف کېږي.

* شیطانان: دا کومې خپلواکې انرژۍ نه دي، بلکې د "ایګو" د انرژۍ وظیفوي څانګې دي.

له همدې امله قرآن شیطانان د ابلیس "ذریه" (اولاده) بللې؛ یانې دوی د هغه شر غځونې دي چې د انانیت له پړسوب څخه پیدا کېږي، نه دا چې دوی په خپل ذات کې خپلواک موجودات وي.

**اووم: د شر ونه - د یوې کیسې پر ځای یو جوړښت**

په دې توګه په قرآن کې د شر د ونې مفهوم رامنځته کېږي:

* اصلي ریښه: ابلیس (ایګو/انا).
* تنه: د ذات پړسوب او له ارزښتناکې تلې (میزان) څخه د هغه بېلېدل.
* ښاخونه: شیطانان (د شر مختلف محورونه).
* مېوې: فساد، د وینې تویول او د ودانۍ نړېدل.

نو په قرآن کې شر کوم ازلي جوهر نه دی، بلکې د یو داخلي انحراف پایله ده.

**پایخبره**

د ملائکو او ابلیس ایتونه د کومې تېرې شوې کیسې بیان نه کوي، بلکې د انسان پـه دننـه کـې د مبارزې قانون رابرسېره کوي:

د هغو انرژیو ترمنځ چې د ودانولو لپاره تسخیر شوې دي،

او د هغې یوې سرغړونکې انرژۍ ترمنځ چې د واکمنۍ هڅه کوي.

او د دې دواړو ترمنځ، انسان د خلیفه په توګه ولاړ دی؛ نه پدې خاطر چې هغه تر ټولو پیـاوړی دی، بلکې پدې خاطر چې هغه تر ټولو ډېر مسؤلیت لري.

# په قرآن کې لمونځ د خلکو ترمنځ د اړیکو د تنظیمونکي قانون په توګه

## د لمانځه پر ټولنیز اړخ یوه نسبي-تأویلي شننه

### سریزه

په معاصر دیني شعور کې ډېری وخت لمونځ یوازې په عبادتي اړخ کې رانغښتل کېږي، چې دا کار د لمانځه هغه تنظیمي او اخلاقي اړخونه پټوي چې انساني ټولنه ورباندې ولاړه ده. خو د قرآني متن نسبي لوستنه، د سیاق، ژبني استعمال او مفاهیمو ترمنځ تړاو ته په کتو دا څرګندوي چې لمونځ له یو انفرادي دود څخه پورته، د اړیکو تنظیمونکی قانون دی؛ چې د افرادو ترمنځ پیوستون (صله) تنظیموي، ګډ وخت (زمان) ساتي او د ټولنیز ارزښتناک میثاق بنسټ ږدي.

د دغې مقالې موخه دا ده څو روښانه کړي چې لمونځ په قرآن کې د خلکو ترمنځ د اړیکو د مدیریت له پاره یو قانوني-اخلاقي چوکاټ دی، نه یوازې یو فزیکي حرکت چې له چلند څخه جلا وي.

**لومړی: میتودولوژیکي او مفاهیمي چوکاټ**

دا مقاله پر یوې نسبي-تأویلي تګلارې ولاړه ده چې پر لاندې ټکو تمرکز کوي:

١. د ایتونو لوستل په خپل متني او موضوعي سیاق کې.

٢. د مرکزي اصطلاحاتو شننه (صلاة، کتاب، موقوت، قضاء، ذکر).

٣. د عبادتي مانا تړاو له ټولنیزې-اخلاقي مانا سره.

د "اړیکو د مدیریت قانون" څخه موخه د هغو قرآني اصولو ټولګه ده چې پیوستون، ژمنتیا، وخت او وفاداري تنظیموي، څو د انساني ټولنې ثبات تضمین کړي.

**دویم: «کتاب» او «توقیت» د یو قانوني چوکاټ په توګه**

د الله تعالی په دغه قول کې د لمانځه توصیف:

{إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا} (النساء: ١٠٣)

لمانځه ته یو روښانه تشریعي اړخ ورکوي:

*کتاب: په قرآني استعمال کې پر قانون او حتمي نظام باندې دلالت کوي.

* موقوت: د دغه نظام تړاو له وخت او ژمنې (موعد) سره ښيي.

له همدې امله، لمونځ يوازې يو وختنی کار نه دی، بلکې يو قانون دی چې په وخت کې اداره کېږي؛ اخلاقي ژمنتيا د وخت او ژمنې له درناوي سره تړي او وخت په اړيکو کې په يو ارزښتناک عنصر بدلوي.

**دريم: د لمانځه د ايتونو تنظيمي سياق**

د سوره نساء په (۱۰۱–۱۰۳) ايتونو کې د لمانځه ذکر د وېرې، سفر او د ډلې د مديريت په سياق کې راغلی دی. دا د قصر، ساتنې (حراست) او د ځايونو د بدلولو په بحث کې څرګندېږي. دا سياق دا ثابتوي چې لمونځ دلته:

* د ډلې د تنظيم وسيله ده،

* د ګواښ په شرايطو کې د اړيکې (صلې) د مديريت ميکانيزم دی،

* نه دا چې له واقعيت څخه جلا يو مراسم وي.

همدارنګه د الله تعالی دا قول: {فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ} (النساء: ۱۰۳)؛ دلته "قضی" د تقدير او تشريع په مانا کارول شوی، لکه په دغه ايت کې: "وقضى ربك الا تعبدوا إلا إياه..."؛ چې دا د اړيکې پر قانوني کولو دلالت کوي، نه يوازې د يو فعل پر پای ته رسولو.

**څلورم: لمونځ د ټولنيزې اړيکې (صلې) د نظام په توګه**

قرآن لمونځ له سلوکي اغېزې سره تړي:

{إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ} (العنکبوت: ۴۵)

دا تړاو هغه مهال سم نه خيژي چې لمونځ يوازې يو مادي حرکت وګڼل شي، بلکې هغه مهال سم مانا ورکوي چې لمونځ د داسې يو نظام په توګه ومنل شي چې اړيکې تنظيموي او په ټولنيز چلند کې د انحراف مخه نيسي. قرآن د بڼې (شکل) او جوهر ترمنځ جلاوالی غندي:

{فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ○ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ} (الماعون: ۴–۵)

دلته "سهو" يا غفلت د لمانځه له تنظيمي دندې څخه دی، نه د هغه د ادا کولو له جزياتو څخه.

**پنځم: ذکر د اړيکو د دايمي ساتنې په توګه**

د لمانځه تر تقنين (قانوني کېدو) وروسته د ذکر امر راځي:

{فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ} (النساء: ۱۰۳)

ذکر په قرآن کې یوازې لفظي تکرار نه دی، بلکې د اړیکو په ټولو بڼو کې د ارزښتونو شتون دی:

* قیامًا (په ولاړه): په کار او مخامخ اړیکه کې.

* قعوداً (په ناسته): په غونډو او ناستو کې.

* علی الجنوب (په ډډه لګولو): په نارسمي اړیکو کې.

په دې توګه ذکر د حالاتو په بدلون کې د اخلاقي قانون د ساتنې یو میکانیزم ګرځي.

**شپږم: د لمانځه ضایع کول او د اړیکو شیندل کېدل**

الله تعالی فرمايي:

{فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ} (مریم: ۵۹)

دلته د لمانځه ضایع کول د اړیکو د نظام د شیندلو په مانا تداعي کوي، چې پایله یې سلوکي انحراف دی. قرآن اخلاقي سقوط یوازې د مراسمو له پرېښودلو سره نه تړي، بلکې د هغه قانون له ضایع کولو سره یې تړي چې پر اړیکو او وخت حاکم دی. د لمانځه ضایع کول له "خواهشاتو (شهواتو) پیروي" سره جوخت راغلی دی؛ دا هغه د ارزښتونو د پاشل کېدو حالت دی چې انسان خپله اړیکه له چاپېریال سره د خواهشاتو له مخې جوړوي، نه د یو محکم ارزښتناک نظام له مخې چې د ټولنو قوام او پرمختګ ساتي.

**اووم: لمونځ او ټولنيز میثاق**

په دې چوکاټ کې د لمانځه مفهوم له میثاق سره تړلی دی:

{وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا} (الإسراء: ۳۴)

لمونځ د یوې اړیکې د قانون په توګه، د عهد په پوره کولو، د ژمنې او وخت په درناوي او د ګډ وخت په ساتنه کې داخل دی. له همدې امله د ژمنو ماتول، د نورو د وخت بې ځایه لګول او ورځنیو تعهداتو نقض کول، په عملي توګه د لمانځه له ټولنیزې دندې څخه سرغړونه ده.

**اتم: پایلې**

دا مقاله لاندې پایلو ته رسېږي:

۱. په قرآن کې لمونځ یوازې یو انفرادي عبادت نه دی، بلکې د اړیکو د مدیریت قانون دی. ۲. لمانځه ته د «کتابًا موقوتًا» توصیف ورکول، د دین او اخلاقي وخت (د ژمنو درناوی) ترمنځ بنسټیز تړاو جوړوي. ۳. ذکر په ټولو حالاتو کې د دغه قانون د ساتنې وسیله ده. ۴. د معاصرو اړیکو کړکېچ—چې یو یې د وخت کړکېچ دی—له خپل میثاقي اړخ څخه د لمانځه د جلاکولو پایله ده.

**پایخبره**

د قرآني نسبي لوستنې څخه څرګندېږي چې لمونځ داسې کار نه دی چې ادا شي او بیا هېر شي، بلکې یو داسې نظام دی چې په وخت او اړیکه کې اداره او ساتل کېږي. څومره چې لمونځ د یوې اړیکې او ژمنتیا د قانون په توګه بېرته را ژوندی شي، په هماغه اندازه په انساني ټولنه کې اخلاقي توازن بېرته راګرځي. خو کله چې له مانا خالي شي او یوازې په یو مذهبي دود کې را لنډ شي، نو اړیکې شیندل کېږي، وخت سپکېږي او میثاق ماتېږي، که څه هم ظاهري بڼې یې پر ځای پاتې وي.

## رسالت د يوې انساني دندې په توگه

### د الله تعالی د دغه قول يوه وجودي-معرفتي شننه

{كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ} (البقرة: ۱۵۱)

### لومړی: د خطاب عموميت او د «رسول منكم» د مفهوم شننه

د الله تعالی دا قول: {كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ} په يو داسې بنسټيز سياق کې راغلی چې د رسالت مفهوم له شخصي-تاريخي چوکاټ څخه وباسي او يو پراخ وظيفوي-وجودي افق ته يې لېږدوي. دا ايت يوازې د يو نبي د لېږلو خبر نه ورکوي، بلکې يو تکرارېدونکی قرآني اصل رامنځته کوي؛ هغه دا چې رسالت له هغې ټولنيزې اډانې څخه جلا نه دی چې پکې لېږل کېږي، بلکې له هماغه دننه څخه را ټوکېږي.

موږ په يوه بله مقاله کې د "رسالت" او "رسول" د مفهوم په اړه په پراخه کچه بحث کړی و، چې په (آية الفىء) کې د واکمنۍ لپاره د استول شوي يا د خلکو له خوا د ټاکل شوي (منتخب) کس په مانا ده.

دا فهم په قرآن کې د ورته تعبيرونو د تکرار له لارې هم تاييدېږي، لکه:

{لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ} (آل عمران: ۱۶۴)

{جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ} (التوبة: ۱۲۸)

دلته «منكم» او «من انفسكم» يو نسبي توصيف نه دی، بلکې پر دې ټينگار دی چې رسالت د انساني تجسم وړتيا لري او له واقعيت څخه يو جلا خطاب نه دی. که داسې نه وي، نو د دې ايتونو مانا به دا وي چې رسالت يوازې په هغو کسانو پورې منحصر دی چې په تېر زمانه کې اوسېدل، او دا کار د محمدي رسالت نړۍوالتوب (عالميت) له پوښتنې سره مخ کوي.

له همدې ځايه، رسالت د يوې عمومي انساني دندې په توگه پېژندل کېدای شي چې هر فرد يې په خپله ټولنيزه محدوده کې (په کورنۍ، ډله، او په هغه معرفتي يا مسلکي ډگر کې چې ور پورې تړلی

دی) پر غاړه لري؛ دا مانا د تشريعي نبوت په مانا نه ده، بلکې د ارزښتناک او معرفتي مسؤليت په مانا ده.

**دويم: په قرآني اډانه کې د رسالتي کار تسلسل**

دا ايت د رسالتي کار لپاره يو بشپړ ميتودولوژيکي موډل وړاندې کوي، چې پر داسې دقيق تسلسل ولاړ دی چې پړاوونه يې نشي جلا کېدای:

۱. {يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا}: د ارزښتناک چوکاټ جوړول

دلته تلاوت يوازې په لفظي ادا کولو پورې محدود نه دی، بلکې د «اياتونو» وړاندې کولو ته اشاره ده؛ د داسې نښو په توګه چې کوني او ارزښتناک اړخونه لري، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

{سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ} (فصلت: ۵۳)

اياتونه هغه لوړه مرجع ده چې د حق، عدل او تلې (ميزان) مانا توليدوي، او دا د هر هغه رسالتي فعل بنسټ دی چې وروسته ترسره کېږي.

۲. {وَيُزَكِّيكُمْ}: د ارزښتناک شعور جوړول

تزکيه د نفس د دننني ازادولو د هغې پروسې په مانا ده چې د ارزښتونو د منلو په وړاندې خنډونه له منځه وړي. دا مانا له دغه ايت سره پوره سمون لري:

{قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا} (الشمس: ۹)

نو تزکيه يوازې يو مذهبي دود نه دی، بلکې په شعور کې يو بنسټيز بدلون دی چې ارزښتونه په چلند کې فعالوي، نه دا چې يوازې اخلاقي شعارونه پاتې شي.

۳. {وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ}: د کوني قوانينو درک کول

کتاب په قرآن کې يوازې په ديني متن پورې محدود نه دی، بلکې هغه ليکلي نظام ته اشاره کوي چې پر وجود حاکم دی، لکه په دغو ايتونو کې:

{مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ} (الأنعام: ۳۸)

{وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ} (الرعد: ۸)

نو د «کتاب» ښوونه په اصل کې د سبب او مسبب د قوانينو، کوني سننو او د هغو نظامونو ښوونه ده چې د تاريخ، طبيعت او ټولنې پر حرکت حاکم دي.

۴. {وَالْحِكْمَةَ}: د ارزښتناکې تلې (میزان) په اړانه کې د قانون فعالول
حکمت د معرفت اخلاقي او تطبیقي اړخ دی؛ یانې د انساني تلې لـه زیـانمنولو پرتـه د قوانینـو کارولو وړتیا، لکه په دغه ایت کې:
{يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا} (البقرة: ۲۶۹)
بې حکمته علم د طغیان لامل کېږي، او قرآن د ځواک او معرفت په سیاق کې لـه همـدې خطـر څخه خبرداری ورکوي:
{كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ} (العلق: ۶–۷)
۵. {وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ}: متجدد (تازه کېدونکی) معرفت
ایت په یو انقلابي معرفتي لوري پای ته رسېږي او ټینګار کوي چې رسالت د تېر میراث ساتل نه دي، بلکې د نوي معرفت تولید دی. دا له لاندې ایتونو سره همغږي لري:
{وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا} (طه: ۱۱۴)
{إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ} (فاطر: ۲۸)
قرآني معرفت یو پرانیستی معرفت دی چې پر څېړنې، تجربې او پرمختګ ولاړ دی، نه پر تقلید او تکرار.

**پایخبره**

د سوره بقرې (۱۵۱) ایت یو بشپړ رسالتي موډل وړاندې کـوي، چـې انسـان پـه نـړۍ کـې د یـو ارزښتناك او معرفتي فاعل په توګه تعریفوي، نه یوازې د متن د ترلاسه کونکي په توګه. په قـرآن کـې رسالت یوه تړل شوې تاریخي پېښه نه ده، بلکې یو داسې انساني مسؤلیت دی چې د شعور پـه تـازه کېدو سره تازه کېږي؛ او دا مسؤلیت هغه مهال پـه ټپـه درېـږي چـې علـم لـه حکمـت، یـا قـانون لـه ارزښتونو څخه جلا شي.

له همدې امله، هر هغه انسان چې ځان لـه دې رول څخـه لـرې سـاتي، د رسـالت ځـای خـالي پرېږدي، خو یې وحی نه، بلکې طغیان ډك کړي.

## د «بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ» مانا

### د نوم (اسم)، نښې (سمة) او لوړوالي (سمو) په مفاهيمو کې يوه تدبري لوستنه

د «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» جمله په اسلامي ديني شعور کې يو له خورا عامو جملو څخه ده، خو دا پراخ شتون ډېری وخت د هغې په مفهومي او قرآني ماناوو کې له ژور تدبر سره مل نه دی؛ ځکه د هغې مانا يوازې په لفظي مرسته غوښتلو يا د کارونو په پيل کې د الله د نوم په يادولو کې راالنډه شوې ده، پرته له دې چې پخپله د «اسم» په مانا او يا د انسان او د هغه د فعل ترمنځ د اړيکې پر ماهيت بحث وشي، کله چې دا فعل «د الله په نوم» وي.

دا لوستنه له دغه مبارک ايت څخه سرچينه اخلي:

{إِنَّهُۥ مِن سُلَيۡمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ} (النمل: ۳۰)؛

دا ايت له دوديز چوکاټ څخه بهر او د دندې، رسالت او تمکين (واکمنۍ) په سياق کې د «بِسْمِ اللَّهِ» د مانا پوهېدو له پاره يو کليدي متن دی.

### لومړی: په قرآن کې د «اسماء» مفهوم او د شکلي پوهاوي ستونزه

د الله تعالی دا قول: {وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا} (البقرة: ۳۱)؛ په قرآن کې د «اسم» د مانا پوهېدو لپاره يو مرکزي پيل دی. دلته نومونه يوازې په لفظي نومونو يا شکلي سرليکونو کې نشي رالنډېدای، بلکې د وجود تشخيص، ډلبندۍ او بنسټيزې پوهې ته اشاره کوي. په قرآني شعور کې "نوم" د معرفت يوه وسيله ده، نه يوازې يو غږيز نښان.

له همدې امله، دا پوښتنه چې: "ايا له نومونو څخه مراد د ملائکو نومونه دي؟" پخپله د اوسني پوهاوي نيمګړتيا ښيي؛ ځکه آدم ته چې څه ښوول شوي، هغه د سمات (نښو)، دندو او وړتياوو درک کول و، يانې د هغه څه ژور جوړښت چې ده ته وړاندې شو، نه يوازې د هغو لفظي نومونه.

همدا مانا د الله تعالی د دغه قول سپيناوی کوي: {أَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ}؛ دا د ځينو پټو انرژيو يا اړخونو په وړاندې د انساني معرفت محدوديت ته اشاره ده.

**دویم: له «اسم» څخه تر «سِمَة» (نښې) پورې**

د «اسم» مانا له «سِمَة» (نښې) څخه اخیستل شوې، چې د ځانګړنو او وړتیاوو یوې ګډې نښې ته ویل کېږي. نښه (سمة) تر صفت ژوره ده، ځکه د یو شي بشپړ وظیفوي جوړښت رانغاړي. له همدې لیدلوري موږ پوهېږو چې د الله تعالی ښکلي نومونه (اسماء الحسنی) یوازې وچې نومونې نه دي، بلکې فعالې وجودي نښې (سمات) دي.

«الرَّحْمَن» پر هغې شاملې او پیاوړې لورینې (رحمت) دلالت کوي، او «الرَّحِیم» په واقعیت کې د دغه ځواک پر ځانګړې اغیزې دلالت کوي. په دې مانا، الهي نومونه ارزښتناک چوکاټونه او فعال شوي ځواکونه دي، نه یوازې لغوي توصیفونه.

**دریم: د فعل او رسالت په سیاق کې د «بِسْمِ اللَّهِ» مانا**

د سلیمان علیه السلام رسالت ته په کتو دا څرګندېږي چې د هغه دا قول: {وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ}؛ یوازې د یو لیک پیل په بسملې سره نه دی، بلکې پدې مانا دی چې پخپله دا "فعل" د الهي نښو (سمات) په اډانه کې ترسره کېږي. لکه څنګه چې په اوسني استعمال کې وایو: "فلانی د دولت په نوم (استازیتوب) کار کوي"، یانې په صلاحیت او واک سره؛ نو سلیمان علیه السلام هم خپل فعل د داسې الهي نښو د لېږدونکي په توګه ترسره کاوه چې ده ته الهام شوې وې، نه دا چې ده پخپله ترلاسه کړې وې.

دلته د «بِسْمِ اللَّهِ» بنسټیزه مانا روښانه کېږي: دا چې انسان داسې کار وکړي چې پوهېږي دی په واقعیت کې د الهي ارزښتونو استازیتوب کوي، او د عدل، رحمت، حکمت او مسؤلیت لټه کوي. د «بسم الله» ویل یوازې لفظي ذکر نه دی، بلکې د یو رسالتي تعهد اعلان دی.

**څلورم: «بِسْمِ اللَّهِ» د یو کوني حرکت د قانون په توګه**

دا پوهاوی د الله تعالی په دغه قول کې نور هم پیاوړی کېږي: {وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرِهَا وَمُرْسَاهَا} (هود: ۴۱). د بېړۍ چلېدل او درېدل «د الله په نوم» پدې مانا دي چې دا د یو حاکم الهي قانون او داسې ساتنې (رعایت) تابع ده چې نه مغلوبېږي. دا یو داسې حرکت دی چې په الهي سننو منظم شوی، نه پکې کوم تصادف شته او نه هم ګډوډي.

**پنځم: نوم د يوې وظيفوي نښې په توګه، نه د يو شخصي لقب**

د تشخيصي نوم او وظيفوي نوم ترمنځ توپير د عيسی عليه السلام په اړه په دغه ايت کې ښکاره شوی: {اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ} (آل عمران: ۴۵). دلته «عيسی» شخصي نوم دی، خو «المسيح» هغه وظيفوي نښه (سمة) ده چې له دندې سره يې تړاو لري.

همدارنګه په دغه ايت کې: {وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ} (الصف: ٦)؛ چې دلته «احمد» هغې بشپړې نښې (سمة) ته اشاره کوي چې له شامل حمد (ستاينې) سره تړلې ده، په داسې حال کې چې «محمد» هغه نوم دی چې په واقعيت کې د رسالت له تحقق سره تړلی دی. دا د ارزښتناک هويت او تاريخي دندې ترمنځ يو دقيق توپير دی.

**شپږم: د نوم يادول د يو عملي تعهد په توګه**

د الله تعالی په دغه قول کې: {وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ} (الأعلى: ۱۵)؛ ذکر يوازې په لفظي تکرار نه فهمول کيږي، بلکې په شعوري ډول په چلند، اړيکو او معاملو کې د تشريع او ارزښتونو ساتلو په مانا دی. نو دلته لمونځ له ژوند څخه جلا کوم مراسم نه دي، بلکې د "نوم د ذکر" يو عملي انځور دی.

**اووم: «بِسْمِ» او وجودي لوړوالی (سمو)**

د «بِسْمِ» کلمه هغه مهال يو اضافي اړخ پيدا کوي کله چې له «سّمو» (لوړوالي) سره وتړل شي؛ او دا هماغه مانا ده چې له لفظ جلاله سره د نښليدو پر مهال د "الف" د حذف کېدو علت بيانوي. د الله په نوم کار کول د ارزښتناک ارتقا لپاره هڅه ده، د نفس کنټرول دی او تل د الهي کمال له نښو (سمات) سره د ځان برابرولو يوه هڅه ده.

**پايخبره**

زموږ دا وينا چې «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ»، تر لفظي پيل وړاندې يو وجودي تړون دی؛ دا تعهد دی چې موږ به د الله د نښو (سمات) په رڼا کې کار کوو، په ځمکه کې به د هغه د ارزښتونو استازيتوب کوو او د هغه په نوم به د فعل مسؤليت منو. يوازې په دغه صورت کې انسان په خپله برخه کې يو «رسول» کېدای شي، چې د الله په رحمت او ساتنه کې نغښتی وي او د هغه لوړوالي (سمو) مستحق وي چې د دين جوهر او موخه ده.

## سپېڅلی جبر: د طاغوت تر ټولو خطرناکه بڼه

کله چې په عامه ذهنیت کې د "طاغوت" مفهوم یادیږي، ذهن سمدلاسه یو ځانګړي تاریخي بت یا یو ځانګړي سیاسي ظالم ته ځي؛ ګواکې طاغوت د یو کس یا یوې مجسمې نوم دی. خو قرآن طاغوت په داسې سادګۍ نه وړاندې کوي، بلکې هغه په یو دقیق معرفتي-وجودي جوړښت کې راولي، چې طاغوت پکې یوه داسې پدیده ده چې په هر زمان کې تکراریږي؛ ځکه دا له مادې یا نومونو سره تړلې نه ده، بلکې له هغه منطق سره تړلې ده چې د انسان او حق ترمنځ اړیکه اداره کوي.

د دغه منطق تر ټولو روښانه انځور د الله تعالی په دغه قول کې دی: {لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ}. دا ایت یوازې یوه عامه اخلاقي جمله نه ده، بلکې د کار یو بشپړ سیستم دی: د جبر په نفي کولو پیل کیږي، بیا اعلانوي چې سمه لاره (رشد) له بې لارۍ (غي) څخه بېله او څرګنده شوې ده، بیا پر طاغوت کفر پر الله باندې د ایمان لپاره یو مخکینی شرط ګرځوي، او په پای کې وایي چې یوازې همدغه لاره "عروة الوثقی" (هغه کلکه کړۍ چې نه شلیږي) ته رسیږي. د دغه ایت ترتیب په یوازې ځان کافي دی چې دودیز پوهاوی سرچپه کړي: قرآن یوازې دا نه وایي چې "پر الله ایمان راوړئ"، بلکې په ضمني ډول وایي: تر څو چې لومړی له طاغوت څخه ازادي ترلاسه نشي-، پر الله رښتینی ایمان نشي راتلای.

له همدې ځایه، جبر یوازې یوه سلوکي تېروتنه نه ده چې له مومنانو یا ادارو څخه واقع کېږي، بلکې دا پخپله د طاغوت بنسټیزه نښه ده. ایت د جبر په نفي کولو پیلیږي، ځکه جبر هغه طبیعي چاپېریال دی چې طاغوت پکې ساه اخلي؛ چېرته چې جبر وي هلته طاغوت شته، او چېرته چې جبر له منځه لاړ شي طاغوت پخپله نړیږي، که څه هم دیني او سیاسي شعارونه پر خپل ځای پاتې وي. الله تعالی ایمان د یو جبري اطاعت په توګه نه راپېژني، ځکه جبري اطاعت ښایي یو ظاهري غاړه ایښودل رامنځته کړي، خو ایمان نشي جوړولای. ایمان تر ګواښ لاندې نه رامنځته کیږي، د وېرې په غېږ کې نه لوییږي او د عقل په درولو (تعطیل) نه بنا کیږي؛ ایمان د شعور یو فعل دی، او شعور

یوازې د ازادۍ په فضا کې زیږېدی شي. نو ځکه، "لا اکراه في الدین" باید یـوازې د یـوې معترضـې جملې په توګه ونه لولو، بلکې د داسې یو اعلان په توګه یې ولولو چې رښتینی دین پر قهـر او زور نـه درېږي، او هر هغه دین چې د جبر په یو سیستم بدل شي، هغه له الله څخه د طاغوت لوري ته انتقال دی، که څه هم په هر خطاب کې د الله نوم یاد کړي.

بیا دا پرېکنده جمله راځي: {**قد تبیّن الرشد من الغي**}؛ ګواکې دا وایي چې حق کله "حق" وي، نو نه لرګي (سوټي) ته اړتیا لري، نه محکمې ته او نه هم تعقیب ته. رشد په خپلـه څرګنـدیږي او بـې لارې په خپله رسوا کیږي؛ نو که چېرې جبر ته اړتیا پیښه شوه، دا د دې نښـه ده چـې د "څرګندېـدو" (تبیّن) مخه نیول شوې یا مسخه شوې او یا هم د وېرې د تولید تابع شوې ده. دلته د اوسـني طـاغوت حقیقت رابرسېره کیږي: هغه له حقیقت سره مخامخ جګړه نـه کـوي، بلکـې د "تبـینّ" (څرګندېـدو او پېژندنې) پر ضد جګړه کوي، یانې د انسان د تمییز او تشخیص د وړتیا پر ضد جګړه کـوي. طـاغوت نه غواړي چې ته وګورې، بلکې غواړي چې ته پیروي وکړې؛ نه غـواړي چـې تـه وپـوهېږې، بلکـې غواړي چې ته تسلیم شې؛ نه غواړي چې ته پوښتنه وکړې، بلکې غواړي چې ته غلی شې. له همدې امله طاغوت تل په ابهام او د جوړې شوې سپېڅلتیا (مقدس) پـه سیمو کـې کـار کـوي، او پـه هغـو ځایونو کې چې عقل د "تور" په واسطه، وجـدان د "وېـرې" پـه واسـطه او انسـان د "ګوښـه والي" پـه واسطه کلابند کیږي.

په دې توګه، د {**فمن یکفر بالطاغوت ویؤمن بالله**} جمله د یو عقیدتي شعار پر ځای د ازادۍ یو پروګرام ګرځي. "پر طاغوت کفر" سپکاوی یا ښکنځل نه دي، بلکې پخپله د جبر د منطق یـوه ژوره ردېدنه ده: د حقیقت د انحصار ردول، د شعور د مصادرې ردول، او د دې خبرې ردول چې یوه اداره — که هغه دیني وي که سیاسي یا ټولنیزه — د انسان او د هغه د پېژندنې او ټاکنې د حق ترمنځ په یـو جبري منځګړي بدله شي. له همدې امله قرآني ترتیب د لټ شعور لپـاره ټکـان ورکـوونکی دی: پـر طاغوت کفر پر الله تر ایمان وړاندې دی، ځکه څوک چې د جبر له سلطې ازاد نه شي، ایمان ته نشي رسېدای، بلکې د هغه "اطاعت" اسیر به پاتې وي چې ښایي د دین په رنـګ شـوی وي خـو لـه دیـن څخه نه وي. طاغوت اطاعت غواړي، خو الله شعور غواړي. طاغوت پیروان جوړوي، خـو الله ازاد او مسؤل انسانان جوړوي.

که واقعیت ته وګورو، وینو چې طاغوت بېلابېل مخونه لري خـو پـه جـوهر کـې یـو دی: دینـي طاغوت چې د الله د تفسیر انحصار کوي او پوښتنه تکفیروي، سیاسي طاغوت چې واکمني سـپېڅلې

ګڼي او مخالفت جرم بولي، ټولنيز طاغوت چې د دود په نوم بېل رنګ ځپي، او فکري طاغوت چې نقد منع کوي او شعور ته د شيطان صفت ورکوي. دا ټولې بڼې په لباس کې توپير لري، خو په يوه ټکي کې سره يوځای کيږي: د "حق"، "مصلحت" يا "ثوابتو" په نوم د جبر توليدول. دلته سپېڅلتيا د کنټرول په وسيله بدليږي، ارزښتونه په زنځيرونو بدليږي، او دين — د دې پر ځای چې ازادي وي — د انسان د ازادۍ د مجازات کولو په يوه اداري دستګاه بدليږي.

له همدې امله قرآن پايله نه په کومې ډلې پورې په تړاو او نه په مذهبي تعصب کې بولي، بلکې په "عروة الوثقی" پورې په نښلېدو کې يې بولي: {فقد استمسك بالعروة الوثقی لا انفصام لها}. عروة الوثقی کومه داسې اداره نه ده چې خلك مجبور کړي، نه داسې واکمني ده چې مخالفين وځپي او نه داسې نظام دی چې ځان په قمچينه تپي؛ بلکې دا د انسان او حق ترمنځ يو داخلي پيوستون دی، يوه داسې اړيکه چې ساتونکو ته اړتيا نه لري ځکه چې پر "تبينّ" (پېژندنه) ولاړه ده، او نه شليږي ځکه چې پر وېره نه ده جوړه شوې. له همدې ځايه، اوسنی طاغوت په يو تعريف کې رالنډېدای شي: طاغوت هر هغه جبري جوړښت دی — ديني وي، که سياسي، ټولنيز يا فکري — چې د تشخيص او ټاکنې په برخه کې د انسان ازادي مصادره کړي، او د الله، حق، وطن يا عامه مصلحت په نوم د عقل او وجدان ځای ونيسي. په دې توګه، رښتينې جګړه د شعارونو په څېر د "مومن او کافر" ترمنځ نه ده، بلکې د هغې ازادۍ ترمنځ ده چې شعور او مسؤليت توليدوي، او د هغه جبر ترمنځ ده چې رمه او تسليمېدل توليدوي؛ د هغه "تبينّ" ترمنځ ده چې د رشد دروازه پرانيزي، او د هغه "طاغوت" ترمنځ ده چې دا دروازه په زور تړي.

# ایا الله له انسان سره خبرې کړې دي؟

## په قرآن کې د "تکلیم" (خبرو کولو) پر مفهوم یوه وجودي لوستنه

**سریزه**

د "الله کلام" مفهوم یو له خورا حساسو قرآني مفاهیمو څخه دی؛ ځکه دا د تنزیه (پاک ګڼلو)، تشبیه (ورته والي)، او د بشري ژبې و وجودي تجربې ترمنځ پر پوله ولاړ دی. په دیني میراث کې دا فهم عام شوی چې "تکلیم" د الله او انسان ترمنځ یوه مخامخ ژبنۍ مرکه ده، خو دا ډول پوهاوی د الله د ذات، د ژبې د حدودو او پخپله د وحې د مانا په اړه ژورې پوښتنې راپیدا کوي.

دا مقاله له یوې روښانه فرضیې پیل کېږي:

الله له انسان سره په ژبني او کلامي خطاب خبرې نه کوي، بلکې د وحې، الهام او په شعور کې د مانا د اچولو له لارې اړیکه نیسي. هغه څه چې قرآن "تکلیم" بللي، د یوې خورا لوړې ادراکي تجربې بشري توصیف دی، نه لفظي محادثه.

**لومړی: تنزیه د فهم بنسټ دی**

قرآن یو مرکزي اصل بیانوي:

{لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ}

که چېرې په بشري تجربه کې خبرې کول: غږ، توري، وخت او د ویلو وسیلې ته وایو، نو الله ته د دغه لفظي مانا منسوبول که څه هم په قصد نه وي، خو بالآخره د هغه ذات له مخلوق سره ورته کول (تشبیه) دي. له همدې امله، دا اړینه ده چې کله "کلام" الله ته منسوب شي، نو د هغه پر مانا بیا کتنه وشي؛ داسې چې نه ترې منکر شو او نه یې هم جسماني کړو.

**دویم: قرآني ژبه د توصیف ژبه ده، نه د تمثیل**

قرآن په "مبیني عربي ژبې" یانې د بشر په ژبه نازل شوی، څو د هغوی شعور ته خطاب وکړي، نه دا چې د الله ذات لکه څنګه چې په خپل مطلق حقیقت کې دی، هغسې بیان کړي. له همدې امله، د داسې الفاظو کارول لکه: قال (وې ویل)، كَلَّم (خبرې یې وکړې)، نادى (غږ یې وکړ)، خامخا دا

مانا نه لري چې دا چارې په بشري ډول ترسره شوې دي، بلکې دا د يوې غير ژبنۍ اړيکې لپاره يو ژبنی توصيف دی.

پخپله قرآن دغه توپير ته اشاره کوي کله چې فرمايي:

{وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا}

دلته استثنا د خبرو کولو په طريقه کې نه ده، بلکې د ادراک په وسيله کې ده.

**دريم: تکليم نطق (ږغيدل) نه، بلکې د شعور يو مقام دی**

کله چې قرآن وايي:

{وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا}

نو دا د يو غبريز حوار (خبرو اترو) توصيف نه کوي، بلکې د وحې يو ځانګړی مقام راپيژني چې له عام الهام، رويا (خوب) او د رسول په واسطه له وحې سره توپير لري.

دلته تکليم پدې مانا دی:

بې له کومې بشري واسطې، په مستقيم ډول د موسی په شعور کې د مانا اچول.

د دې دليل دا دی چې پخپله قرآن په ډېرو ځايونو کې موږ ته "د کلام متن" نه راپيژني، بلکې يوازې د اړيکې پر رامنځته کېدو او په شعور او چلند کې د هغې پر اغېزو بسنه کوي.

**څلورم: نو بيا ولې "تکليم" ورته ويل شوی؟**

ځکه چې ژبه د دغو حقايقو د بيان لپاره له "کلام" پرته بله ډېره دقيقه کلمه نه لري چې وکولای شي دغه مفاهيم بيان کړي:

* د يوې بهرنۍ مانا شتون.
* له خپل ذات څخه د پورته (متجاوز) بل ذات په اړه شعور.
* له وجودي چوپتيا څخه د خطاب مقام ته لېږد.

نو "تکليم" د وسيلې توصيف نه دی، بلکې د اړيکې د دندې (وظيفې) توصيف دی.

همدارنګه د ماناګانو په جامع قاموس (معجم المعانی الجامع) کې د "کلّم فلان" يوه مانا دا راغلې چې "هغه يې خبرو ته راووست"؛ له همدې امله موسی سمدلاسه وروسته وويل: "رب ارني انظر اليك"، په داسې حال کې چې تر دې وړاندې د الله سبحانه وتعالی سره کومه محادثه نه وه شوې.

لکه څنګه چې قرآن د اسمانونو او ځمکې په اړه وايي:

{قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ}

دا یو داسې قول دی چې نه غږ لري او نه ژبه، بلکې په وجود کې د اطاعت د مانا تحقق دی.

**پنځم: موسی... له چوپه شعوره د پوښتنې تر جراته**

د الله تعالی په دغه قول کې:

{وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ}

دا اړینه نه ده چې داسې وپوهېږو چې الله لومړی "خبرې وکړې" او بیا موسی ځواب ورکړ، بلکې دا صحنه داسې فهمول کېدای شي:

* پوښتنه د موسی په شعور کې پټه وه.
* بیا مستقیمه وحې (تکلیم) راغله.
* نو موسی له هیبت لرونکي مقام څخه د پوښتنې مقام ته ولېږدېد، یانې تکلیم شعور ازاد کړ، نه دا چې کوم لفظي حوار ترسره شوی وي.

**شپږم: د وحې او تکلیم ترمنځ توپیر**

هره وحې تکلیم نه دی، خو هر تکلیم وحې ده.

* وحې ښایي یو پټ الهام وي.
* ښایي یوه اشاره وي.
* ښایي یو لید (رویا) وي.
* خو تکلیم د مستقیمې وحې تر ټولو لوړه ادراکي درجه ده؛ نه د غږ لپاره، بلکې بې له واسطې د مانا د شتون له برکته.

**پایخبره**

دا وینا چې الله له چا سره کلامي او ژبنی خطاب نه کوي، پدې مانا نه ده چې موږ له وحې منکر یو، بلکې دا د حسي تصوراتو څخه د وحې ازادول دي. که چېرې موږ "تکلیم" د لفظي محادثې پر ځای د شعور د یوې تجربې په توګه وپېژنو، نو لاندې ګټې لري:

* د الله تنزیه (پاکوالی) ساتل کېږي.
* د قرآني ژبې دقت خوندي کېږي.
* د نبوي تجربې ژوروالی څرګندېږي.

نو قرآن موږ ته دا نه وایي چې الله څنګه خبرې کوي، بلکې دا راته وایي چې کله انسان الهي مانا ترلاسه کړي، نو څنګه بدلېږي. او دا په خپل جوهر کې وحې ده، چې لوړه درجه یې تکلیم دی.

# د قرآن عربیت د ژبې او مانا ترمنځ

## یوه معرفتي او نقدي لوستنه

**سریزه**

د قرآن کریم په بېلابېلو ځایونو کې د دغه کتاب صفت په «عربي» سره شوی دی، چې یو له څرګندو هغو یې د الله تعالی دا قول دی:

{كِتَابٌ فُصِّلَتْ آيَاتُهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ} (فصلت: ۳).

دودیزو تفسیرونو د دغه صفت فهم یوازې د عربي ژبې په لوري بیولی او هغه یې د یو تاریخي ژبني سیستم په توګه پېژندلی دی. خو دا ډول پوهاوی ژورې معرفتي او میتودولوژیکي پوښتنې راپیدا کوي؛ په ځانګړې توګه کله چې موږ ګورو چې پخپله د «لغة» (ژبې) اصطلاح په قرآن کې بیخي نه ده راغلې، بلکې د (ل غ و) د مادې مشتقات تل په منفي سیاق کې کارول شوي چې پر بې ځایه او بې مانا خبرو دلالت کوي.

دا څېړنه پر دغه فرضیه ولاړه ده چې د قرآن «عربیت» د اصطلاحي ژبې یا تاریخي لهجې په مانا نه دی، بلکې د قرآني «لسان» (ژبې/بیان) ماهیت ته اشاره ده؛ یوه داسې ژبه چې روښانه ده، بنده نه ده او د انساني پوهې (معرفت) په زیاتېدو سره پکې ماناوې رابرسېره کېدای شي.

**لومړی: د «لغة» د مفهوم نشتوالی او د «لسان» شتون**

قرآن د «لغة» مفهوم د یو اصطلاحي چوکاټ په توګه نه کاروي، بلکې پر ځای یې د «لسان» مفهوم کاروي، لکه په دغه ایت کې: {وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ} (النحل: ۱۰۳).

په قرآني مانا کې «لسان» یوازې په کلمو یا ګرامري قواعدو کې نه رانغاړل کېږي، بلکې د مانا لېږدونې یو داسې سیستم ته وایي چې له شکلي جوړښت څخه ورهاخوا معرفتي دنده لري. خو «لغة» (ژبه) – لکه څنګه چې وروسته په ژبپوهنه کې رامنځته شوه – یو انتزاعي توصیف دی چې د قرآني خطاب په بنسټ کې یې شتون نه درلود.

**دویم: د «عربي» او «اعجمي» مقایسه – یوه مانیزه شننه**

په قرآن کې د «عربي» صفت تل د «اعجمي» په مقابل کې راغلی دی. که د «اعجم» کلمې لغوي ریښې ته وګورو، نو د ابهام او بندښت ماناوې ترې راوځي؛ لکه عرب چې وایي: (أعجم الکلام) یانې خبره یې وژووله، او (بابٌ مُعجم) یانې بند ور.

له همدې امله، په قرآني مفهوم کې «اعجمي» کوم قومي یا نژادي توصیف نه دی، بلکې د یوه داسې مانیز حالت بیان دی چې بند وي، مانا نه څرګندوي او د هغې د ودې اجازه نه ورکوي. په مقابل کې، «عربي» هغه څه دي چې په «ابانت» (روښانتیا) موصوف وي، یانې د رابرسېره کېدو، تفصیل او تجلی وړتیا ولري.

**دریم: «اعراب» د یوې مانیزې دندې په توګه، نه شکلي**

په قرآن کې د عربیت مفهوم د «اعراب» له اصل سره نژدې تړاو لري، نه له ویي پانګې (معجم) سره. اعراب په خپل اصل کې یوازې د کلمو د پای حرکتونو ته نه ویل کېږي، بلکې په یو نظم کې د کلمې د دندې ټاکلو ته وایي؛ یانې د کلمې مانا په سیاق کې د هغې د ځای له مخې څرګندول، نه د هغې د ځانګړي او جلا لغوي تعریف له مخې.

دلته څرګندېږي چې د قرآن فهم د کلمو په جلا جلا کولو نه ترلاسه کېږي، بلکې د قرآني نظم په شننه ترلاسه کېږي. لغتنامه (معجم) موږ ته ساکنې کلمې راکوي، خو قرآني «لسان» ژوندۍ او متحرکه مانا تولیدوي.

**څلورم: تفصیل د «اعجام» په مقابل کې**

قرآن دا مانا پخپل دغه قول کې تاییدوي:

{وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا لَوْلَا فُصِّلَتْ آيَاتُهُ} (فصلت: ۴۴).

دلته «تفصیل» د «اعجام» (بندښت او ابهام) ضد دی. قرآن د یو مفصل متن په توګه، خپله مانا په یوه معرفتي کچه کې نه بندوي، بلکې د پوهې د وسیلو د پرمختګ سره سم د فهم د بېلابېلو کچو اجازه ورکوي. له همدې امله تفصیل له دغه قول سره یوځای راغلی: {لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ}؛ دا یو ښکاره اشاره ده چې «علم» د قرآني مانا د رابرسېره کېدو لپاره یو بنسټیز شرط دی.

**پنځم: د دودیزو تفسیرونو محدودیت**

د پخوانیو تفسیرونو تکیه چې یوازې د کلمو پر لغوي ماناوو وه، هغه هم د نویو علمي وسیلو په نشتوالي کې، د دې لامل شوه چې د قرآني متن فهم د یوې تاریخي معرفتي کچې پورې محدود پاتې

شي. دا کومه قصدي نيمګړتيا نه وه، بلکې د هغې معرفتي مرحلې طبيعي پايله وه چې لا يې د طبيعت، فزيك، ستورپوهنې او جيولوژي په علومو کې پرمختګ نه وو کړی، ترڅو په متن کې کوني اشارې درك کړي.

له همدې امله، يوازې پر پخوانيو تفسيرونو ودرېدل له متن سره وفاداري نه ده، بلکې دا د قرآن له عربي او مبين ماهيت سره په ټکر کې ده.

**شپږم: قرآن د لسان اصل دی، نه د نحوي قواعدو مرجع**

له تاريخي پلوه دا منل شوې خبره ده چې د نحوې، بلاغت او ژبپوهنې ټول کتابونه د قرآن له نزول څخه وروسته ليکل شوي دي. نو ځکه، د دغو قواعدو په رڼا کې د قرآني متن قضاوت کول، د فهم د ميتود سرچپه کول دي.

قرآن د عربي «لسان» بنسټګر اصل دی، په داسې حال کې چې لهجې او قواعد چې موږ يې نن کاروو، بدليدونکي تاريخي محصولات دي. نو قرآن د داسې ژبنيو قوانينو تابع کول چې تر هغه وروسته رامنځته شوي، د وحې په لوستنه کې يوه ميتودولوژيکي تېروتنه ده.

**اووم: د ساينس او قرآن اړيکه**

قرآن د تجربوي علومو سرچينه نه ده، بلکې يو داسې متن دی چې د ساينس په پرمختګ سره يې د پوهېدو وړتيا زياتېږي. ساينس له قرآن څخه نه اخيستل کېږي، بلکې قرآن د ساينس په واسطه پرانيستل کېږي. کله چې انسان د کايناتو قوانين کشف کړي، نو د قرآني اشارو په ژوروالي پوهېږي او هلته د رسالت پر رښتونولۍ يقين پيدا کوي.

دا د الله تعالی له دغه قول سره سمون خوري: {نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ}؛ يانې د متن د مانـاوو او کشف شوي واقعيت ترمنځ مطابقت د تصديق بنسټ دی.

**پايله**

دا لوستنه موږ دې پايلې ته رسوي چې د قرآن عربيت يو تاريخي ژبنی صفت نه دی، بلکې يو معرفتي او مانيز صفت دی؛ چې بنسټ يې پر روښانتيا (ابانة)، پرانيستوب، د تفصيل منلو او له علمي پرمختګ سره پر هماهنګۍ ولاړ دی. قرآن يو غير مُعجم (پرانيستی) متن دی چې مانا يې نه بندېږي، په لغتنامه کې نه رانغښتل کېږي او يوازې په خپل سياق، نظم او د علم او معرفت د وسيلو په مرسته فهمول کېدای شي.او دا د الله تعالی د دغه قول جوهر دی: {قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ}.

له مينه والو ښښنه غواړم که مقاله يو څه اکاډميکه وي او د پوهېدو لپاره يې بيا بيا لوستلو ته اړتيا وي.

## په قرآن کريم کې د «کَتَبَ» فعل دلالت او د «کتاب» مفهوم

### ولې دا د «فرض» په مانا نه دي؟

د «کَتَبَ» فعل په قرآن کريم کې يو له خورا دقيقو مانيزو فعلونو څخه دی. زموږ په کلتور کې د دغه فعل ناسم پوهاوی د ديني او انساني شعور د ځنډېدو يو له خطرناکو لاملونو څخه و؛ ځکه دا کلمه يوازې د «جبري فرض» يا «تړل شوي تقدير» په مانا کې رالنډه شوې وه، چې له امله يې انسان په پوهه، ټاکنه او مسؤليت کې خپل فعال رول بايللی و.

په فقهي خطاب کې دا خبره عامه شوې چې هر هغه څه چې د «کُتِبَ عليکم» (پر تاسو فرض شوي) په بڼه راغلي، هغه داسې فرض دي چې پکې د اختيار ځای نشته. پر دغه پوهاوي ځينې خطرناکې پايلې مرتبې شوې، لکه: د دين اړول له يوې هدايتي او تزکيوي پروژې څخه د جبر او کلک الزام يو سيستم ته، د ايماني تړاو تړل يوازې په محدودو مراسمو پورې او حتی د هغو خلکو تکفيرول چې دا مراسم نه پر ځای کوي، چې تر توندلارۍ او تشدد پورې يې لار پرانيسته.

**لومړی: د «کَتَبَ» فعل قرآني دلالت**

کله چې موږ په قرآن کريم کې د «کتب» فعل او د هغه د مشتقاتو کارونه پلټو، نو وينو چې دا د «قهري فرض» په مانا نه راځي، بلکې د تشريعي تدوين، د قانون د وضع کولو يا د حاکمې قاعدې د ټاکلو په مانا راځي.

الله تعالی فرمايي: {كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي} (المجادلة: ٢١)

دلته د "فرض" مانا هيڅ ځای نه لري، بلکې دا د يو کوني قانون بيان دی: دا چې وروستۍ بريا د حق او د هغه د استازو ده؛ دا بريا د تاريخ د سنتو او تدافع (مبارزې) له مخې ده، نه د کومې شېبې د پرېکړې يا مستقيم قهر له امله.

**دويم: «کتاب» د يو قانون په توګه، نه د جبري امر په توګه**

دا مانا په هغو ايتونو کې نور هم روښانه کېږي چې پکې «کتبنا» يا «کُتب عليکم» په څرګندو تشريعي سياقونو کې راغلي دي، لکه:

{وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ...} (المائدة: ۴۵)

دلته "کتابت" یا لیکل پدې مانا دي چې په یوې ځانګړې تاریخي مرحله کې د بني اسرائیلو لپاره یو قانون وضع شو، نه دا چې دا یو محض تعبدي فرض وي. د دې مانا تایید د ایت په پای کې کیږي:

{وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ...}

یانې «کتاب» د حکم او تشریع سرچینه ده، نه یوازې یو تعبدي امر.

همدارنګه په دغه ایت کې:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ} (البقرة: ۱۷۸)

دلته مانا په ځانګړو ضوابطو سره د یو جنایي قانون وضع کول دي، چې ورپسې دقیق تفصیل راغلی چې د تطبیق لارې چارې تنظیموي او د ښښنې او تېرېدنې لپاره ځای پرېږدي؛ دا پخپله دا ثابتوي چې دا کوم روند او جبري فرض نه دی.

**دریم: لمونځ او روژه د «کتاب» او «فرض» ترمنځ**

د الله تعالی دا قول:

{إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا}

دا پدې مانا نه دی چې دا شعایر په هغې بڼه فرض دي چې په اوسنی فقه کې مشهور دي، بلکې دا ښیي چې لمونځ یو زماني قانون لري چې قرآن ټاکلی دی:

{آناء الليل وأطراف النهار}

او بشر دا حق نه لري چې داسې وختونه له ځانه جوړ کړي چې په صریح قرآني نص کې نه وي راغلي.

همدارنګه د روژې په اړه:

{كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ...} (البقرة: ۱۸۳)

دلته یې نه دي ویلي چې «فُرِض» (فرض شوه)، بلکې د روژې قانون یې کېښود، او بیا یې سمدلاسه په وروستیو ایتونو کې د هغه شرطونه، حدود او استثناوې بیان کړې. نو غوښتنه د قانون منل دي، نه یوازې بې شعوره او جبري اطاعت.

**څلورم: هغه ایتونه چې د «کتب» او «فرض» ترمنځ ترادف نفي کوي**

د «کتب» او «فرض» د ترادف (هم مانا والي) د غلطۍ تر ټولو قوي دلیل دا ایت دی:

{كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ} (البقرة: ۲۱۶)

دلته زموږ مسؤليت روښانه کيږي چې له مړي څخه ژوندی وباسو، ځکه دا کار يوازې د الله سبحانه وتعالی په لاس کې نه دی، بلکې يو لوی انساني مسؤليت دی.

**د مقالې خلاصه**

دا ايت يوازې يو نباتي صحنه نه ده، بلکې په وجود کې يوه نظريه ده:
نه ژوند بې له مړينې شته، نه زيږون بې له چاوديدو (انشقاق)،
او نه شعور بې له هغه پوټکي ماتولو چې چاپير يې دی.
"که حجره نه مړه کېدای، بدن به مړ کيده،
که غلاف نه ماتېدای، تخم به مړ کيده،
او که وهمونه نه مړی کېدای، شعور به مړ کيده.
دا د ﴿يخرج الحي من الميت ويخرج الميت من الحي﴾ قانون دی."
د کايناتو قانون چې قرآن په يوه جمله کې بيان کړی دی:
**﴿فَالِقُ الحَبِّ وَالنَّوَى... يُخْرِجُ الحَيَّ مِنَ المَيِّتِ وَمُخْرِجُ المَيِّتِ مِنَ الحَيِّ﴾.**
(اخځليك: د ډاکټر وائل کريم "بين الماضي والحاضر" کتاب)

## خمر او قمار: د شعور لوېدل او د هڅې ځپل

**سریزه:**

په قرآن کریم کې د خمر او قمار (میسر) یوځای ذکر کول کومه ناڅاپي پېښه نه ده، بلکې دا یو تشخیصي یوځای والی دی چې له یوې داسې ناروغۍ پرده پورته کوي چې په دوو بېلابېلو بڼو راڅرګندیږي: د شعور فساد او د هڅې فساد.

انسان په خپل جوهر کې یو داسې موجود دی چې پوهیږي او عمل کوي؛ نو که شعور وویشتل شي عقل ورک کیږي، او که هڅه وویشتل شي، د ژوند اخلاقي ارزښت له منځه ځي.

الله تعالی فرمایي: ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا﴾ (البقره: ۲۱۹)

او سبحانه فرمایي:

﴿إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ ... رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ﴾ (المائده: ۹۰)

**لومړی: خمر... یو وهمي خوند چې شعور پټوي**

خمر له "خَمر" څخه اخیستل شوی چې د پټولو او پوښلو په مانا دی.

دلته موخه د لوښي پټول نه دي، بلکې د عقل پټول دي.

خمر یو لنډمهالی ذهني خوند ورکوي:

* د سپکوالي او نشې احساس رامنځته کوي.

* له درد او اضطراب څخه د لنډمهالې تېښتې حالت ورکوي.

خو دا خوند یو وهم دی، ځکه دا له عقل څخه په پور اخیستل شوی خوند دی، چې د عقل د شعور د غیاب په بدل کې له هغه څخه اخیستل کیږي.

دلته ظلم ښکاره کیږي:

خمر پر انسان یو لنډ خوند پلوري، خو په بدل کې یې د هغه تر ټولو لویه شتمني چې "شعور" دی، له کاره غورځوي.

دا یوه ناعادله تبادله ده:

*گټه: یوه شبېه نشه.

* بيع: د عقل نشتوالی.

او دا هماغه داخلي ظلم دی چې انسان یې پر خپل ځان کوي.

**دویم: قمار (میسر)... یو وهمي کِسب چې هڅه له کاره غورځوي**

میسر له "یُسر" څخه اخیستل شوی، چې په اسانۍ سره د یو شي ترلاسه کولو ته ویل کیږي.

میسر یوازې قمار نه دی، بلکې هر هغه ګټه ده چې بې له هڅې او زحمته وي.

قمار انسان په چټکې ګټې غولوي، خو پر یوې ظالمانه معادلې ولاړ دی:

* یو څوک بې له کاره ګټه کوي.

* بل څوک بې له ګناه (تېروتنې) تاوان کوي.

دلته مال د انسان له زحمت څخه نه، بلکې د بل انسان له زیان څخه ترلاسه کیږي.

دا کار لاندې شیان ویجاړوي:

* د کار ارزښت.

* د هڅې مانا.

* د وېش عدالت.

په دې توګه قمار یو ټولنیز ظلم ګرځي چې اړیکې او باور له منځه وړي، او ژوند د کار د نظام پر ځای د بخت په یو جنګ بدلوي.

**دریم: ګټې او ګناه... حقیقت او سراب**

الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ﴾، هو:

* خمر یو وهمي ذهني خوند وړاندې کوي.

* قمار یوه وهمي مادي ګټه وړاندې کوي.

خو ویې فرمایل: ﴿وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا﴾

دلته "إثم" (ګناه) یوازې د امر نه منل نه دي، بلکې هغه وهم دی چې انسان له دننه وژني:

* خمر د فرد شعور نړوي.

* قمار د ټولنې عدالت نړوي.

**څلورم: د دواړو ترمنځ د تړاو حکمت**

خمر او قمار دوې جلا ستونزې نه دي، بلکې د یوه کړکېچ دوه مخونه دي.

قرآن لاندې شیان ساتي:

* شعور له بې‌هوښۍ (تخدیر) څخه.

* او هڅه (سعي) له نړېدو څخه.

له همدې امله امر سره ضمیر د مفرد په بڼه راغی: ﴿فَٱجۡتَنِبُوهُ﴾، یانې له دغه "رجس" (ناپـاکۍ) څخه ځان وساتئ، ځکه دا یو حالت دی، نه یوازې یوه ماده یا یو فعل.

**پایله:**

خمر او قمار دواړه پر انسان وهم پلوري:

* په خمر کې د خوښۍ وهم.

* او په قمار کې د شتمنۍ وهم.

خو حقیقت دا دی چې انسان په دواړو کې د خپل ژوند جوهر له لاسه ورکوي:

* خپل شعور.

* او خپله هڅه (سعي).

او دا تر ټولو لویه ګناه ده: له دننه د انسان نړېدل او له بهر څخه د ټولنې نړېدل.

له همدې امله خبرداری ورکړل شو: ﴿لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ﴾

ځکه فلاح (بریالیتوب) پر وهم نه، بلکې پر ویښ شعور او رښتینې هڅې جوړېږي.

(اخځلیک: د ډاکټر وائل کریم "بین الماضي والحاضر"کتاب)

# انسان – ټولنه – دولت

## په سورت النور کې د لمانځه له اقامې څخه د تمدن تر اقامې

سورت النور یوازې د احکامو یوه ټولګه نه ده؛ بلکې د یوې "راشدې ټولنې" د جوړولو پروژه ده. داسې ټولنه چې تراوونه پکې پر غریزې یا څواک نه وي ولاړ، او نه یې اړیکې د غبرګونونو او احساساتو له مخې اداره کیږي، بلکې پر هغو ارزښتونو ولاړې وي چې زړه، مال او نظام کنټرولوي. له همدې امله سورت په یو پرېکنده قول پیل شوی: ﴿سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا﴾ دغه د دې نښه ده کوم څه چې وروسته راځي یوازې وعظ نه دی، بلکې یوه ټولنیزه تشریع ده چې شعور، اړیکې او چلند تنظیموي.

دا سورت د عزت د ساتنې، د کورنیو اړیکو د سمون، د سترګو د ټیټولو (غض البصر)، د کورونو د حرمت ساتلو، او د حیا و عامه چلند قوانین وړاندې کوي، ترڅو خپل اصلي مقصد ته ورسیږي: چې هغه د عفت او مسؤلیت لرونکې ټولنې جوړول دي.

بیا سورت د واکمنۍ (تمکین) وعده وړاندې کوي:

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ ... وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بعد خَوْفِهِمْ أَمْنًا﴾ (النور: ٥٥)

خو خلافت (ځایناستي) وړیا ډالۍ نه ده؛ بلکې دا د یو بشپړ ارزښتي جوړښت پایله ده. له همدې ځایه هغه وروستی ایت راځي چې د امت جوړولو کیلي‌ګانې ټاکي:

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (النور: ٥٦)

دا ایت یوازې تشریفاتي حکمونه نه دي، بلکې یوه تمدني نقشه ده چې لاندې مراحل جوړوي: انسان ← ټولنه ← دولت.

لومړی: د لمانځه اقامه – د انسان جوړول

قرآن ونه ویل: "صلّوا" (لمونځ وکړئ)، بلکې ویې ویل: ﴿أقيموا الصلاة﴾ (لمونځ ودروئ/اقامه کړئ). اقامه د شعور، حضور او استقامت فعل دی. لمونځ یوازې جسدي حرکتونه نه دي، بلکې د داخل د سمون لپاره یو ورځنی تمرین دی:

* د غوښتنو تهذیب.
* د وخت تنظیم.
* د اخلاقي نور شتون.
* د مسؤلیت استحضار.

که داسې نه وای، نو الله تعالی به نه فرمایل: ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾. که لمونځ له بدۍ منع ونه کړي، نو مانا دا چې ظاهري بڼه شته خو شعور غایب دی. د لمانځه اقامه په اصل کې د "داخلي انسان" اقامه ده.

دویم: د زکات ور کړه – د ټولنې جوړول

زکات د مال د یوې برخې ایستل نه دي، بلکې د ثروت دوران او د انحصار مخنیوی دی. ﴿وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ او ویې نه ویل "ادفعوا" (ور یې کړئ)؛ ځکه "دفع" (ورکول) یو ډول جبر دی خو "ایتاء" (ایښودل/وړاندې کول) یو اعتراف او مسؤلیت دی. زکات د لاندې شیانو مخه نیسي:

* د مال طبقاتي کېدل.
* د اړمنو خلکو غلامول.
* پر ټولنو د پانګې (سرمایې) واکمني.

دا د ارزښتونو پر بنسټ د ټولنیز عدالت یو نظام دی، چې ټولنه له وېش او شخړو ساتي.

دریم: د رسول اطاعت – د نظام او دولت جوړول

قرآن ونه ویل: "د محمد اطاعت وکړئ"، بلکې ویې ویل: ﴿وأطيعوا الرسول﴾.

ځکه اطاعت د شخص لپاره نه دی، بلکې د "رسالت" لپاره دی چې یو قانون دی. د رسول اطاعت پدې مانا دی:

* د هغو ارزښتونو اطاعت چې هغه راوړي دي.
* د اخلاقي عقل کارول.
* د یو داسې محکم نظام جوړول چې پر رحم او عدالت ولاړ وي.

* د دین یا واک په نوم له استبداد څخه د ټولنې ساتل.

که رسالت غایب شي، نو یوازې نومونه پاتې کیږي چې پر واک یو له بل سره جنګیږي. پـه دې توګه: که ضمیر فاسد شي، ټولنه نړیږي. او که پر ټولنه ظلم وشي، دولت سقوط کوي.

**پایله**

دا ایت یوازې د فردي عبادت، یا ناڅاپي لګښت، او یا د پټو سـترګو اطاعـت بلنـه نـه ده. دا یـو تمدني انجینري ده چې وایي:

له انسان څخه پیل وکړه ← بیا ټولنه ← بیا دولت.

له ضمیر څخه پیل وکړه ← بیا عدالت ← بیا ارزښتناک قانون.

دا هغه "نور" دی چې امت پرې جوړیږي او د ځمکې ودانۍ (عمران) پرې ولاړه وي.

## په قرآن کې د نفس سطحې: له انفعال څخه تر شعوره

**سریزه**

قرآن کریم نفس ته د یو ثابت جوهر یا په انسان کې د یو ولاړ موجود په سترګه نه ګوري، بلکې هغه د "شعور یو پرمختللی حرکت" بولي چې د ادراک او تزکیې له بېلابېلو پړاوونو تیرېږي. نفس کوم "ماهیت" نه دی، بلکې د شعور یو حالت دی چې الهي ارزښتونو ته د نژدېوالي یا تـرې د لرېـوالي پـه اندازه بدلیږي.

په دې حالتونو کې، درې لویې مرتبې ذکر شوې چې د انسان د وجودي عروج زینه جوړوي: امارة بالسوء – لوامه – مطمئنه.

هـر مرتبـه د نفـس او روح، مـادې او ارزښـت، او غریـزې و ضـمیر تـرمنځ د اړیکـې د کچـې څرګندونه کوي.

**لومړی: امارة بالسوء نفس — د غریزې د انفعال پړاو**

﴿إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي﴾ (یوسف: ۵۳)

دا د شعور لومړنی او بدوي پړاو دی، چېرته چې غریزې د فعل مسیر اداره کوي او هیڅ اخلاقـي کنټرول نلري.

دلته نفس "امر" کوي، یانې د پریکړې سرچینه ده، خو په "بدیو" امر کوي ځکه شیان د خوند یا شخصي ګټې له زاویې تلي، نه د حق او عدالت له مخې.

دا هغه نفس دی چې نړۍ د "زه" (انا) له زاویې ګوري او له رحمت څخـه پـه بېلتـون کـې ژونـد کوي، ځکه د الله رحمت یوازې د ارزښتونو په شعور کې څرګندیږي، نه د ملکیت په شهوت کې.

* تشخیصي نښې:
* د غلطیو لپاره دوامداره توجیهات.
* د واکمنۍ لپاره خودخواهانه سیالي.
* د غوښتنو د پوره کولو لپاره د نورو او چاپېریال غلامول.

* د ګناه د احساس نشتوالی، مګر یوازې د تاوان پر مهال.

* وجودي حالت:

اماره نفس د داخلي تيارې مرکز دی، پر خپل ځان بند وي او په دوامداره اضطراب کې ژوند کوي؛ ځکه يې د کايناتو له ارزښتناک نظام سره يې همغږي له لاسه ورکړې ده.

یوازې الهي رحمت — "إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ" — کولی شي دا له خپل غريزي خوب څخه راويښ کړي، ترڅو د اوښتون سفر پيل کړي.

**دويم: لوامه نفس — د اخلاقي شعور پړاو**

﴿وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ﴾ (القيامة: ۲)

دا هغه نفس دی چې له انفعال څخه پوښتنې ته، او په بديو له امر کولو څخه د ځان کتنې (مراجعې) ته ليږدول شوی دی.

دلته ضمير په ټوپونو پيل کړی، او انسان په خپل دننه کې يو غلی غږ اوري چې ترې پوښتي: ولې دې وکړل؟ او چېرته روان يې؟

لوامه نفس د "انا" او "حق" ترمنځ د مبارزې مرحله ده. دا د تېر او راتلونکي، او د مادې و مانا ترمنځ د جګړې ډګر دی.

له همدې امله پرې قسم ياد شوی، ځکه دا د فکري او روحي ويښتيا نښه ده؛ دا ثبوت دی چې نفس د خپل ځان ليدل پيل کړي دي.

* تشخيصي نښې:

* د فعل او ارزښت ترمنځ د تضاد ادراک.

* د پښېمانۍ او ګناه احساس د داخلي پاکوالي د يو ميکانيزم په توګه.

* د مراجعې او توبې وړتيا.

* د عروج او سقوط ترمنځ دوامداره خوځښت.

* وجودي حالت:

لوامه نفس د اوښتون (تحول) سيمه ده؛ دلته انسان د يو اخلاقي موجود په توګه بڼه اخلي. دلته ملامتيا عذاب نه دی، بلکې يو داخلي رحمت دی چې د ضمير پر ژوند دلالت کوي. څوک چې له دې ملامتيا وتښتي، د خپل دننه وروستی رڼا هم وژني او بيا د اماره نفس تيارو ته لويږي.

## دریم: مطمئنه نفس — د وجودي توحید پړاو

﴿يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً﴾ (الفجر: ۲۷–۲۸)

دا هغه نفس دی چې پر خپلو تضادونو تر بریا وروسته کایناتي توازن ته رسیدلی دی.

نور د خوند او پښېمانۍ ترمنځ نه اوړي، بلکې په شعور کې یې خپله سکینه موندلې ده. دلته ډاډ (اطمینان) بدني سکون نه دی، بلکې له حق سره یو وجودي انسجام دی، تر دې چې حق پکې په یو طبیعي صفت بدل شوی، نه په تکلیف.

مطمئنه نفس نه امر کوي او نه ملامتیا، ځکه دا د ویښ کنټرول درجې ته رسیدلی او پخپله په هغه رحمت بدل شوی چې په لټه کې یې و.

* تشخیصي نښې:
* داخلي سوله چې حالات یې نشي لړزولی.
* د فکر، عاطفې او ارادې ترمنځ توازن.
*کایناتو ته یو موحدانه نظر؛ د دین او دنیا، یا مادې او روح ترمنځ ثنویت نشته.
* بې له تسلیمۍ، د تقدیر ژور منل.
* وجودي حالت:

مطمئنه نفس په تر ټولو پاکه بڼه د روح څرګندیدل دي؛ نور له الله څخه څه نه غواړي ځکه د هغه په حضور کې دی.

"ارجعي إلى ربك" د مرګ په مانا نه ده، بلکې لوړ شعور او د رحمت قانون ته د بیرته ستنیدو په مانا ده.

## د مرتبو ترمنځ د لیږد وجودي اړخ

له اماره څخه مطمئنه نفس ته لیږدول یو زماني سفر نه دی، بلکې د شعور سفر دی. په هر انسان کې دا درې واړه طبقې څنګ په څنګ شتون لري؛ یو له بل سره جنګیږي او په پریکړو کې یو په بل پسې راځي.

هر هغه شېبه چې انسان یو کار کوي، د نفس تله پکې څرګندیږي:

ایا غوښتنې یې امر کوي؟ ایا ضمیر یې ملامتوي؟ او که شعور یې ډاډمنوي؟

اماره نفس "سوری" (ظل) دی، لوامه نفس "هنداره" ده، او مطمئنه نفس "رڼا" ده. سوری د خوند په لټه کې دی، هنداره د حقیقت په لټه کې ده، او رڼا مانا موندلې ده.

**پایله**

په قرآن کې نفس د شعور یوه دوامداره پروژه ده، نه یو وروستی حالت.

دا په "اماره" پیل کیږي، په "لوامه" پخیږي، او په "مطمئنه" بشپړیږي، خو تر هغه وخته چې انسان د ازمویني په ډګر کې وي، بیرته ستنیدو او کوزیدو ته چمتو وي. موخه "کمال" ته رسیدل نه دي، بلکې د داخل او خارج، ارادې او ضمیر، او د انسان و رب ترمنځ د توازن موندل دي.

مطمئنه نفس د لارې پای نه دی، بلکې پر الله د شعور پیل دی. ډاډ له جګړې وروسته سکون نه دی، بلکې د کایناتي رحمت له قانون سره یو غړیز تعامل دی. چا چې خپل ځان د دې مرتبو په هینداروکې وپیژانده، خپلې رڼا ته یې لاره موندله.

(اخځلیک: د ډاکټر وائل کریم "بین الماضي والحاضر"کتاب)

## له "الذين آمنوا" څخه تر "المؤمنين" پورې

### له فعل څخه تر مقامه

**سریزه:**

په قرآن کریم کې لغوي مترادفات (هم‌مانا ټکي) شتون نه لري، بلکې هر لفظ په خپل سیاق کې داسې په دقت کارول شوی چې د انساني شعور یوه مرحله او د هغه د روحي او عقلي پرمختګ لاره منعکسوي.

د دغو دلالتي توپیرونو له ډلې تر ټولو ژور یې د "الذین آمنوا" او "المؤمنین" ترمنځ دی؛ دا یوازې دوه لغوي درجې نه دي، بلکې د ایماني وجود دوه پړاوونه دي:

لومړی یې د تړاو او ترلاسه کولو (تلقي) پړاو دی، او دویم یې د تحقق و تجلی پړاو دی.

**لومړی: الذین آمنوا — ایمان د یوې استجابې او تړاو په توګه**

د "الذین آمنوا" عبارت په قرآن کې د یوې داسې ډلې په خطاب کې تکرار شوی چې ایمان ته نوتلې، یا یې ورسره خپل تړاو اعلان کړی او یا ورته په میراث پاتې دی، خو لا هم د نفسي او عملي جوړښت په حال کې دي.

دا یوه وصفي (Passive) صیغه ده چې له کفر څخه ایمان ته، او له رد څخه قبلولو ته لیږد ښیي، پرته له دې چې د ثبات او فاعلیت مرحلې ته رسیدلي وي.

الله تعالی فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ (النساء: ۱۳۶)

دلته لومړی ایمان یو ظاهري تړاو یا یوازې په ژبه اقرار و، خو دویم غوښتل شوی ایمان د زړه او فعل تحقق دی. ګواکې خطاب ورته وایي: تاسو په شعار ایمان راوړی، اوس په جوهر ایمان راوړئ.

همدارنګه فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ (التوبة: ۱۱۹)

نو "الذين آمنوا" لا د صدق (رښتینولی) مقام ته نه دي رسیدلي، ځکه خو د تقوی او عمل له لارې په ایمان کې لوړتیا ته بلل کیږي.

له همدې امله، "الذين آمنوا" هغه کسان دي چې ایماني فکر ته یې لبیک ویلی او د هغه لومړني میثاق ته داخل شوي، خو لا هم د هغه د عملي انځور په لټه کې دي. دوی د حقیقت غوښتونکي دي، نه د حقیقت لرونکي.

**دویم: المؤمنون — ایمان د تحقق او فاعلیت په توګه**

خو "المؤمنون" بیا یوه فعاله (Active) صیغه ده چې په وجدان او چلند دواړو کې د ایمان پر تحقق دلالت کوي. دا یوازې د تصدیق توصیف نه دی، بلکې یو داسې چلند دی چې له دننني یقین څخه سرچینه اخلي.

الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ ، وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا، وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ، الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ (الأنفال: ۲-۳)

په دې قرآني صحنه کې، ایمان له یوې عقیدې څخه په یو ژوندي حالت بدلیږي چې په وجداني تعامل، صالح عمل او ښښنه کې څرګندیږي. "مؤمن" یوازې په کلمه ایمان نه راوړي، بلکې په هغه "امان" (امنیت) ایمان راوړي چې چاپیریال ته یې ښښي. د هغه لپاره ایمان یو نظر نه، بلکې د ژوند قانون دی.

**دریم: له فعل څخه تر مقام پورې**

له لغوي اړخه، "مؤمن" له "آمن" یا "أمن" څخه اسم فاعل دی، خو قرآن له دې نحوي مانا څخه یوې ژورې وجودي مانا ته تیریږي:

"مؤمن" یوازې هغه نه دی چې تصدیق یې کړی، بلکې هغه دی چې په خپل ځان او چاپیریال کې یې "امان" (امنیت) رامنځته کړی، ځکه ایمان په خپل جوهر کې له "امن" څخه دی.

﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾ (الأنعام: ۸۲)

دلته د ایمان او امن ترمنځ یو عضوي تړاو دی: څومره چې ایمان څرګندیږي، هومره امن زیږي.

له همدې امله د الله تعالی له نومونو څخه یو "المؤمن" دی، یانې هغه چې امان ښښونکی دی، نه یوازې دا چې "تصدیق" کوونکی دی.

﴿الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ﴾ (الحشر: ۲۳)

الله ځکه "المؤمن" دی چې خپل مخلوق ته ډاډ او امن ورکوي، نو په انسان کې "مؤمن" هغه دی چې دا الهي صفت په خپل واقعیت کې منعکس کړي او په وجود کې د الهي امان یوه هینداره شي.

**څلورم: وجودي تحلیل — له تړاو څخه تر تجلا پورې**

په وجودي کچه، ایمان د یوې شېبې فعل نه دی، بلکې د دوام او ثبات یو حالت دی.

"الذین آمنوا" یو ځل یا د ژوند په یو پړاو کې فعل ترسره کړی، خو د "المؤمنون" لپاره ایمان د هغوی د وجود جوهر ګرځېدلی دی — لکه په اور کې چې رڼا وي، ترې جلا کیدونکې نه ده.

په دې مانا، "مؤمن" یوازې یو نحوي اسم فاعل نه دی، بلکې د یو "کایناتي مقام" نوم دی. دا هغه څوک دی چې ایمان یکې داسې میشت شوی چې د هغه په طبعیت بدل شوی، نه یوازې په انتخاب. هغه نور یوازې ایمان نه راوړي، بلکې هغه پخپله په یو انسان کې مجسم شوی ایمان دی.

له "الذین آمنوا" څخه تر "المؤمنون" پورې لیرد داسې دی لکه له تخم څخه چې ونه جوړه شي: لومړی په ځمکه پورې تړلی وي، خو دویمه په اسمان کې میوه ورکوي.

**پنځم: ایمان د کایناتي امنیت د یوه نظام په توګه**

په قرآن کې ایمان یوازې د انسان او د هغه د رب ترمنځ اړیکه نه ده، بلکې یو کایناتي ارزښتناک نظم دی چې د وجود توازن بیرته راولي. لکه څنګه چې الله "المؤمن" دی او خپل مخلوق ته امن ورکوي، همداسې مؤمن انسان هم شاوخوا نړۍ ته امان ببښي.

له همدې ځایه موږ پوهیږو چې ایمان یوازې د عقیدې تصدیق نه دی، بلکې په کایناتو کې د رحم، عدالت او ربښتینولۍ د ارزښتونو فعالول دي. مؤمن یوازې په دې بسنه نه کوي چې الله وپیژني، بلکې د هغه صفات په خپلو ورځنیو کارونو کې مجسم کوي. هغه څوک دی چې شاوخوا ته د ډاډ فضا رامنځته کوي، ځکه هغه له حق او خپل ځان سره په سوله کې ژوند کوي.

**پایله:**

قرآن دواړه لفظونه "الذین آمنوا" او "المؤمنون" په یوه مانا نه کاروي، بلکې په وجودي سفر کې د انسان لپاره یو تکمیلي مسیر رسموي:

له ایماني تړاو څخه ← په هغه کې تر تحققه ← او په صفت کې یې تر تجلا پورې.

"الذين آمنوا" هغه دي چې د شعور دروازه يې پرانيسته، او "المؤمنون" هغه دي چې شعور پکې ميشت شو، خو كامل مؤمن هغه دى چې ايمان يې جوهر او داخلي سوله وگرځيد، تر دې چې پر شاوخوا خلكو د الله د "المؤمن" نوم اغيز منعكس كړي.

په دې توگه په قرآن كې ايمان د شعور يوه نوې كيدونكې پروژه ده، نه يو جامد رواج يا موروثي شعار؛ بلكې د رڼا لور ته يو دايمي حركت، له قول څخه فعل ته، او له فعل څخه تر "كيدو" (كينونت) پورې يو دوامداره اوښتون دى.

(اخځليك: د ډاكټر وائل كريم "بين الماضي والحاضر" كتاب)

## د لمانځه دویم ډول؛ چې هغه "الصلوة الوسطی" دی

﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ * فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ﴾ (البقره: ۲۳۸-۲۳۹)

دا مبارك ایتونه د هغو ایتونو په منځ کې راغلي دي چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ د شخړو په اړه بحث کوي؛ تر دې وړاندې د طلاق خبره وه: "وإن طلقتموهن من قبل ان تمسوهن..." او وروسته هم فرمايي: "**والذين يتوفون منكم ويذرون أزواجا وصية لأزواجهم**".

له همدې ځایه، د دې ایت مفهوم باید د "نزول له سیاق" سره سمون ولري. دا عقلاني نه ده چې دا ایت دې یو "اعتراضي" (بې تړاوه) ایت وي چې د لمونځونو د ادا کولو په اړه بحث کوي (لکه څنګه چې مفسرینو ویلي)، بلکې دا باید د طلاق، جلاوالي او د هغه له آدابو و احکامو سره مستقیمه اړیکه ولري.

الله تعالی په تېر ایت کې د طلاق په اړه فرمايي: "ولا تنسوا الفضل بينكم" (خپل منځي احسان او فضیلت مه هېروئ). له همدې امله په بل ایت کې پسې فرمايي چې پر "صلواتو" محافظت وکړئ، یانې له هغو کسانو څخه چې جلا شوي يئ، په هر حال "صله" (اړیکه) او متقابل احترام ټینګ وساتئ، ترڅو ماشومان د مور او پلار ترمنځ د شخړو قرباني نشي او له هغو روانې ستونزو وژغورل شي چې نن سبا یې زموږ لونې او زامن د طلاق له امله ګالي. دلته "الصلاة الوسطی" د "حکیمانه صلې او اړیکې" مانا ورکوي، لکه څنګه چې سبحانه فرمايي: ﴿قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ﴾ (القلم: ۲۸).

دلته "وسطیت" له مقابل لوري سره په معامله کې د حکمت او اعتدال مانا لري. یا لکه څنګه چې بل ځای فرمايي: ﴿فكفارته إطعام عشرة مساكين من أوسط ما تطعمون أهليكم﴾؛ دلته هم "اوسط" د هغه غوره خوراك مانا ورکوي چې تاسو یې لرئ. نو وسطیت د "غوره والي" (الأفضلية) مانا افاده کوي. له همدې امله الله تعالی موږ ته امر کوي چې له مقابل لوري سره "غوره اړیکه" (الصلة

الأفضل) وساتئ، هغه اړيکه چې د شخړو د هوارولو حکمت پکې وي. ﴿وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾، يانې دا اړيکه بايد پر هغو ارزښتونو بنا وي چې الله ورته امر کړی؛ "قانتين" يانې د هغه د اوامرو او نواهيو منونکي.

کله ناکله ځيني خلك وايي: "زه له مقابل لوري سره ځکه دا ډول (ښه) معامله نه کوم چې ويرېږم هغه به ترې ناوړه ګټه پورته کړي او احترام به يې ونه کړي." ځکه خو په بل ايت کې پسې راغلل: ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ﴾.

دلته موږ ګورو چې په داسې حالت کې پرېکړه بايد له يوې خوا پر "اعتماد" ولاړه وي چې هغه د "رجالاً" مفهوم دی (يانې د اعتماد پر بنسټ ارتجال/سمدستي اقدام، چې دا د رجوليت مفهوم دی)، او يا هم د "ركباناً" پر بنسټ چې مانا يې "سوابق او لومړي فعاليتونه" دي؛ يانې له مقابل لوري سره د پخوانيو تجربو له مخې چلند کول. دلته د "الصلاة الوسطی" اهميت ښکاري چې موږ پکې د مقابل لوري د تېرو کړنو او اعتماد په پام کې نيولو سره له "حکمت او غوره والي" څخه کار اخلو.

خو "فإذا أمنتم فاذكروا الله كما علمكم"؛ "ذکر" د يو شي او د هغه د احکامو ساتلو ته ويل کيږي، لکه: "اذكروا نعمتي التي أنعمت عليكم". دلته مطلب دا دی چې کله مو له مقابل لوري څخه "امن" (امانتداري او ډاډ) وموند، نو بيا بله لاره نه پاتې کيږي مګر دا چې د الله تعالی د هغو لارښوونو ساتنه وکړو چې موږ ته يې په خپل کتاب کې ښودلي دي.

**د موضوع خلاصه:**

الله سبحانه وتعالی موږ ته وصيت کوي چې د ازدواجي شخړو پر مهال له مقابل لوري سره تر ټولو حکيمانه او غوره معامله وکړو؛ ځکه دا د يوې روغې کورنۍ ټولنې په جوړولو او د ماشومانو د روزنې لپاره د غوره فضا په برابرولو کې خورا لوی اهميت لري. دا زموږ د تېرې مقالې سره همغږې ده چې د طلاق د پروسې لپاره بايد يو سالم نظام جوړ شي، چې خواوې پکې د يو بل ترمنځ د غوره اړيکې پر ساتلو او د يو بل د فضيلت پر نه هېرولو مکلفې وي. دا "الصلوة الوسطی" ده، چې د لمانځه دويم ډول دی او پر لومړي ډول (فطري صلوة) عطف کيږي.

ماخذ: کتاب: بين الماضي والحاضر، الفهم التشخيصي والمجرد للقرآن الكريم، ثبات النصّ وتجدد المعنى – ډاکټر وائل کريّم.

"لا وصية لوارث" (وارث ته وصیت نشته) که "لا وصية بيد وارث" (د وارث په لاس وصیت نشته)؟

## د لېږد پر میکانیزم او د قرآني نص رښتینولۍ ته یوه تنقیدي کتنه

### سریزه

یو له هغو احادیثو څخه چې د قرآني نص د محدودولو او د الهي تشریع د بنې بدلولو لپاره تر ټولو زیات کارول شوی، دا قول دی:

«إن الله قد أعطى كلَّ ذي حقٍّ حقَّه، فلا وصيّةَ لوارث».

سره له دې چې دا حدیث په فقهي کتابونو کې خورا مشهور دی، خو که څوک یې لغوي جوړښت، تاریخي سیاق او تشریعي اغیزو ته ځیر شي، نو ورته څرګندیږي چې په لېږد یا صیاغت کې یې یو ډول نیمګړتیا شتون لري؛ بلکې دا په خپل جوهر کې د هغه الهي عدالت له اصل سره ټکر لري چې قرآن په یوه وخت کې د وصیت او میراث په ایتونو کې ټاکلی دی.

په دې کره کتنه کې موږ هڅه کوو دا نص د تشخیصي میتود له مخې وشنو، ترڅو د بشپړې وحې او د انسان هغه لېږد (نقل) ترمنځ توپیر وکړو چې د تحریف احتمال پکې وي.

### لومړی: د نسخې ردول او د نصوصو ترمنځ د اړیکې بیافهمي

دا خبره چې د وصیت ایت د میراث په ایتونو منسوخ شوی دی، د قرآني نظام له یووالي سره سمون نه خوري؛ ځکه نسخ (په عامه مانا) په هغه کتاب کې د داخلي تضاد فرضیه قوي کوي چې الله یې په اړه فرمایلي:

﴿لا يأتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه﴾ (فصلت ۴۲).

نو دا ایت:

﴿كُتب عليكم إذا حضر أحدكم الموت إن ترك خيرًا الوصية للوالدين والأقربين بالمعروف﴾.

(البقرة ۱۸۰)،

نه لغوه شوی او نه بدل شوی، بلکې دا تر مړينې وړاندې د انسان د اخلاقي مسؤليت ځرګندونه کوي، په داسې حال کې چې د ميراث ايتونه وروسته راغلل ترڅو تر مړينې وروسته قانوني حقونه وټاکي.

نو دا د عدالت دوه بېلابېلې کچې دي:

* وصيت = وجداني او اختياري عدالت.

* ميراث = قانوني او الزامي عدالت.

د دواړو ترمنځ هيڅ ټکر نشته، مګر د هغه چا په ذهن کې چې حديث يې پر قرآن حاکم ګرځولی وي، نه د قرآن خدمتګار.

**دويم: د ادعا شوي نبوي نص تحليل**

د دغه حديث صياغت چې موږ ته رارسېدلی: «أعطى الله كل ذي حق حقه، فلا وصية لوارث»، د اصيل نبوي اسلوب پر ځای د وروسته پاتې فقهي منطق رنګ لري.

نبوي حديث معمولاً په مستقيم، ساده او جوړښتي اسلوب راځي: امر، نهې يا تشخيصي-انځورګري وي؛ نه داسې منطقي تعليل چې له سريزې او پايلې څخه جوړ وي. له همدې ځايه دا ګمان پياوړی کيږي چې اصلي نص بېل و، راويانو د شفاهي او ليکلي لېږد په لومړنيو پړاوونو کې دا عبارت لنډ کړی يا يې له سره رغولی دی.

**دريم: تر ټولو نږدې مانا – "لا وصيّة على يد وارث" (د وارث په لاس وصيت نشته)**

تر ټولو نږدې تشخيصي لوستنه دا ده چې دا حديث په اصل کې تنظيمي و نه تشريعي، او مقصد ترې دا و:

د وصيت باطلېدل کله چې هغه يو وارث ليکلی وي يا پرې شاهد وي.

ځکه چې دا کار د شخصي ګټې شبهه يا پر وصيت کوونکي باندې د تاثير شک پيدا کوي.

دا تفسير له لاندې شيانو سره همغږی دی:

* هغه قرآني منطق چې په هر حال کې وصيت مني.

* هغه عصري قوانين چې وصيت باطلوي که چيرې ګټه اخيستونکی (وارث) پکې برخه ولري.

* دا قرآني اخلاقي قاعده: ﴿**ومن يخن فإنما يخون نفسه**﴾.

نو اصلي نص –که شتون ولري –یو قانوني او مخنیوونکی (وقایي) نص و، نه تحریمي او تشریعي. خو کله چې نقل یا لنډ شو، نو داسې ترې وفهمول شول چې ګواکې وارث ته د وصیت تشریعي لغوه کول دي، او په دې سره د قرآني عدل مخ پټ شو.

**څلورم: د قرآن همغږي او د نقل نیمګړتیا**

قرآن وصیت یو ځل نه دی ذکر کړی، بلکې د میراث په هماغه سیاق کې یې درې ځله تکرار کړی دی:

﴿من بعد وصية يوصي بهآ أو دين﴾ (النساء ۱۱، ۱۲، ۱۷۶).

که وصیت باطل یا منسوخ وای، نو الله به په هغه نص کې چې میراث یې په دقت سره تفصیل کاوه، بیا نه ذکر کاوه. دا تکرار یو غوښ دلیل دی چې وصیت د تشریعي منظومې برخه پاتې شوې ده، نه یو استثنا. له همدې ځایه موږ پوهیږو چې نقل شوی حدیث په خپل اوسني بڼه د قرآن شرحه نه کوي، بلکې هغه له کاره غورځوي (تعطیلوي).

**پنځم: د وصیت وجودي لوستنه**

وصیت په خپل جوهر کې یوازې د مال د وېش مادي اجراءات نه دي، بلکې د انساني شعور یو حالت دی، چې پکې انسان تر خپلې مړینې وروسته هم په خپل ضمیر او عدالت سره غزیږي. دا د غیب نړۍ ته تر ننوتلو وړاندې د ازاد انسان "وروستی قول" دی، ځکه خو قرآن هغه له "معروف" (عدل او انصاف) سره تړلی دی. نو وارث ته د وصیت مطلق تحریم له دغه اصل سره په ټکر کې دی او الهي عدل په یوه داسې جامده معادله بدلوي چې نه پکې رحم شته او نه انعطاف.

**شپږم: الهي نص او انساني حدیث**

حدیث –که څه هم په نېک نیت نقل شوی وي –بیا هم د انساني "ظن" (ګمان) په چوکاټ کې پاتې کیږي چې په نقل، فهم یا مقصد کې د خطا احتمال لري. خو قرآن یو "قطعي" نص دی چې باطل ورته نشي نژدې کیدی. د قطعي او ظني ترمنځ مساوات نشته، بلکې څرګنده درجه بندي شتون لري:

حدیث پر قرآن وړاندې کیږي، که ورسره برابر یې و منو، یا مخالف او رد یې کړو.

دلته موږ وینو چې قرآن د وصیت امر کوي، خو حدیث –په خپله مشهوره بڼه –ترې منع کوي؛ نو اصل دا دی چې محفوظ وحی پر منقول روایت مقدمه شي.

**پایله**

الهي عدالت په یوه منقول حدیث نه لغوه کیږي او نه په فقهي اجتهاد کې لنډیږي. بلکې د قرآني تشریع جوهر پر اخلاقي مسؤلیت او تلپاتې عدالت ولاړ دی. له همدې امله د «لا وصیة لوارث» حدیث تشخیصي لوستنه مور دې حقیقت ته رسوي:

دا حدیث د وصیت نفي نه ده، بلکې د وصیت د صحت نفي ده کله چې د وارث په لاس یا د هغه په شاهدئ ترسره شي.

په دې سره د قرآن او سنتو ترمنځ تعارض له منځه ځي، او وصیت خپله انساني مانا د شعور او عدل د یو فعل په توګه بیرته ترلاسه کوي.

(اخځلیک: د ډاکتر وائل کریم "بین الماضي والحاضر"کتاب)

## د کايناتي لوبې د قانون او د انساني شعور د حرکت ترمنځ

### سريزه

مشيت او اراده له هغو مفاهيمو څخه دي چې د پېړيو په اوږدو کې په ديني فکر کې تر ټولو زيات ګډوډ شوي دي؛ ځکه ورسره داسې چلند شوی لکه دا چې د هغه "جبري عقيدې" دوه مخونه وي کومه چې له انسان څخه د هغه مسؤليت اخلي.

خو په قرآني نص کې تدبر دا ښيي چې دا دواړه په حقيقت کې د انسان د ازادۍ او د الله د عدل پايې/ستنې دي. مشيت کوم قهرجن غيبي امر نه، بلکې د وجود قانون دی؛ او اراده پر الله باندې بغاوت نه، بلکې د هغه په نظام کې دننه يو شعوري حرکت دی.

### لومړی: مشيت — د کايناتي لوبې قانون

په قرآن کې مشيت د الله له خوا يو "موقتي انتخاب" نه دی، بلکې هغه اندازه شوی نظام دی چې کاينات پرې پيدا شوي دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾ (القمر: ۴۹)

نو الله داسې غوښتي چې دا کاينات پر ثابتو سننو ولاړ وي؛ يانې پر هغو فزيکي، اخلاقي او روحي قوانينو چې د مادې او شعور حرکت په ګډه اداره کوي.

دا هغه څه دي چې موږ يې "د کايناتي لوبې قوانين" بللی شو؛ انسان دې لوبې ته ازاد ننوځي، خو د لوبې د قواعدو د بدلولو واک نه لري.

څوک چې د ځمکې د جاذبې په نظام کې ژوند کوي، نشي کولی هغه ودروي، خو کولی شي ترې ګټه پورته کړي او يا ورسره وجنګيږي. همداسې څوک چې د الهي عدالت په نظام کې ژوند کوي — که د خير د سننو پيروي وکړي، لوړيږي او که ترې سرغړونه وکړي، رالويږي. په دې توګه

مشیت د یو داسې هراړخیز قانون په توګه کار کوي چې پایلې د عملونو په رڼا کې ټاکي، پرته له دې چې په هره شېبه کې اجباري مداخله وکړي؛ ځکه نظام پخپله ولاړ دی.

**دویم: اراده — په نظام کې دننه د شعور حرکت**

اراده د مشیت په نظام کې دننه د لوري د ټاکلو لپاره د شعور ځواک دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ﴾ (الکهف: ۲۹)

نو انسان پر ایمان یا کفر نه دی مجبور شوی، خو هغه د داسې مشخصو قوانینو په چوکاټ کې کار کوي چې د هغه د فعل پایله خامخا ټاکي. دلته اراده د پرېکړې کولو وړتیا ده، او مشیت هغه نظام دی چې د پرېکړې پایله ټاکي.

کله چې انسان یو فعل ترسره کوي، هغه د وجود له قوانینو څخه یو قانون خوځوي؛ کټ مټ لکه یو څوک چې د اوبو په سطحه کاڼی وولي او پرله پسې کړۍ جوړې کړي. دا قوانین په اتوماتیک ډول کار کوي، د مؤمن او کافر ترمنځ توپیر نه کوي، بلکې د هغه فعل ترمنځ توپیر کوي چې له سننو سره سم وي او د هغه فعل ترمنځ چې ورسره په ټکر کې وي.

**دریم: د مشیت او ارادې ترمنځ تعامل**

د مشیت او ارادې ترمنځ اړیکه په دې ساده وجودي معادله کې ښودلی شو:

* مشیت = نظام
* اراده = په هغه کې دننه حرکت
* پایله = د لوري/جهت تابع یو قانوني او حتمي اثر

نو مشیت چوکاټ جوړوي، اراده لوری ټاکي او کایناتي قانون پایله مشخصوي. له همدې ځایه موږ د الله تعالی پر دې قول پوهیږو چې فرمايي:

﴿وَمَا تَشَاؤُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ﴾ (الإنسان: ۳۰)

یانې د انسان مشیت د لوی مشیت (قانون) په دننه کې کار کوي، نه له هغه بهر؛ دا په نظام کې دننه ازادي ده، نه له نظام څخه بهر ګډوډي. الله داسې غوښتي چې انسان دې ازاد وي، او له همدې الهي مشیت څخه د انسان اراده زیږیدلې ده. نو دا پر الله بغاوت نه دی، بلکې د شعوري موجود په پیدایښت کې د هغه د سنتو ثمره ده.

**څلورم: حتمي پایله — د طبیعي جزا قانون**

له دې امله چې مشیت یو نظام دی، نو د عملونو پایلې حتمي دي؛ نه دا چې دغه غیبي پرېکړه ده، بلکې په دې چې دغه له سننو سره د همغږۍ یا ټکر طبیعي ثمره ده.

الله تعالی فرمایي:

﴿مَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرًا يَرَهُۥ * وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ﴾ (الزلزلة: ۷–۸)

نو څوک چې خیر کړي، خیر ربېي، او څوک چې شر کړي، درد ترلاسه کوي. پدې نه چې الله ورته په هره پلا مستقیمه سزا ورکوي، بلکې ځکه چې د وجود نظام پخپله د "انعکاس" پر قانون ولاړ دی. لکه اور چې د هوښیار انسان لپاره ګرمي ښيي او د بې پروا انسان بدن سوځوي؛ همداسې اخلاقي او روحي قوانین هم تل او بې له شخصي تمایله کار کوي، ځکه الله په خپلو سننو کې عادل دی.

**پنځم: د ازادۍ او تقدیر ترمنځ بشپړتیا**

په دې فهم سره، تقدیر نور د ازادۍ ضد نه پاتې کیږي، بلکې د هغه یو چوکاټ ګرځي چې ازادۍ ته مانا ورکوي. که ثابت قانون نه وای، نو ازادۍ به ارزښت نه درلود او که ازادي نه وای، نو قانون به اخلاقي مانا نه لرله.

تقدیر یو سیند دی او ازادي پکې د لامبو وهلو طریقه ده.

الله د سیند لورۍ ټاکلې (مشیت)، انسان ته یې د لامبو وهلو ازادي ورکړې (اراده) او پایله — چې د هغه ژغورل کیدل دي که ډوبیدل — پخپله د اوبو قوانین ټاکي.

**شپږم: د دغه مفهوم ارزښتناک اړخ**

کله چې انسان په دې معادله پوه شي، نو "شعور" یې تر ټولو لوی مسؤلیت ګرځي:

۱. ایمان نور تسلیمېدل نه، بلکې له کایناتي نظام سره همغږي کېدل دي.

۲. کفر نور پر یوې واکمنۍ بغاوت نه، بلکې د اخلاقو له طبیعي قانون سره ټکر دی.

۳. عذاب نور د غضب په مانا نه، بلکې د الهي قوانینو د ماتولو د یوې حتمي پایلې په مانا فهمول کیږي.

نو مشیت د کایناتي عدل نظام دی او اراده د انساني انتخاب تله ده. هر هغه څوک چې په خپل فعل کې له مشیت سره همغږی شو، په "صراط مستقیم" کې ژوند کوي او چا چې ورسره مخالفت وکړ، هغه په "ضلال مبین" کې دی — یانې د کایناتي او اخلاقي توازن له کرښې بهر دی.

**پایله**

د قرآن په رڼا کې مشیت او اراده دوه فلسفي معماوې نه دي، بلکې یوه وجودي منظومه ده چې په یو وخت کې د ازادۍ او جزا راز بیانوي. مشیئت د "لوبې قوانین" دي، اراده د "لوبغاړي حرکت" دی، او تقدیر هغه "منطقي پایله" ده چې قانون یې بې له هره ډول بې پلویتوبه تولیدوي.

په دې فهم سره، انسان د خپل برخلیک په جوړولو کې شریک ګرځي، پر الله ایمان راوړل د حق او عدل له نظام سره یو پوهنیز اتحاد ګرځي، نه یوازې د یوې نامعلومې ارادې په وړاندې شکلي غاړه ایښودل.

(اخځلیک: د ډاکټر وائل کریم "بین الماضي والحاضر"کتاب)

# د قرآن کریم له مخې د الله او الحاد ماهیت

## د مطلق وجود او ارزښتي جلاوالي ترمنځ

### سریزه

د شعور له پیله، د خدای په اړه پوښتنه د انساني فکر جوهر پاتې شوې ده؛ ځکه انساني عقل تل هڅه کړې چې د "خالق ماهیت" درک کړي او په وجود کې د هغه ځای وټاکي. خو قرآن کریم الله تعالی د یو داسې فلسفي مفهوم په توګه نه وړاندې کوي چې تعریف دې شي، بلکې د یو داسې وجودي او ارزښتي حقیقت په توګه یې معرفي کوي چې د خپلو اغېزو او سننو (قوانینو) له لارې درک کېږي او د یو داسې شعور په څېر دی چې د کایناتو په هره ذره کې روان دی. په قرآن کې الله داسې یوه نظریه نه ده چې بحث پرې وشي، بلکې یو داسې قانون دی چې د حضور او اتصال له لارې درک کېږي. له همدې ځایه څرګندېږي چې په قرآني لیدلوري کې پر الله ایمان درلودل یوازې په ژبه د کلمې ویل یا عقلي اعتراف نه دی، بلکې د هغه په قوانینو کې ګډون، د هغه ارزښتونو ته ژمنتیا او د وجود د حق له نظام سره د شعور یو ځای کول دي. په مقابل کې، الحاد د هغه د نوم انکار نه، بلکې د هغه له ارزښتي قوانینو او د عدل له سننو څخه جلاوالی دی. په دې مانا، ایمان او الحاد د یو واحد شعوري حالت دوه متقابل مخونه دي: له الهي نظام سره پیوستون یا له هغه څخه پرېکون.

### لومړی: الله په قرآن کې- هغه مطلق وجود چې محدودېدلی نشي

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ﴾ (الشوری ۱۱) - "هیڅ شی د هغه په څېر نشته."

﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا﴾ (طه ۱۱۰) - "دوی پر هغه علمي احاطه نشي کولی."

قرآن الله له هر ډول حد او ورته والي پاک ګڼي؛ ځکه ماهیت د محدودیت په مانا دی او الله د هر محدودیت پیلونکی دی، نه د هغه تر اغېز لاندې. هغه د نورو شیانو په څېر یو "شی" نه دی، بلکې هغه وجود دی چې شیان یې له امله شتون لري. کله چې موږ وایو "الله شته"، موږ هغه د نورو موجوداتو په لیست کې نه ورګډوو، بلکې اقرار کوو چې دی هغه اصل دی چې وجود ته مانا ورکوي. هغه "قیوم" دی چې ټول کائنات پرې ولاړ دي.

**دویم: الله د وجود د قانون او سنت په توګه**

﴿اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ﴾ (الزمر ٦٢) - "الله د هر شي پیدا کوونکی دی."

﴿سُنَّةَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ﴾ (الأحزاب ٦٢) - "دا د الله هغه طریقه ده چې له پخوا راهیسې روانه ده."

الله په قرآن کې د یو عادلانه کائناتي نظام په بڼه راڅرګندېږي چې پر وجود او انسان واکمن دی. هغه د طبیعت د قوانینو په ماتولو سره نه، بلکې د هغه له دننه د خپلو ثابتو سننو له لارې کار کوي. هر څه د یو دقیق قانون تابع دي چې د الله عدل او حکمت منعکس کوي. نو د الله معرفت په ماورایي خیالاتو کې نه، بلکې په آفاقو او نفسونو کې د هغه د سننو په پوهیدو کې دی: ﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ﴾.

**دریم: الله د شعور نور او کائناتي رحمت په توګه**

﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ (النور ٣٥)

نور په قرآن کې فزیکي رڼا نه ده، بلکې د شعور، پوهې او ارزښت سمبول دی. الله د درک پیل او د مانا سرچینه ده، چې د هغه له امله د شیانو حقیقت څرګندېږي. همدارنګه "الرحمن علی العرش استوی" مانا دا چې رحمت د کایناتو د واکمنۍ قانون دی؛ یانې کاینات د عبث او بېهودګۍ پر ځای د رحمت پر بنسټ اداره کېږي. هر نظام پکې — له جاذبې نیولې تر ارزښتونو پورې — پر تعادل او احسان ولاړ دی.

**څلورم: د انسان په شعور کې د الله وجودي حضور**

﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ﴾ (الحدید ٤)

﴿إِنِّي قَرِيبٌ﴾ (البقرة ١٨٦)

په قرآن کې الهي نژدېوالی مکاني نژدېوالی نه دی، بلکې ارزښتي حضور او شعور دی. الله له انسان سره "مل" وي کله چې انسان د هغه د ارزښتونو او سننو په رڼا کې حرکت کوي او له هغه لرې کېږي کله چې انسان له دغو ارزښتونو جلا شي. نژدېوالی له کائناتي ارزښتونو سره د انساني شعور همغږي ده او لرېوالی د وجود له الهي نظام څخه د شعور بېلتون دی. په دې توګه، توحید یوازې د عقیدې تکرار نه، بلکې په فرد او ټولنه کې د الهي ارزښتونو عملي کول دي.

**پنځم: له تنزیه څخه تر تجلا پورې**

قرآن د مطلق تنزیه (لیس کمثله شيء) او تلپاتې تجلا (هو الأول والآخر والظاهر والباطن) ترمنځ تعادل ساتي. الله د عقل په حدودو کې نه راځي، خو د مخلوقاتو په نښو کې لیدل کېږي. هر عدل د هغه د عدل نښه ده، هر رحمت د هغه له رحمته او هر شعور د هغه له نوره دی. هغه غیب دی چې نه لیدل کېږي، او حق دی چې نه غایب کېږي.

**شپږم: پر الله ایمان؛ د حق له نظام سره پیوستون**

﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾

ایمان په قرآن کې "فعل" (کړنه) ده، نه یوازې "قول" (خبره). ایمان د عدل او احسان له لارې له الله سره پیوستون دی. څوک چې په کائناتو او ټولنه کې د الله له سننو سره سم عمل کوي، هغه مومن دی — که څه هم د هغه نوم په ژبه وانخلي. څوک چې د دغو قوانینو مخالفت کوي، هغه له الله جلا دی — که څه هم د دین بیرغ یې پورته کړی وي. ایمان یو داسې شعور دی چې د وجود له نظام سره په همغږۍ چلند بدلیږي.

**اووم: الحاد – د نوم انکار نه، بلکې له الله جلاوالی**

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا﴾ (فصلت ٤٠)

﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ﴾ (الحشر ١٩)

الحاد په قرآن کې یوازې عقلي انکار نه دی، بلکې له ارزښتي استقامت څخه یو رفتاري انحراف دی. چا چې الله هېر کړ، د هغه نظام یې هېر کړ او چا چې د هغه نظام هېر کړ، له خپل ځان څخه پرې شو، داخلي تعادل یې له لاسه ورکړ او د خپل شعور له مرکزه بې لارې شو. نو الحاد په چلند کې د الله هېرول دي، نه په ژبه کې؛ دا په کائناتو کې د هغه له عدل او سننو پرته ژوند کول دي.

**اتم: الحاد د یوې معاصرې تمدني پدیدې په توګه**

عصري الحاد د الله شتون نه ردوي، بلکې هغه د شعور او چلند له نظامه باسي. دا هغه تمدن دی چې له حکمت پرته یې ساینس او له وجدان پرته یې ځواک جوړ کړی. کله چې "هوا او هوس" معبود وګرځي، لکه څنګه چې فرمايي: ﴿أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ﴾ (الجاثية ٢٣)، نو د الحاد جوهر

تحقق مومي — يانې د خپل ځان عبادت او له لوړو ارزښتونو د شعور جلاوالی. دا هغه عملي الحاد دی چې د پرمختګ په نوم انسان ویجاړوي او د مطلقې ازادۍ په نوم کائنات پاشي.

**نهم: د درواغجن ایمان او خاموش الحاد ترمنځ**

درواغجن ایمان هغه دی چې د الله په اړه خبرې کوي خو د هغه پر قانون نه ځي. خاموش الحاد هغه دی چې د الله په ارزښتونو ژوند کوي خو د هغه نوم نه اخلي. په قرآن کې تله "شعار" نه، بلکې هغه "فعل" دی چې د الله له سننو سره همغږی وي. څوک چې په عدل او احسان عمل کوي، هغه د الله په حضور کې دی او څوک چې ظلم و فساد کوي، هغه په الحاد کې دی، که څه هم لمونځ وکړي، روژه ونیسي او کلمه ووایي. ایمان شعور دی، نه یوازې مراسم.

**لسم: الحاد د بصیرت د تعطیل په توګه**

﴿لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا﴾ (الأعراف ۱۷۹)

زړه په قرآن کې یوازې غړی نه، بلکې د اخلاقي شعور مرکز دی. الحاد د دغه مرکز فلج کېدل دي، ترڅو انسان یوازې ظواهر ووینې خو مانا یې درک نه کړي، علم ولري خو په حکمت یې پوه نشي او ځواک ولري خو له رحمته خالي وي. الحاد دلته "ارزښتي ړندوالی" دی، چې په کائناتو کې مانا نه ویني؛ دا د علم په حضور کې د بصیرت مړینه ده.

**پایله: الله د حضور او انفصال ترمنځ**

الله په قرآن کې کوم بهرنی موجود نه دی چې ثبوت یا انکار یې وشي، بلکې یو کائناتي او ارزښتي نظام دی چې په وجود او شعور کې بهېږي. څوک چې ورسره وصل شي، له نور (رڼا) سره ژوند کوي او څوک چې ترې جلا شي، په تیاره کې ډوبېږي — د دین بیرغ یې په لاس کې وي، که د الحاد. الله هغه "حق" دی چې ټول قوانین پرې ولاړ دي او هغه نور دی چې کائنات له وجدان سره تړي. چا چې هغه هېر کړ، خپل ځان یې هېر کړ او چا چې هغه وپېژانده، خپل واقعي ځان یې بیا وموند.

﴿اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ (النور ۳۵)

﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ (البقرة ۱۱۵)

# یوازې د الله ذکر

## ﴿وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحۡدَهُ﴾: د زړه له کرکې د شعور تر ازادۍ پورې – د ذکر د قانون په اړه یو وجودي لوست.

دا مقاله د الله تعالی د دې قول په اړه یو وجودي-تحلیلي لوست وړاندې کوي:

﴿وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ﴾ (الزمر: ۴۵).

دا مقاله "ذکر" یوازې د ټکو تکرار نه، بلکې پر الهي ارزښتونو باندې د التزام په توګه پېژني؛ څو روښانه کړي چې د زړه کرکه د نوم ردول نه دي، بلکې د هغې ازادۍ او مسؤلیت د پایلو پر وړاندې مقاومت دی چې توحید یې پر انسان لازموي. همدارنګه دا کرکه د افعالو د پایلو پر قانون (مکافات او مجازات) باندې د ایمان له نشتوالي سره تړي او د موروثي افکارو لور ته د میلان پدیده د یوې داسې "معرفتي ارامتیا" په توګه تحلیلوي چې "د ګلې سلوك" تولیدوي.

### سریزه: له تلاوته تر شعوره

ډېر ځله په عامه دیني پوهاوي کې "د الله ذکر" یوازې په لفظي تکرار کې رالنډېږي، په داسې حال کې چې قرآن کریم هغه د یو بشپړ وجودي فعل په توګه وړاندې کوي. ذکر یوازې یو غږ نه دی چې تلاوت شي، بلکې د ژوند یو داسې میتود دی چې باید فعال شي. له همدې ځایه، د الله د ذکر پر مهال د زړه غبرګون د ایمان د حقیقت معلوملو لپاره یو ښکاره تله ګرځي، نه د هغه د لفظي کچې لپاره.

### لومړی: ژبنی تحلیل – د "اشمأزت" مانا

"اشمأزت" کلمه په خپل ژبني جوړښت کې دې ټکو ته اشاره کوي: دننني انقباض، ناڅرګنده کرکه او وجداني تنګسه.

دا یو داسې حالت دی چې د کوم ښکاره فکري دریځ استازیتوب نه کوي، بلکې د یوه ژور رواني غبرګون ښکارندویي کوي چې تر ظاهري وینا لاندې پټ حقایق رابرسېره کوي.

**دویم: "د الله ذکر" – پر ارزښتونو التزام، نه لفظي تکرار**

په دې لوستنه کې "د الله ذکر" په کتاب کې د راغلو الهي ارزښتونو په مانا اخیستل کېږي؛ یانې د عدالت په اړه د خبرو پر ځای د هغه پلي کول، د رښتینولۍ پر ځای د هغې عملي کول، او تر ټولو مهمه دا چې د مسؤلیت منل. له همدې امله، د الله ذکر ویل نه دي... بلکې په سلوک او شعور کې بدلون راوستل دي.

**دریم: "وحده" – د بدیلو مرجعیتونو له منځه وړل**

یوازې (وحده) ته د ذکر محدودول یو پرېکنده مفهوم لري چې هغه د ناخېړل شویو فکري واسطو ردول او د ړندې پیروۍ له بندیزونو څخه د انسان خلاصول دي. دا د شعور لوری نېغ په نېغه د ارزښتونو د سرچینې خوا ته اړوي.

دلته توحید، تر عقیدوي اعلان وړاندې، یو معرفتي ازادي رامنځته کوي.

**څلورم: "د هغو ذکر چې له ده پرته دي" – د موروثي ارامتیا**

په مقابل کې:

﴿وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ﴾

هغو بدیلو نظامونو ته اشاره کوي چې په کیسو، روایاتو، عنعنو، متراکمو نقلیاتو او هغو دودونو کې راڅرګندېږي چې په یقین بدل شوي دي.

دا نظامونه انسان ته چمتو ځوابونه، یو ډول هوسا جمعي تړاو او د پلټنې له ستړیا څخه خلاصون ورکوي؛ چې ورته (Comfort Zone) یا "د ارامتیا سیمه" ویل کېږي.

له همدې امله دوی پرې خوشحاله کېږي... ځکه دا هغوی اراموي خو ازادوي یې نه.

**پنځم: پر اخرت ایمان – د افعالو د پایلو قانون**

ایت دا کرکه پر اخرت باندې د ایمان له نشتوالي سره تړي:

﴿ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ﴾

په دې متن کې اخرت د افعالو د پایلو او د هغو د تداوم د قانون په توګه پېژندل کېږي؛ یانې: هر فعل یو اثر لري، هر سلوک یوه پایله لري او هر انحراف یوه بیع لري.

څوک چې پر دې قانون ایمان نه لري، هغه موقتي ارامتیا ته لومړیتوب ورکوي، له حساب کتابه تښتي او له هرې هغې وینا څخه کرکه کوي چې هغه بېرته له خپلو پایلو سره تړي.

**شپږم: ګله د شعور د بدیل په توګه**

له دې څخه هغه څه رامنځته کېږي چې "د ګلې سلوک" ورته ویل کېږي. دا یو داسې بېلګـه ده چې پر لاندې ټکو ولاړه ده:

* د تدبر پر ځای یوازې اورېدل.
* د پوهېدو پر ځای پیروي کول.
* د حقیقت پر ځای په ډله کې شاملېدل.

دا سلوک د فکر کولو بار کموي او د امنیت احساس ورکوي او لویه غمجنه برخه یې دا ده چې د ډلې په واسطه خپله تېروتنه توجیه کوي.

له همدې امله، خوشحالي د حق دلیل نه دی... بلکې د ارامتیا نښه ده.

**اووم: زړونه ولې "تنګېږي"؟ – د مسؤلیت دروندوالی**

که د الله ذکر په دې مانا وي چې:

* پرله پسې بیا کتنه (مراجعه).
* دوامداره سمون.
* پر سختو ارزښتونو التزام.

نو خامخا دا پر هغه چا دروند تمامېږي چې نه غواړي د دې کارونو پایلې ومني.

دلته دا تنګسه یا کرکه په اصل کې:

* له ازادۍ څخه تېښته ده.
* له مسؤلیته فرار دی.
* د بدلون پر وړاندې یو دننی مقاومت دی.

په داسې حال کې چې د پایلو پر قانون مؤمن کس:

* دا دروندوالی یو ضرورت بولي.
* او پوهېږي چې دا ستړیا د همغږۍ او سمون لاره ده.

**اتم: معاصره پلي کونه – د هویت په توګه دین او د میتود په توګه دین**

زموږ په معاصر واقعیت کې، دین د یـو جمعـي هویـت پـه توګـه منـل کېـږي، خـو د یـو ازادۍ بښونکي او تنقیدي میتود په توګه ردېږي.

ځکه خو موږ د شعارونو لپاره جوش او جذبه ګورو، خو له ارزښتونو څخه کرکه او تېښته.

**پایله: زړه د حقیقت تله ده**

دا ایت څرګندوي چې زړه د ایمان د اندازه کولو ربښتینې اله ده؛ نو که یوازې د الله ذکر وشو:

* او زړه ډاډه شو ← بیا دا یو ډول همغږي ده.

* یا زړه تنګ شو ← بس په دننني جوړښت کې یو خلل شتون لري.

له همدې امله:

کله چې یوازې د الله ذکر درونډ درته تمام شو... نو پوه شه چې په دننه کې دې لا هم د حقیقت په پرتله د یوې اسانې لارې لټون روان دی.

دا د قرآني متن یو تدبري-وجودي لوست و، چې د معاصر شعور په رڼا کې د هغه د مفـاهیمو د پوهېدو هڅه کوي.

والله أعلم